# سراج المتعلم

پښتوشرح د

# تعلیم المتعلم

لیکوال

الشیخ الزرنوجی رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احایث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| تمام فنون | | |

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

ټول حقوق محفوظ دي

**دكتاب نوم:** سراج المتعلم پښتوشرح د تعليم المتعلم

**ليكوال:** الشيخ الزر نوجي رحمه الله

**ژباړه:** مولوی دلاور او مولوی ابراهيم مدظلهم

**كمپوزر:** مولوی ابراهيم

**اهتمام:** مولانا سيد محمد پروانی

**صفحات:** ۱۷۶

**دچاپ كال:** اگست ۲۰۱۵ء بمطابق ۱۴۳۶هـ


ناشر

جديد مكتبه رشيديه

قصه خوانی بازار محله جنگی پښور 091-2580074

د كتاب ترلاسه كولو ځايونه

(۱) پشاور (۲) اكوړه خټك (۳) كوټه (۴) پروان (۵) كندوز (۶) غزنی (۷) كابل (۷) جلال آباد (۸) قندهار (۹) بغلان (۱۰) لوګر (۱۱) خوست




فهرست

| مضمون | صفحه |
| --- | --- |
| وبعد فلما رايت كثيرا من | ۸ |
| **۱ فصل فی ماهية العلم والفقه وفضله** | **۱۳** |
| قيل لمحمد ابن الحسن الا تصنف كتابا فی | ۱۳ |
| وشرف العلم لا يخفی علی احد اذ هو مختص | ۱۹ |
| كما قيل لمحمد بن الحسن ابن عبد الله | ۱۹ |
| وكذالك فی سائر الاخلاق نحو | ۲۳ |
| وقد قيل ان علم ما يقع علی نفسه | ۲۵ |
| اللهم الا اذا تعلم من النجوم | ۲۷ |
| **۲ فصل فی النية فی حال التعلم** | **۳۰** |
| ثم لابد له من النية فی زمان | ۳۱ |
| قال محمد بن الحسن لو كان الناس | ۳۳ |
| وينبغی لاهل العلم ان لا يذل نفسه | ۳۸ |
| **۳ فصل فی اختيار العلم والاستاذ والشريك والثبات عليه** | **۴۲** |
| وهكذا ينبغی ان يشاور فی كل امر فان | ۴۶ |
| واعلم بأن الصبر والثبات اصل كبير فی | ۴۹ |
| واما اختيار الشريك فينبغی ان يختار | ۵۳ |
| **۴ فصل فی تعظيم العلم واهله** | **۵۷** |
| ومن توقير المعلم ان لا يمشی امامه | ۶۰ |
| وكان الامام الاجل شمس الائمة الحلوانی | ۶۳ |
| ومن تعظيم العلم تعظيم الكتاب | ۶۵ |
| ومن تعظيم الواجب ان يجود كتابة الكتاب | ۶۷ |
| وكان الشيخ الامام الاجل | ۷۰ |
| **۵ فصل فی الجد والمواظبة والهمة** | **۷۳** |
| وقيل | ۷۹ |
| ولابد لطالب العلم من الهمة | ۸۳ |
| قال الشيخ الامام ابو نصر الصفار الانصاری | ۸۸ |


Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

وانشدنا الشيخ الاستاذ شيخ الاسلام ..........

وكفى بلذة العلم والفقه والفهم .......... ۹۳

فصل فى بداية السبق وقدره وترتيبه ۱۰۲

.......... ۹۸

وكان الشيخ الامام الاستاذ شرف ..........

ولابد لطالب العلم من المذاكرة .......... ۱۰۳

وينبغى لطالب العلم ان يكون .......... ۱۰۹

وقيل لابن عباس بم ادركت .......... ۱۱۱

ومن كان له مال فلا يبخل وينبغى .......... ۱۱۵

وينبغى لطالب العلم ان .......... ۱۲۰

.......... ۱۲۲

فصل فى التوكل ۱۲۶

ولابد لطالب العلم من تقليل العلائق .......... ۱۲۹

فصل فى وقت التحصيل ۱۳۲

فصل فى الشفقة والنصيحة ۱۳۳

قيل عليك ان تشتغل بمصالح .......... ۱۲۷

فصل فى الاستفادة ۱۳۰

ووصى الصدر الشهيد حسام الدين .......... ۱۳۱

عن يحى بن معاذ الرازى الليل .......... ۱۳۲

فصل فى الورع فى حالة التعلم ۱۴

وحكى ان رجلين خرجا فى طلب العلم .......... ۱۳۸

فصل فيما يورث الحفظ وفيما يورث النسيان ۱۵۲

واما ما يورث النسيان فالمعاصى .......... ۱۵۵

فصل فيما يجلب الرزق وما يمنع الرزق وما يزيد فى العمر وما ينقص ۱۵۹

وكذا الكتابة بقلم معقود والامتشاط .......... ۱۶۳

ومما يزيد فى الرزق ان يقول كل .......... ۱۶۶

ومما يزيد فى العمر ترك الاذى وتوقير الشيوخ .......... ۱۷۳




بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ فَضَّلَ بَنِىْ اٰدَمَ بِالْعِلْمِ وَالْعَمَلِ عَلٰى جَمِيْعِ الْعَالَمِ وَالصَّلٰوةُ عَلٰى سَيِّدِ الْعَرَبِ وَالْعَجَمِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ يَنَابِيْعَ الْعُلُوْمِ وَالْحِكَمِ

**ترجمه**: ټول صفتونه دالوهیت هغه ذات لره دی چه انسان یی دعلم اوعمل دوجې نه په ټول مخلوق باندې غوره کړې دې اودرووددوی په محمد ﷺ باندی چه دعربواوعجموسرداردی اودرسول الله ﷺ په ال اوملګرودی سلام اودرودوی چه دعلمونواوحکمتونوسرچینی دی

**تشریح** مصنف فرمایی ﴿الحمدلله﴾ حمد هغه ستاینی اوصفت ته وایی چه په ښواواختیاری صفتونوسره دتعظیم لپاره وشی اوحمدیواځې په ژبه باندی اداکیږی اوشکرپه مقابله دنعمت کی په ژبه په اندامونوپه افعالوسره اداء کیږی نوددوی په مابین کی عموم خصوص من وجه دی اوپه قید داختیاری سره ورنه مدحه خارجه شوه خکه مدحه دوصف اختیاریه ژنه غیرپه وصف غیراختیاری ژکی هم موجودیږی لکه خلک وایی **مدحت زیداعلی حسنه** اوحالانکه حسن دزیدپه اختیارکی ندی اودحمداومدحې په مابین کی ترادف نشته بلکه په اعتبارداشتقاق سره پکی ډیرفرق دی البته په معناکی یی پوره مناسبت دی لکه څرنګه چه دنصرت اوتائیدپه معناګانوکی مناسبت دی اوترادف پکی نشته دی خکه دنصرت مرادف اعانت(کومک)دی اودتائیدمرادف قوت دی - فتدبر اوالحمدبنابرخبریت مرفوع ده اولله ورته خبردی اوپه اصل کی حمداًیعنی منصوب دی خکه دکوموصدرونوافعال چه دشکردوجی نه مضمرشوی وی اومستعمل شوی نه وی نوهغه مصدرونه منصوب وی خودلته یی رفعه په نصب باندی ددی وجی نه غوره کړه چه دیکی اشاره ده دیته چه الله ته حمدذاتاًثابت دی اوداکوم مثبت پکی ندی ثابت کړی اوحمددائمی صفت دی اوحادث اونوی صفت ندی لکه څنګه چه دنصب نه معلومیدو ﴿لله﴾ الله دهغه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

ذات نوم دی چه دهغه وجوب واجب اوضروری دی اودالوهیت تول
صفتونه په هغه کی راجمعه دی اوخلیل اوابن کیسان اوابوحیفه
رحمه الله وایی چه لفظ دالله غیرمشتق دی اوهمداصحیح مذهب دی
اونورمذهبونه په اوږدوکتابونوکی بیان شوی دی هلته یی وګوره
**(الذی فضل بنی آدم)** څکه الله جل جلاله ددوی په حق کی فرمایی **وفضلناهم**
**علی کثیرممن خلقنا تفضیلا** اوادم په وزن دفاعل سره یواعجمی نوم دی
اودادمة باالفتح نه مشتق دی په معنی دتورسره دی اویاداديم
الارض نه مشتق دی لکه رسول الله ﷺ فرمایی **ان الله قبض قبضة من**
**جمیع الارض سهلها وحزنها فخلق منها ادم** نوددی وجی نه دادم علیه السلام
داولادرنګونه مختلف دی اویادادامة نه مشتق دی امة الفت
اومحبت ته وایی لکه څنګه چه ادریس ددرس نه مشتق دی
اویعقوب دعقب نه مشتق دی اوابلیس دابلاس نه مشتق دی **(باالعلم**
**والعمل علی جمیع العالم)** بعضوعلماؤویلی دی چه عالم دهغه مخلوق
نوم دی چه علم لری لکه ملائکی اوانسانان اوپیریان اومتکلمین
وایی چه عالم دهغه موجودمخلوق نوم دی چه په هغی باندی خالق
معلومیږی برابره خبره ده که دعلم واله مخلوق وی اوکه غیردعلم
واله مخلوق وی لکه څنګه چه ټاپه اومهرپه هغه شی دلالت کوی
دکوم شی لپاره چه ټاپه اومهرلګیدلی وی لکه خلک وایی عالم
الملک عالم الجن وعالم الافلاک وغیره وغیره اوعالم دکل ماسوی
الله لپاره پدی اعتبارسره نوم نه دی چه من حیث المجموع تول
مخلوق ته عالم وایی اوبعضوته یی نه وایی بلکه هریوجنس ته
جداجداهم عالم وایی اومخلوق ته څکه عالم وایی چه دادالله جل جلاله په
وجودباندی نښی اوعلامی دی عالم په اصل کی علم دی الف پکی
داشباع لپاره زیات شوی دی

وهب ابن منبه وایی چه الله تعالی اتلس زره عالمه پیداکړی دی چه
دنیادهغی نه یوعالم دی **(والصلوة)** صلوت دالله جل جلاله له طرفه رحمت
اومغفرت ته وایی اودبنده له طرفه دعاء ته وایی اودملائکوله طرفه



استغفارته وایی نوکله چه داسی وویل شی چه الله ﷻ په فلانی باندی
صلوة وایی نومطلب به یی داوی چه الله په ده باندی رحم کوی
اومغفرت ورته کوی اوکله چه وویل شی چه فلانی په فلانی باندی
صلوة وایی نومراددورنه داوی چه دعاورته کوی اوکله چه وویل شی
چه ملائکی په فلانی صلوة وایی نومرادبه ورنه داوی چه مغفرت
ورته غواړی **(محمد ﷺ)** باربارستایل شوی ته وایی لکه مکرم چه
بارباراکرام ګړل شوی ته وایی نونبی ﷺ هم په دنیاکی
محموداوستایل شوی دی څکه چه دده دعلم اوحکمتونونه تول
مخلوق فائده اخستی ده اوپه اخرت کی به هم دشفاعت دوجی نه
محمودوی کذافی شرح المقدمه

اوپه صحاح کی دی چه تحمیددحمدنه ډیربلیغ دی
اومحمدهغه چاته وایی چه دهغه ښه خویونه اوخصلتونه ډیروی
اوپدیکی دی ته اشاره ده چه کله رسول الله ﷺ پیداشونوموربی بی
امینی ده ته دمحمدنوم دالله جل جلاله په اشاری سره کیخودولکه نبی ﷺ
فرمایی **اسمی محمدالذی سمانی به اهلی** یعنی څمانوم هغه محمددی چه
ماته خپلی کورنی ایخی دی اودرسول الله ﷺ غلام ثوبان وایی چه
کله بی بی امنه په رسول الله ﷺ حامله شوه نوزه ورته رغلم اوورته
می وویل چه ته ددی امت په سردارباندی حامله شوی یی نوکله چه
څمکی ته راشی نوبیاماته ووایه چه دالله نه ورته پناه وغواړم
محمدنوم ورته کیدم نوکله چه بی بی امینی رسول الله ﷺ
وزیږولونومحمدنوم یی ورته کیخودلو **(سیدالعرب والعجم)** عرب
اوعجم په فتحی اوضمی سره اسم جنس دی اودعربونه غیرنورتول
ته عجم ویل کیږی هغه که هرڅوک اوهری ژبی واله وی اورسول الله
ﷺ دعربواوعجموسرداردی څکه رسول الله ﷺ فرمایی
**اناسیدولدادم ولافخرلی (وعلی اله)** ال په اصل کی اهل دی ددی وجی نه
دال تصغیراهیل راځی ودنسب په اعتبارسره درسول الله ﷺ دعلی
اوعباس اوجعفراوعقیل اوحارث بن عبدالمطلب رضی الله عنهم اولادونه دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اودسبب په اعتبارسره چه هغه دين دی هرمؤمن اوياهرتقوادارمؤمن ال دی خوظاهراًپه اعتباردين سره ورنه ال مراد دی خکه څوک چه دپيغمبراتباع کوی نوهمغه دپيغمبرال دی خکه کله چه الله ﷻ دنوح عليه السلام څوی هلاک کړونوالله ﷻ ته يی اوازوکړوان ابنی من اهلی نوالله ورته وفرمايل انه ليس من اهلک سره ددينه چه دادنوح څوی وؤاودنوح عليه السلام نه پيداشوی ؤلکن دپيغمبراتباع يی نه وه کړی نوالله ﷻ ورته وايی چه دستااهل نه دی ﴿واصحابه﴾اصحاب دصاحب جمعه ده وهغه چاته ويل کيږی چه دنبی اتباع يی کړی وی اودرسول الله دخايسته مخ په ليدومشرف شوی وی ﴿ينابيع﴾ينابيع دينبوع جمعه ده اوداوبوچينی ته وايی ﴿العلوم﴾دااضافت دمشبه به دی مشبه ته اوعلت جامعه يکی دادی چه دواړه خلک ډيرقبلوی اوخوښوی ﴿ والحكم ﴾حکم جمعه دحکمت ده اوديوشی په حقيقت پوهيدلوته حکمت وايی

**وبعدفلمارايت كثيرامن طلاب العلم في زماننايجدون الي العلم ولايصلون ومن منافعه وثمراته يحرمون لماانهم اخطئواطرائقه وتركواشرائطه وكل من اخطاء الطريق ضل فلاينال االمقصودقل اوجل اردت واجبت ان ابين لهم طريق التعليم على مارايت في الكتب وسمعت من اساتذى اولي العلم والحكم رجاءالدعاءلي من الراغبين فيه المخلصين باالفوزوالخلاص في يوم الدين بعدمااستخرت الله تعالى فيه وسميته تعليم المتعلم طريق التعليم وجعلته فصولا**

**ترجمه**:پس دحمداوصلوة نه هرکله چه ماپخپله زمانه کی ډيرطالبان وليدل چه دعلم حاصلولوکوشش کوی اوحالانکه علم ته نه رسيږی ودعلم دفائدواوميوونه محرومه کيږی خکه دوی دعلم دحاصلولولارخطاکړی ده اودعلم شرائط يی پريخی دی اوهرڅوک لارخطاء کړی نوهغه ورکيږی اوخپل مقصودته نه رسيږی که مقصوبی لږوی اوکه ډيروی نوماوغوښتل خوښه می کړه چه دوی ته دتعليم طريقه وښايم کومه طريقه چه ماپه کتابونوکی ليدلی ده اودهغه اوستاذانونه می وريدلی ده چه هغوی دعلم اوحکمت



خاوندان دی اودهغه چانه ددعاء اميدکوم چه دعلم خوښونکی دی اوپه ندنياکی په کاميابی باندی خاص شوی دی اودقيامت په ورځ په نجات باندی خاص شوی دی پس ددينه چه مادالله نه ښکی خيروغوښتلواونوم می ورته تعليم المتعلم يعنی دتعليم طريقه کيخودلوودامی يوڅوفصلونه وګرزولو

**تشريح**:﴿وبعدفلمارايت الى قوله يجدون﴾يجدون په کسری دجيم سره دجدنه ماخوذدی اوکوشش ته وايی اويااجدادنه ماخوذده بياهم کوشش ته وايی لکه عرب ويی جدفی الامريعنی په کی يی کوشش وکړواوهمدارنګه اجدفی الامرهم وايی اوداجمله درايت لپارد دوهم مفعول دی ﴿الى العلم﴾دادولايصون پوری متعلق دی اويصلون دوصول نه مشتق دی رسيدلوته وايی ﴿ومن منافعه وثمراته ﴾. په دواړوکی ضميونه علم ته دراجع دی اويحرمون پوری معلق دی اودعلم فائده اوثمره داده چه په هغی باندی عمل وشی اوپه تعليم سره دعلم مسائل خواره شی ﴿يحرمون ﴾ په کسری دراسره دحسب يحسب باب دی دحرمان نه مشتق دی هرکله چه مصنف دخپلی زمانی دطالبانوحال بيان کړوچه دو دعلم کوشش کوی لکن دعلم مطلب ته نه رسيږی اودعلم دفائدواوثمرونه محروم وی نواوس يی علت بيانوی اووايی ﴿لماانهم اخطئواطرائقه﴾يعنی دعلم دحاصلولولاريی خطاکړی ده ﴿وتركواشرائطه﴾هغه شرائط چه پدی کتاب کی ذکرکيږی ﴿وكل من اخطاء الطريق﴾هغه لارچه مطلوب ته رسيدلی وی ﴿ضل﴾يعنی په ګمراهی کی واقع کيږی ﴿ولاينال المقصودقل اوجل﴾يعنی دامطلوب که لږوی اوکه ډيروی ﴿اردت﴾دادلمالپاره جواب دی ﴿واجبت ان ابين لهم﴾يعنی طالبانوته﴿طريق التعلم على مارايت في الكتب وسمعت﴾داپه رايت باندی عطف دی ﴿من اساتذى اولي العلم والحكم﴾لفظ داولی من غيرلفظه جمعه ده اوداساتذی لپاره صفت دی دهمدی وجی نه مجرورهم دی اواساتذی جمعه داستاذده اويادمتکلم ته يی اضافت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

شوی دی ﴿رجاء﴾دادبین نه حال دی اوپه معنی دراجیاسره دی یعنی زه امیدساتم ﴿الدعاء لی﴾دادرجالپاره مفعول دی ﴿من الراغبین﴾دادرجاء پوری متعلق دی اویاددعانه حال دی اوکائنامحذوف پوری متعلق دی یعنی کائنامن الراغبین ﴿فیه﴾یعنی په علم کی ﴿المخلصین﴾په فتحی دلام سره ﴿بالفوز﴾یعنی په مراداومقصودباندی کامیاب شوی دی ﴿والخلاص فی یوم الدین﴾یعنی په ورځ دقیامت باندی ﴿بعدمااستخرت الله تعالی فیه﴾په بعدکی عامل اردت دی یعنی ماراده وکړه چه طلبانوته دتعلیم طریقه بیان کړم پس دهغی نه چه دالله ﷻ نه می پکی خیروغوښتلو ﴿وسمیته﴾دا په اردت باندی عطف دی اوضمیرپکی کتاب ته راجع دی کوم چه حکماذکرشوؤ ﴿تعلیم المتعلم﴾متعلم دتعلیم لپاره اول مفعول دی اودوهم مفعول یی طریق التعلم دی ﴿وجعلته فصولا﴾چه هغه دیارلس فصلونه دی

**فصل**:: فی ماهیة العلم والفقه وفضله ،فصل فی النیة فی حال التعلم،فصل فی اختیارالعلم والاستاذوالشریك والثبات،فصل فی تعظیم العلم واهله،فصل فی الجدوالمواظبة والهمة،فصل فی بدایة السبق وترتیبه وقدره،فصل فی التوکل،فصل فی وقت التحصیل،فصل فی الشفقة والنصیحة،فصل فی الاستفادة،فصل فی الورع حال التعلم،فصل فیمایورث الحفظ وفیمایورث النسیان ،فصل فیمایجلب الرزق ومایمنعه ومایزید فی العمروماینقص وماتوفیقی الابالله علیه توکلت والیه انیب

**ترجمه**:اول فصل دی په بیان دحقیقت دعلم اوفقه کی اوپه بیان دبهتروالی دعلم کی اودوهم فصل دی په بیان دنیت کی دتعلیم په وخت کی اودریم فصل دی په بیان دغوره کولودعلم اوداستاذاودملګری اوثابت قدمی کی اوڅلورم فصل دی په بیان دتعظیم علم اواهل علموکی پنځم فصل دی په بیان دکوشش اوهمیشه والی اوهمت کی اوشپږم فصل دی په بیان دشروع اواندازی اوپه ترتیب دسبق کی اوووم فصل دی په بیان دتوکل کی اواتم فصل دی په بیان دوخت دحاصلولودعلم کی اونهم فصل دی



په بیان دمشقت اونصیحت کی اولسم فصل دی په بیان دفائدی اخستلوکی اویوولسم فصل دی په بیان دپرهیزګاری کی دتعلیم په حالت کی اودولسم فصل دی په بیان دهغه شی کی چه حفظ راولی یعنی حافظه ورسره قوی کیږی اوپه بیان دهغه شی کی چه هیره راولی اودیارلسم فصل دی په بیان دهغه شی کی چه رزق جلب کوی اوهغه شی چه رزق منعه کوی اوپه بیان دهغه شی کی چه عمرزیاتوی اوهغه شی چه عمرکموی اودالله نه توفیق غواړم اوپه هغه باندی بروسه کوم اوالله ته رجوع کوم

**تشریح**:﴿فصل﴾یعنی ددیارلس فصلونونه اول فصل ﴿فی ماهیة العلم الی اخره فصل فی بدایة السبق﴾په فتحی دباسره ﴿وقدره﴾یعنی اندازه اومقداردسبق ﴿وترتیبه﴾یعنی دسبق دلوستلوترتیب ﴿فصل فی التوکل الی اخره﴾

## فصل: فی ماهیة العلم والفقه وفضله

قال رسول الله ﷺ طلب العلم فریضة علی کل مسلم ومسلمة اعلم انه لایفترض علی کل مسلم طلب کل علم وانمایفترض علیه طلب علم الحال کمایقال افضل العلم علم الحال وافضل العمل حفظ الحال ویفترض علی المسلم طلب مایقع له فی حاله فی ای حال کان فانه لابدله من الصلوة فیفترض علیه علم مایقع له فی صلوته بقدرمایؤدی به فرض الصلوة ویجب علیه بقدرمایؤدی به الواجب لان مایتوسل به الی اقامة الفرض یکون فرضاً ومایتوسل به الی اقامة الواجب یکون واجباًوکذالك فی الصوموالزکوةان کان له مال والحج اموجب علیه وکذالك ففی البیوع ان کان یتجر

**ترجمه**:فصل دی په بیان دماهیت اوحقیقت دعلم اوفقه کی اوپه بیان دبهتروالی ددی دواړوکی رسول الله ﷺ وایی چه طلب دعلم فرض دی په هرمسلمان نراوښځه باندی اوپدی پوه شه چه په هرمسلمان باندی دهرعلم طلب فرض ندی بلکه پده باندی دهغه علم طلب فرض دی کوم چه ضروری وی لکه علماء وایي چه هغه علم غوره دی کوم چه ضروری وی اوهغه عمل غوره دی چه دهغی ساتنه وشی اوضائع نشی نوپه مسلمان باندی دهغه شی دعلم طلب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

فرض دی چه ده ته په ژوند کی واقع کیږے هغه که هرحالت وی مثلا
مسلمان به خامخالمونځ کوی نویده باندی دهغه شی علم فرض دی
چه ده ته په لمانځه کی واقع کیږی په هغه اندازه باندی چه داپکی
فرض لمونځ اداء کړی اوپه مسلمان باندی هغه اندزه علم واجبیږی
په کوم سره چه واجب اداکیږی ځکه کوم شی چه دفرض
داداکیدولپاره وسیله وی نودغه شی هم فرض دی اوکوم شی چه
دواجبوداداء کولولپاره وسیله وی نوداهم واجب دی اوهمدارنګه په
روژه اوپه زکوة کی هم علم فرض دی کچرته مالداره وی اودحج علم
همورباندی فرض دی کچرته حج ورباندی واجب شوی وی
اوهمدارنګه په اخستلواوخرڅولوکی هم ورباندی علم واجب دی
کچرته تجارت کوی

**تشریح**: ﴿فصل فی ماهیة العلم﴾ یعنی دعلم په حقیقت کی ﴿والفقه
وفضله﴾ یعنی دفقهی اودعلم په بهتروالی کی اومصنف په اجمال کی
دعلم ماهیت مخکی کړواوپه تفصیل کی یی دعلم فضیلت مخکی
کړوپدیکی اشاره ده دی خبری ته چه پدی کتاب کی دعلم دفضیلت
بیان مقصوددی ترڅوطالبان دعلم اوفقه په حاصلولوکی تیزشی اوپه
دوهم قدم کی دعلم حقیقت اوماهیت بیانوی ترڅوطلب دمجهول
مطلق رانشی نومقصودی شی مخکی کوی اووایی ﴿قال رسول الله ﷺ
طلب العلم فریضة علی کل مسلم ومسلمة﴾ مصنف دتبرک دوجی نه شروع په
حدیث شریف باندی وکړه مطلب دحدیث دادی چه په هرمسلمان
سړی اوښځه باندی دعلم طلب فرض عین دی مثلا الله جل جلاله
وحدانیت سره پیژندل اودالله جل جلاله صفات پیژندل اودرسول الله ﷺ
صداقت پیژندل ځکه پدی شیانوکی تقلیدجائزنه دی لکه
الله جل جلاله فرمایی فاعلم انه لااله الاالله: همدارنګه فرمایی: سنریهم ایاتنا فی الافاق
وفی انفسهم حتی یتبین لهم انه الحق: یالکه دلمانځه اوادواسه علم په
هرمسلمان باندی فرض دی که هغه فقیروی اوکه غنی وی یالکه
دزکوة اوحج علم په هغه مسلمان باندی فرض دی چه داورباندی



واجب شوی وی اودومره علم چه سړی داجتهاداوفتوادرجی ته
ورسیږی نودافرض عین ندی بلکه فرض کفایی دی که په ښارکی
یی یوکس وکړی نودټولوغاړه خلاصیږی اوکوم حادثات اوواقعات
چه دوی ته پیښیږی نودده تقلیدبه پکی کوی اوکه په ټول ښارکی
داسی عالم وی نوبیاټول ګنهګاردی ﴿اعلم انه﴾ داضمیرشان دی
﴿لایفترض الی قوله علم الحال﴾ چه هغه ددین داصولواودفقه علم دی
اودلته دحال نه مرادهغه شی دی چه انسان ته عارض کیږی لکه
کفرایمان روژه لمونځ وغیره نوزحالتونه اوهغه حال ورنه مرادنه دی
کوم چه دمستقبل مقابل دی ﴿کمایقال افضل الی قوله حفظ الحال﴾ یعنی چه
عمل دفساداوضائع کیدونه وساتی ﴿ویفترض علی المسلم طلب علم مایقع
له﴾ یعنی مسلمان ته ﴿فی حاله﴾ مثلادلمانځه حالت کی ورته
مفسدات عارض کیږی ﴿فی ای حال کان﴾ یعنی که په مرض کی وی
اوکه په صحت کی وی که په سفرکی وی اوکه په حضرکی وی ﴿فانه
لابدالی قوله فی صلوته﴾ مثلا شرائط اوارکان ﴿بقدرمایؤدی به فرض
الصلوة﴾ مثلا قرات په لمانځه کی فرض دی نودومره قرانت یادول
فرض دی چه لمونځ ورباندی اداء شی چه هغه یواوږدایت دی
اویادری واړه ایتونه دی ﴿ویجب علیه﴾ یعنی په مسلمان باندی ﴿علی
مایقع له﴾ یعنی په لمانځه کی ﴿بقدرمایودی به الواجب﴾ مثلا په لمانځه
کی فاتحی سره سورت یوځای کول واجب دی نوددی علم اویادول
هم واجب دی ﴿لان مایتوسل به الی اقامة الفرض یکون فرضاً﴾ مثلا اودس
کول دلمانځه لپاره وسله ده نواودس کول هم فرض دی ﴿ومایتوسل الی
قوله واجباً﴾ نودفرضواوواجبوداداء کولولپاره علم سبب دی نوددی
دواړوعلم هم فرض اوواجب شولو ﴿وکذافی الصوم والزکوة ان کان له
مال﴾ مال دزکوة لپاره شرط اوقیددی ﴿والحج ان وجب علیه﴾ یعنی لکه
څنګه چه داشیان په مسلمان باندی فرض دی نوهمدارنګه ددی علم
هم ورباندی فرض دی ﴿وکذالك﴾ مصنف دکذالک لفظ راواس
کړوپدیکی مغایرت ته اشاره ده ځکه کوم شیان چه مخکی ذکرشول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

هغه دعباداتونه وژاوکوم شیان چه روسته ذکرکیږی هغه دمعاملاتونه دی ﴿فی البیوع ان کان یتجر﴾ یتجر د تجارت نه دی یعنی په هرمسلمان باندی دهغه شی علم فرض دی چه دد ته په شرعی معاملاتوکی عارض اوپیښیږی ترڅودسودنه دشبهاتونه اودفساد نه ځان وساتی مصنف د دی معنی تائیدپدی قول سره کوی

**قیل لمحمدابن الحسن الا تصنف کتاباًفی الزهد؟قال صنفت کتاباًفی البیوع یعنی الزاهدهومن یتحرزعن الشبهات والمکروهات فی التجارات وکذالك فی سائرالمعاملات والحرف وکل من اشتغل بشی منهایفترض علیه علم التحرزعن الحرام فیه وکذالك یفترض علیه علم احوال القلب من التوکل والانابة والخشیة والرضاءفانه واقع فی جمیع الاحوال**

**ترجمه**: محمدابن الحسن رحمہ اللہ ته وویل شول چه ولی دزهدپه باره کی یوکتاب نه جوړوی نومحمدابن حسن رحمہ اللہ ورته وویل چه ماپه احوالودبیوعوکی کتاب دزهدتصنیف کړی دی یعنی زاهدهغه څوک دی چه په تجارت کولوکی ځان دمکروهاتواوشبهاتونه ساتی همدارنګه په ټولومعاملواوکسبونوکی ځان دمکروهاتواوشبهاتونه ساتی اوهرڅوک چه پدی کی مشغوله شی نوپدیکی دحرامونه دځان ساتلوعلمورباندی فرض کیږی اوهمدارنګه دزړه داحوالوعلم هم ورباندی فرض کیږی چه هغه په الله عزوجل باندی بروسه کول دی اوالله تعالیٰ ته رجوع کول دی اودالله عزوجل نه ډارکول دی اودالله په فیصلوراضی کیدل دی ځکه دشیان په ټولوحالتونو کی واقع کیږی اوانسان ته پیښیږی

**تشریح**: قیل لمحمدبن الحسن الا تصنف کتاباًفی الزهد) الا په تشدیدسره کلمه دتحضیض ده کله چه په ماضی باندی داخله شی نومعنی یی توبیخ اوملامتیاوی دفعلپه پریښودلو باندی اوکله چه په فعل مضارع داخله شی نوبیایی معنی تیزی ورکول وی په کولودکارباندی اودلته په معنی دامرسره دی یعنی محمدابن حسن



ته بعضی شاګردانوویل چه ته ولی دزهدپه باره کی یوکتاب نه لیکی اومحمدبن حسن یی پدی تیزولوترڅوکتاب ولیکی

اوپه بعضونسخوکی داسی راغلی لم لاتصنف کتاباًنوداًاستفهام دی چه ولی دزهدپه باره کی کتاب نه لیکی اودنه لیکلوعلت څه دی ﴿قال صنفت کتاباًفی البیوع﴾ یعنی په احوالودبیوعوکی چه هغه صحت اوفساددبیعی دی همدارنګه بیان دهغه طریقودی چه په هغی سره سړی ځان دشبهاتواومکروهاتونه ساتی اوپه بعضونسخوکی په اضافت سره راغلی دی یعنی صنفت کتاب البیوع :یعنی داتفسیر:مصنف لخوانه شوی دی ځکه ظاهرادمحمدابن حسن قول دسوال لپاره جواب نشی کیدی ځکه دزهداحوال دبیعی داحوالونه جدااوغیردی ځکه زهددیته وایی چه انسان دنیااوخواهشات پریږدی اودحلالودبیعی ددی سره هیڅ مناسبت نشته نومصنف پخپله تفسیروکړواوویی ویل ﴿یعنی الزهدمن یتحرز﴾ چه ځان ساتی ﴿عن الشبهات﴾ شبهات جمعه دشبهة ده یعنی دهغه شیانونه ځان ساتی چه دهغی په حلالوالی کی شبهه وی ﴿والمکروهات﴾ یعنی دهغه شیانونه ځان ساتی چه دهغی کول جائزوی لکن مکروه هم وی ﴿فی التجارات﴾ دادیتحرزلپاره ظرف دی یعنی دشبهاتونه ځان ساتلوکی هغه زهدموجوددی چه هغه ددنیااودخواهش پریښودل دی نوپه بیوعاتوکی کتاب لیکل داسی دی لکه په زهدکی یی چه کتاب لیکلی وی ﴿وکذالك یجب﴾ یعنی دشبهاتونه ځان ساتل ﴿فی سائرالمعاملات والحرف﴾ حرف جمعه دحرفة اوکسبونوته وایی ﴿وکل مااشتغل بشئ منها﴾ یعنی ددغه مذکوره شیانونه ﴿یفترض علیه علم التحرزعن الحرام فیه﴾ یعنی پدی شی کی ﴿وکذالك﴾ مصنف دمغایرت لپاره لفظ دکذالک واپس کړوځکه مخکی یی عام احوال ذکرکړل اوس دزړه احوال ذکرکوی ﴿یفترض علیه علم احوال القلب من التوکل﴾ توکل عاجزی اوبل چاباندی اعتمادکولوته وایی لکه خلک وایی توکل علی الله یعنی الله ته یی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

کاروسپارلواوپه هغه باندی یی اعتمادوکړو ﴿والانابة﴾انابة الی الله
رجوع کولوته وایی ﴿والخشیة﴾دالله ﷻ نه ډارکولوته خشیت وایی
﴿والرضا﴾دالله ﷻ په فیصلواوحکم باندی ﴿فانه﴾پدی سره مصنف
دعلم دفرضیت لپاره علت ذکرکوی ﴿واقع فی جمیع الاحوال﴾یعنی
داشیان په هرحالت کی موجودوی نوددی علم په هرحالت کی فرض
دی اوکوم شیان چه په هرحالت کی نه موجودیږی بلکه په
بعضوحالتونوکی موجودیږی نودهغی فرضیت همغی حالت پوری
خاص دی اوپه نوروحالتونوکی دهغی علم فرض عین نه دی بلکه
فرض کفایی دی که یوکس یی حاصل کړی نودتبولوغاړه وربانندی
خلاصیږی

وشرف العلم لایخفی علی احداذهومختص باالانسانیة لان جمیع الخصال سوی العلم یشترك فیه الانسان وسائرالحیوانات کالشجاعة والجراة والقوة والجودوالشفقة وغیرهاسوی العلم وبه اظهرالله تعالی فضل آدم علیه السلام علی الملائکة وامرهم باالسجودله وانماشرف العلم لکونه وسیلة الی التقوی التی یستحق بهاالمرء الکرامة عندالله والسعادة الابدیة

**ترجمه** اودعلم شرافت دهیچانه پټ نه دی ځکه علم انسانیت پوری مختص دی ځکه دعلم نه غیرپه ټولوصفتونوکی انسان اونورحیوانات شریک دی لکه شجاعت اوجرات اوقوت اوسخااوشفقت اوهمدارنګه دعلم نه غیرنورصفتونه اودهمدی علم په وجه باندی الله ﷻ ادم علیه السلام په ملائکوباندی غوره کړواوملائکوته یی امروکړوچه آدم ته سجده وکړی اوعلم ددی وجی نه عزتمند دی چه دا دهغه تقوالپاره وسیله ده چه دهغی په وجه سړی دالله ﷻ په نزدباندی دکرامت اودعزت اودهمیشه نیک بختی مستحق جوړیږی

**تشریح:** وشرف العلم لایخفی علی احداذهو﴾یعنی علم﴿مختص باالانسانیة﴾یعنی دانسانیت پوری خاص دی ﴿لان جمیع الخصال سوی العلم الی قوله کالشجاعة﴾دادخصلتونولپاره مثالونه ذکرکوی ﴿والجراة﴾جرات



اوشجاعت مترادف الفاظ دی اودجنګ په وخت کی دزړه سختوالی ته وایی کذافی القاموس ﴿والقوة والجودة﴾پدیکی هم بحث شته چه په تامل سره معلومیږی ﴿والشفقة﴾په فتحی دفاسره ﴿وغیرهاسوی العلم﴾ دعلم ذکرمخکی وشو﴿وبه﴾یعنی په علم سره اوداظهرالله پوری متعلق دی اودتخصیص دوجی نه یی مقدم کړی دی ﴿اظهرالله تعالی فضل آدم علیه السلام علی الملائکة﴾ملائکه په اصل کی ملاک دی اوهمزه پکی زائده ده اودملک جمعه ده لکه شمائل چه دشمال جمعه ده اوتاپکی دتانیث لپاره ده اودملک نه ځکه مشتق دی چه په دواړوکی دقوت اودشدت معنی موجوده ده اویاپکی قلب دی یعنی په الوکة دی اوالوکة رسالی ته وایی اوملائکی هم دالله ﷻ اودبندګانوپه مابین کی واسطه ده :خوددی په حقیقت کی دعلماؤاختلاف دی

اکثره متکلمین وایی چه ملائکه هغه بارک جسدونه دی چه په مختلفوشکلونوباندی خان بنکاره کولی شی ځکه پیغمبرانوپه مختلفوشکلونوباندی لیدلی دی اوحکماءوایی چه ملائکی جواهردی اوپه حقیقت کی دنفوسوناطه ؤنه مخالف دی اودنفوسوناطقه ؤنه په علم اوقوت کی محکم اوقوی وی اودلمړ:شغلوپشان حرکت اوجریان کوی اوداپه دوه قسمه دی یوقسم هغه ملائکی دی چه همیشه دالله ﷻ په پاکی اوتنزیه باندی مشغوله دی لکه الله ﷻ فرمایی یسبحون اللیل والنهار اودوهم قسم هغه ملائکی دی چه داسمانونونه امورځمکی ته راوړی اودلته یی اجراء کوی اودیته مدبرات ملائکی وایی اوبعضی ملائکی په ځمکه کی اوسیږی په ملائکوکی ډیرتفصیل دی چه په اوږدو او مفصلو کتابونوکی ذکرشوی دی اوپه ملائکوباندی دآدم دفضیلت ذکرمفسرینوددی ایت لاندی کړی دی وعلم ادم الاسماء کلها: ﴿وامرهم باالسجودله﴾سجده په لغت کی خضوع اوعاجزی ته وایی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اوپه اصطلاح کې په نيت باندې تندې په خمکه کېښودونه وايي علماء وايي چه دادم عليه السلام دتعظيم لپاره ملائکوته دسجدې امروشوترڅوپه هغه شي اعتراف وکړي چه دآدم عليه السلام په حق کې ددوی نه صادرشوی وه اوبعضي علماء وايي چه ملائکوته دآدم عليه السلام په طرف باندې دسجدې کولوامرشوی وؤيعني الله ﷻ تعظيماادم عليه السلام دملائکوقبله وګرزوله نوبياپه لادم کې لام په معنی دالی سره دی لکه پدی قول دحسان بن ثابت رضی الله عنه کې چه لام په معنی دالی سره راغلی دی

☆اليس اول من صلی قبلتکم☆ ☆واعين الناس باالقران والسنن☆

اويالام دوقت لپارد دی لکه پدی قول دالله ﷻ کې چه راغلی دی اقم الصلوة لدلوك الشمس نوداسجدولام معنی داشود چه دآدم عليه السلام دپيدانشت په وخت کې الله ﷻ ته سجده وکړی خواول قول ظاهراوصحيح دی ﴿وانماشرف العلم﴾شرف دفعل صيغه ده دحسن يحسن دباب نه اويااصيغه دمصدرده اومبتداء ده اومابعدورته خبردی نومعنی داشوه چه دعلم نه زيات بل شي دشرافت اوعزت واله نشته دی ﴿لکونه وسيلة الی التقوی﴾تقوی دوقاية نه ماخوذدی په لغت کې ساتلوته وايي اوپه اصطلاح کې ديته وايي چه سړی مکمل دهغه شي نه ځان وساتي چه په اخرت کې ورته ضرررسوی

اوعمربن عبدالعزيزفرمايي تقواديته وايي چه سړی محرمات: پريږدي اوفرائض اداء کړي اودبعضي حکماؤنه نقل شوی دی چه متقي هغه سړی ته وايي چه مباح کارهم نه کوی دی لپاره چه حراموکې واقع نشي اوبعضي حکماء وايي چه دتقوانه مخکې پنځه عقبې اوياټکونه دی څوک چه ددی پاټکونونه تيرشوی نه وی نوتقواته نه رسيږی اوله عقبه داده چه سختي اوتکليف به په نعمت غوره کوی دوهم داچه ضعف به په قوت باندی غوره کوی دريم داچه ذلت به په عزت باندی غوره کوی اوڅلورم داچه کوشش به په راحت باندی غوره کوی اوپنځم داچه مرګ به په ژوندباندی غوره کوی



حاصل داچه دتقوادری مرتبې دی اول داچه سړی دايمان په راوړلوسره دهميشه عذاب نه ځان بچ کړي لکه الله ﷻ فرمايي والزمهم کلمة التقوی دوهم قسم مرتبه داده چه سړی دهرقسم ګناه نه ځان بچ کړی تردی چه دصغائرونه هم ځان بچ کړی اوپه اصطلاحي معنی سره همداتقوامشهوره ده اودالله ﷻ دی قول نه هم همداتقوامراد ده ولوان اهل التقوی امنواوالتقوا اودريمه مرتبه دتقواداده چه سړی خپل باطن اوزړه اورازونه پوره صفاکړی اومکمل الله ﷻ ته سرتيټ کړی اوديته حقيقي تقواوايي اوالله ﷻ وباندی پدی قول سره امرکوی ياايهاالذين امنوااتقواالله حق تقاته ﴿الذی استحق به الکرامة﴾الکرامة مرفوع دی خکه ديستحق لپاره مفعول مالم يسم فاعله دی ﴿عندالله تعالی والسعادة الابدية﴾داپه الکرامة باندی عطف دی اوعلم دتقوی لپاره خکه وسيله ده چه دحرامونه ځان ساتل علم پوری موقوف دی يعنی اول به حرام پيژنی اوبيابه ورنه ځان ساتی اوکه حرام ورته معلوم نه وی نوڅنګه به ورنه ځان وساتی نوکله چه دعلم په وجه باندی سړی دحرامونه بچ شي نوداسړی هميشه کامياب شواوهميشه نيک بخته شوچه ددی په وجه سړی اعلی مرتبوجنت ته رسيږی الله ﷻ دی مونږ ټول په خپل فضل اوکرم سره دی مرتبوته ورسوی

کماقيل لمحمدبن الحسن ابن عبدالله شعرا

☆تعلم فان العلم زين لاهله وفضل وعنوان لکل المحامد

☆وکن مستفيدا کل يوم زيادة من العلم واسبح فی بحورالفوائد

☆تفقه فان الفقه افضل قائد الی البروالتقوا واعدل قاصد

☆هوالعلم الهادی الی سنن الهدا هوالحصن ينجی من جميع الشدائد

☆فان فقيها واحدا متورعاً اشد علی الشيطن من الف عابد

**ترجمه** لکه محمدابن حسن ته خطاب وشواوداشعريې په وړاندی ولوستل شوچه مفهوم يې دادی

علم کوه خکه علم اهل علمولپاره زينت اوخائست دی اودټولوخوصفتونولپاره شرافت اونښه ده :اوهره ورځ زيات علم

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

حاصلوه او دعلم په هغه فائدو کی غوتی وهه چه هغه دبحرپشان دی :اوفقه حاصله کړه ځکه فقه تقوا اونیکی ته غوره رهنما دی :او ډیر برابر عادل دی :اودفقه حاصلول هغه علم دی چه دهدایت لاری ته خودنه کوی :اوعلم هغه قلاده چه سړی دټولو تکلیفونو نه بچ کوی :ځکه یو پرهیزګاره فقیه شیطان ته دزرو عابدانو نه سخت دی

**تشریح** ﴿کماقیل﴾ دا یه دی خبره دلیل ذکرکوی چه علم دتقوا لپاره وسیله ده اودقیل نه مراددا دی چه ده ته خطاب وشو ﴿لمحمدابن الحسن بن عبدالله﴾ بن حاوس بن هرمزبن نوشروان نومعلومه شوه چه دمحمدبن حسن اوداامام ابوحنیفه رضي الله عنه په مابین کی قرابت اونژدی والی دی اودمنظومی واله ده ته عالم الربانی ویلی یعنی رب ته یی منسوبوبکاره ده چه عالم الربی یی ویلی وی لکن الف اونون پکی دمبالغی لپاره زیات شزل یعنی داهغه عالم دی چه هرعمل دالله لپاره کوی اوداامام ابویوسف شاګرد وو ﴿شعر تعلم فان العلم زین لاهله﴾ تعلم امرحاضردی اودزین لاهله مطلب دادی چه علم داهل علمولپاره زینت اوسینګاردی لکه علماوذکرکړی دی چه دالله جل جلاله توحیدنه روسته غوره شی دفقهی علم حاصلول دی ځکه الله جل جلاله آدم علیه السلام ته په فرشتوباندی دعلم فقاهت په وجه باندی غوره والی ورکړی وو لکه الله جل جلاله فرمایی وعلم ادم الاسماء کلها ثم عرضهم علی الملائکة اودعربی زده کول هم اهم اوضروری علم دی ځکه ددین اصول اوفروع په تحقیق کی عربیت ته محتاجه دی اوبل داچه داعلم دعلی اوعمر رضي الله عنهما نه رانقل شوی دی لکه واقعه کی راځی چه یواعرابی دیوسړی نه داقول دالله جل جلاله واوریدو ان الله بریء من المشرکین ورسوله اودی سړی ورسوله په کسری سره وویلی نواعرابی وویل چه هرکله الله دپیغمبرنه بیزاره کیږی نوزه هم ورنه بیزاره کیږم داسړی عمرته لاړو اوداقصه یی ورته وکړه نوعمر رضي الله عنه دعربی په زده کولو باندی امروکړو اوعلی رضي الله عنه ته یی وویل چه هرفاعل مرفوع وی اوهرمفعول منصوب وی اومضاف الیه مجروروی اوعلم الکلام اوعلم المناظره



دضرورت داندازی نه زیات زده کول مکروه دی لکه روایت کی راځی چه امام ابوحنیفه رحمه الله خپل ځوی ددی دتعلیم نه منعه کړو نوځوی یی ورته وویل چه ته ورنه مامنعه کوی اوپخپله پکی اخته یی امام صیب ورته وویل چه مونږ پدی علم کی تکلم کوؤ لکن مونږ داسی غلی ناست یولکه زمونږ په سرونوچه مارغه ناست وی اوداپی لپاره چه خپل ملګری خطااوغلط نه کړواوتاسوپدی علم کی بحث کوی اوهریوغواړی چه خپل ملګری خطااوغلط کړی اوداداسی مثال لری لکه یوسړی چه دبل سړی دکافرکولوکوشش کوی نوداسړی دهغه نه مخکی کافرکیږی اوهمدارنګه علم منطق اوددی پشان نورعلوم دضروت نه زیات حاصلول مکروه دی لکه پدی شعرکی ورته اشاره شوی ده

☆ قل للحکیم الفیلسوف المنطقی ☆ علم حرام درسه لاتنطق ☆

☆ احفظ عنانك عن مناهج درسه ☆ ان البلاء مؤکل بالمنطق ☆

هغه حکیم ته ووایه چه منطقی اوفیلسوف دی :چه ددی علم درس کول ناروادی اوپدیکی خبری اوبحث مه کوه: اوددی ددرس دلارونه خپل واګی وساته :ځکه هرمصیبت منطقوپوری تړلی دی ؛

اوعلم الکتابة یعنی دخط زده کول داموری جانزه ونه دی ځکه الله جل جلاله په خپل کتاب کی دخط په لیکلوقسم کوی اووایی ن والقلم ومایسطرون اوبل ځای کی فرمایی علم باالقلم :همدارنګه رسول الله ﷺ فرمایی جف القلم بماهوکائن لکن ښځوته دخط زده کول مکروه دی ځکه رسول الله ﷺ فرمایی لاتعلموا النساء الخط :اوبعضی علماء فرمایی چه دخایسته خط زده کول دادب یوه حصه ده اوبعضی فرمایی چه خط نیم علم دی

اوبعضی مفسرین دالله جل جلاله ددی قول په باره کی فرمایی یزید فی الخلق مایشاء :چه مراد دخلق نه خط دی اوفضیل بن سهیل رحمه الله فرمایی چه څوک خایسته خط لیکی اوپه خبروکی فصاحت لری نوداښیک بختـه دی ﴿وفضل وعنوان لکل المحامد﴾ عنوان علامی تـه وایی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اومحامد دمحمدة ده اودامصدر دی خوبه معنی دمفعول سره دی نومعنی یی داشوه چه علم دهغوخویونواوخصلتونولپاره علامه ده چه هغه دالله ﷻ اودخلکوپه نزدمقبول اومحبوب وی ﴿وکن مستفیدا کل یومزیادةً﴾مستفیداد کن لپاره خبردی اوکل یوم ظرف دی اومفعول به واقع شوی دی اوزیادة دمستفید لپاره مفعول به دی ﴿من العلم واسبح فی بحورالفوائد﴾من العلم دزیادة لپاره صفت دی اودمحذوف پوری متعلق دی اواسبح دسبح یسبح نه امردی په اوبوکی تک کولوته وایی اوپه لفظ دکن باندی عطف دی اوداقول چه فی بحورالفوائد دقبیلی دلجین الماء نه دی یعنی په هغه فاندوکی غوتی وهه چه دبحرپشان دی نومعنی داشوه چه هره ورځ دعلم دفاندوطلب کوه اودمعانیواوفواندوپه بحرکی دماهی پشان غوتی وهه ځکه رسول الله ﷺ به هم په دعاکی داسی ویل چه رب زدنی علما:ځکه الله ﷻ ورته پدی باندی امرکړی دی لکه فرمایی قل رب زدنی علماً سره ددینه چه رسول الله ﷺ ته ډیرزیات علم حاصل ؤنوبیاته ولی په هغه علم بآندی بس والی کوی چه هغه درسول الله ﷺ دعلم په مقابل کی داسی دی لکه یوڅاڅکی چه دبحرپه مقابل کی وی ﴿تفقه فان الفقه افضل قائد﴾تفقه دباب تفعیل نه دامرصیغه ده یعنی دعلم فقهی په حصول کی کوشش وکړه اوتکلیفونه پکی تیرکړه ځکه دابهتره دلیل اورهنمادی ﴿الی البروالتقواواعدل قاصد﴾قصد عدل ته وایی یعنی علم فقه دعادل سړی لپاره ډیرپه معیاربرابرعلم دی ځکه فقه داسی علم دی چه پدیکی هغه احکام بیانیږی چه په دیکی باالکل ظلم نشته ځکه داد الله ﷻ احکامات دی اوالله ﷻ دظلم نه پاک اومنزه دی ځکه ظلم دعجزانقصان علامه ده اوالله ﷻ دعجزاونقصان نه پاک دی ﴿هوالعلم الهادی الی سنن الهدی﴾سنن په فتحی سره لاری ته وایی اوهدی په معنی دهدایت سره دی اوهدایت هغه ښودنی ته وایی چه په هغی باندی سړی په اسانتیاسره مطلوب ته رسیږی نومعنی داشوه چه علم فقه هغه علم دی چه داسی



لاری ته ښودنه کوی چه په هغی سره سړی په اسانی مطلوب ته رسیږی اودامطلوب ددنیااواخرت همیشنی کامیابی اونیک بختی ده ﴿هوالحصن﴾یعنی علم فقه یود خاصه قلعه ده ﴿ینجی﴾ددی طالب اومتعلم ته ﴿من جمیع الشدائد﴾یعنی دالله ﷻ په اوامرواونواهیوباندی دجهل نه نجات ورکوی ځکه دالله ﷻ په اوامرواونواهیوباندی ناپوهی دلویوشدائدواومصیبتونونه دی ﴿فان فقیهاً واحداً متورعاً﴾یعنی چه دحرامونه پورد خان ساتی ﴿اشد﴾دادان لپاره خبردی ﴿علی الشیطان من الف عابد﴾داسی عابدین چه فقیه نه وی نومعنی داشوه چه دیوفقیه زوند دزروعابدانودژوندنه په شیطان باندی سخت لګیږی ځکه شیطان خلکوته په فسق باندی په کفرباندی په ګمراهی باندی امرکوی اوفقیه ورته په ایمان اوطاعت باندی امرکوی اودشیطان دلاری نه یی درحمان لاری ته رادعوت کوی نوفقیه دشیطان لوی دشمن دی اوعابدچه کله فقیه نه وی نوهغه داکارونه نه کوی بلکه هغه بغیر دعلم نه عبادتونه کوی اودالف نه مرادمعین عددنه دی بلکه مرادورنه کثرت اوزیادت دی لکه خلک وایی چه زه فلانی ته دزرخلونه هم زیات ورغلم اوماته یی هیڅ شی رانکړلو

**وکذالک فی سائرالاخلاق نحوالجودوالبخل والجبن والجرئت والتکبروالتواضع والعفة والاسراف والتقتیروغیرهافان الکبروالبخل والجبن والاسراف حرام ولایمکن التحرزعنهاالابعلمهاوعلم مایضادهافیفترض علم کل انسان علمهاوقدصنف السیدالامام الاجل الشهیدناصرالدین ابوالقاسم کتاباًفی الاخلاق ونعم ماصنف فیجب علی کل مسلم حفظهاواماحفظ مایقع فی بعض الاحایین ففرض علی سبیل الکفایة اذاقام به البعض فی البلدة سق عن الباقین فان لم یکن فی البلدة من یقوم به اشترکوافی الماثم فیجب علی الامام ان یامرهم بذالک ویجبراهل البلدة علیه**

**ترجمه** اوهمدارنګه علم دټولواقسامواخلاقوفرض دی مثلاسخا ؛اوبخل ؛اوبوزدلی ؛اوجرائت ؛اوتکبر ؛اوعاجزی ؛اوپاکدامنی ؛اواسراف ؛اوکمه خرچه کول وغیرذلک ځکه کبراوبخل اوبوزدلی اواسراف ټول حرام دی اودی ؛پیژندلونه غیراوددی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

دضد ونود پیزندلونه غیرددینه ځان ساتل ممکن نه دی نوپه هرانسان باندی ددی علم ضروری اوفرض دی اوداخلاقوپه باره کی لوی امام شهید سید ناصرالدین ابوالقاسم یوکتاب هم لیکلی چه ډیرمزیدارکتاب دی نوپه هرمسلم باندی ددی علم واجب اولازم دی اودهغه شی علم یادول چه په بعضووختونوکی واقع کیږی فرض کفایی دی کله چه یی په ښارکی یوکس هم حاصل کړی نودټولومسؤلیت ساقطیږے اوغاړه یی خلاصیږی اوکچرته په ټول ښارکی داسی کس نه وی چه داعلم یی حاصل کړی وی نوټول په ګناه کی شریکان دی نوپه بادشاه باندی واجب دی چه دوی ته ددی علم په حاصلولوباندی امروکړی اوپه ښاروالہ باندی زورواچوی ترخوداعلم حاصل کړی

**تشریح:** ﴿وکذالك﴾داپه مخکی کذالک باندی عطف دی یعنی لکه څنګه چه دزړه داحوالوعلم فرض دی نوهمدارنګه داخلاقوعلم هم فرض دی ﴿والجبن﴾په ضمی دجیم سره ډارته وایی ﴿والجراة﴾دادجرعة پشان دی اوشجاعت ته وایی﴿والعفه﴾عفه دحرامونه ځان ساتلوته وایی ﴿والتقتیر﴾کمه خرچه کولوته تقتیروایی ﴿فأن الکبر﴾دادی علم دفرضیت لپار ه علت ذکرکوی ﴿عنها﴾یعنی ددی مذکوره شیانونه ﴿مایضادها﴾یعنی ددی چه کوم ضدونه دی ﴿فیفترض الخ﴾څکه ددی شیانونه ځان ساتل ددی ترعلم پوری موقوف دی اودفرضوموقوف علیه هم فرض وی نوددی شیانوعلم بذاته فرض نه دی بلکه دځان ساتلودوجی نه فرض دی ﴿فی الاخلاق﴾یعنی په علم الا خلاق کی اوداکلام دمخکی لپاره تائیددی ﴿ونعم ماصنف﴾نعم دمدحی دافعالونه دی اوماموصوفه په معنی دشئ سره ده اوصنف ورته صفت دی اومخصوص باالمدح محذوف دی چه هغه کتاب الا خلاق دی نومعنی داشوه چه کوم شی ناصرالدین تصنیف کړی دی اوډیرمزیداردی نوهغه کتاب الاخلاق دی ﴿فیجب علی کل الخ﴾یعنی هرکله چه داخلا قوعلم فرض دی نوپه هرمسلمان



باندی دهغه اخلا قو یادول فرض دی کوم چه دناصرالدین په کتاب کی ذکرشوی دی ﴿بعض الاحایین﴾داجمعه دحین ده یعنی مخکی چه کوم شی ذکرشول نوهغه دهغه شی یادول وؤکوم چه په هرحالت کی واقع کیږے اودهغه شی یادول چه په بعضووختونوکی واقع کیږے لکه دجنازی لمونځ اودمریض پوښتنه نودافرض کفایی دی ﴿اذاقام به﴾په به کی بادتعدیت لپاره ده یعنی چه داپه ښارکی بعضوخلکواداء کړی وی ﴿سقط عن الباقین﴾اودفرض کفایی همدامعنی ده ﴿فأن لم یکن﴾یعنی که موجودنه ؤ ﴿فی المائم﴾دامصدرمیمی دی په معنی داثم سره دی ﴿فیجب علی الامام﴾یعنی په بادشاه اوخلیفه باندی ﴿ان یأمرهم بذالك﴾یعنی ددی په حاصلولواواداء کولوباندی

**وقدقیل** ان علم مایقع علی نفسه فی جمیع الا حوال هوبمنزلة الطعام لابدلکل واحدمنه وعلم مایقع فی بعض الا حایین بمنزلة الدواء یحتاج الیه حین المرض فقط وعلم النجوم بمنزلة المرض فتعلمه حرام لانه یضرولاینفع والهرب من قضاءالله تعالی وقدره غیرممکن

فینبغی لکل مسلم ان یشتغل فی جمیع اوقاته بذکرالله تعالی والدعاء والتضرع وقرائت القران والصدقات الدافعة للبلاء ویسأل الله العفووالعافیة فی الدنیاوالاخرة لیصونه الله تعالی عن البلاء والافات فأن من رزق الدعاءلم یحرم الاجابة فان کان البلاءمقدرایصیبه لامحالة لکن یسره الله علیه ویرزقه الصبربرکة الدعاء

**ترجمه** اوچولی دی چه دهغه شی علم چه دانسان پخپل ځان باندی هروخت واقع کیږی نوداعلم دخوراک اودډوډی پشان دی چه دهریو تن لپاره ددی علم یادول ضروری دی اودهغه شی علم چه په بعضووختونوکی واقع کیږی په منزله ددواء دی چه یواځی دبیمارتیاپه وخت کی سړی ورته ضرورت لری اوعلم النجوم په منزله دمرض کی دی نوددی زده کول حرام اوناروادی څکه داانسان ته ضرررسوی اوګټه ورته نه رسوی اودالله ﷻ دفیصلی اودحکم نه تختیدل ممکن ندی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

نوهرمسلمان ته پکاردی چه هروخت دالله ﷻ په ذکرکی په دعاء کی په عاجزی کی اوپه تلاوت کی مشغول شی اوهمدارنګه په صدقوکی مشغول شی چه هغه مصیبتونه اوتکلیفونه دفعه کوی اودالله ﷻ نه په دنیااواخرت کی عفوه اوصحت غواړی ترڅوبی الله ﷻ دتکلیفونواومصیبتونونه وساتی ځکه دچاچه دعاء په نصیب شوه نوددعادقبلیدونه نه محرومه کیږی نوکه الله ﷻ ورته تکلیف مقررکړی وی نوخامخابه ورته رسیږی لکن الله ﷻ به ورته داتکلیف اسانه کوی اوددعاپه برکت به الله ﷻ صبرورنصیب کوی

**تشریح:** ﴿فقيل﴾قیل په معنی دحکم سره دی ځکه دقیل په صله کی چه کله باراشی نوهغه په معنی دحکم سره وی ﴿بأن مايقع على نفسه فى جميع الاحوال﴾یعنی دهغه شیانوعلم چه دمسلمان په نفس باندی هروخت ثابت اوواقع کیږی ﴿لكل واحد﴾یعنی هرفرددانسان ته ﴿من ذالك﴾دادهغه فرضولپاره مثال ذکرکوی چه هغه په هرتن باندی لازم وی چه هغه فرض عین دی ﴿وعلم ما﴾داپه علم مايقع على نفسه باندی عطف دی ﴿بمنزلة الدواء﴾اوداقول دمصنف چه ﴿يحتاج اليه﴾ددی خبری لپاره بیان دی چه داعلم ددواء پشان دی یعنی لکه څنګه چه سړی دواء ته بعضی وخت محتاجه کیږی

نوهمدارنګه دهغه شی علم ته هم بعضی وخت محتاجه کیږی چه هغه بعضی وخت واقع کیږی لکه دجنازی لمونځ اودمریض تپوس کول وغیره ﴿والهرب﴾یعنی حال داچه تیښته کول ﴿من قضاء الله تعالى وقدره غيرممكن﴾نوددی علم پدی نیت سره یادول چه زه به ددی په وجه دالله ﷻ دحکم اوفیصلی نه بچ شم باالکل لغوه دی اوپدیکی وخت لګول اوعمرضائع کول عبث دی ﴿الدافعة للبلاء﴾ځکه پیغمبر ﷺ فرمایی الصدقة تردالبلاء وتزيدفى العمر ﴿ويسأل الله تعالى ﴾داپه ان یشتغل باندی عطف دی ﴿العفو﴾یعنی دګناهونونه تیریدل ﴿والعافية﴾یعنی دتکلیفونواومرضونونه بچ کیدل ﴿فى الدنياوالاخرة﴾داللعفووالعافیه لپاره ظرف دی ﴿ليصونه الله تعالى﴾دادیـــل لپاره علت دی ﴿فان من رزق الدعاء﴾یعنی په دعاء سره ﴿لم



يحرم الاجابة﴾یعنی داجابة نه نه محرومه کیږی خودی قول ته یوسوال متوجه کیږی هغه داچه هرکله یومصیبت دالله ﷻ له طرف نه مقررشوی وی نوهغه انسان ته خامخارسیږی اوددعاپه ذریعه باندی هغه نه دفعه کیږی نومصنف ﷫ ددی سوال نه پدی قول سره جواب کوی ﴿فان كان البلاء الى قوله لامحالة﴾دامصدرمیمی دی په معنی دتحول سره دی یعنی دامصیبت دانسان نه بل طرف ته نه اوړی اونه انتقالیږی ﴿ولكن يسره الله تعالى عليه﴾یعنی دعاء غوښتونکی بنده باندی به یی الله ﷻ اسانه کړی

**اللهم الا اذاتعلم من النجوم قدرمايعرف به القبلة واوقات الصلوة فيجوزذالك واماتعلم علم الطب فيجوزلانه سبب من الاسباب فيجوزتعلمه كسائرالاسباب وقدتداوى النبى ﷺ وقدحكى عن الشافعى انه قال العلم علمان علم الفقه للاديان وعلم الطب للابدان وماوراءذالك بلغة مجلس**

**واماتفسيرالعلم فهوصفة يتجلى بهالمن قامت هى به المذكوركماهووالفقه معرفت دقائق العلم مع نوع علاج قال ابوحنيفة ﷫ الفقه معرفة النفس مالهاوماعليهاوقال ماالعلم الا العمل به والعمل به ترك العاجل للاجل فينبغى للانسان الا يغفل عن نفسه وماينفعهاومايضرهافى اولهاواخرهافيستجلب ماينفعهاويتجنب مايضرهاكيلايكون عقله وعلمه حجة عليه فيزدادعقوبة نعوذبالله من سخطه وعقابه وقدوردفى مناقب العلم وفضائله ايات واخبارصحيحة مشهورة لم نشتغل بذكرهاكيلايطول الكتاب**

**ترجمه** مګرکه دعلم نجوم نه دومره اندازه زده کړی چه په هغی سره قبله اودمانځه وختونه وپیژنی نوداجائزدی اودعلم طب یعنی دډاکټری یادول هم جائزدی ځکه داهم دنورو کسبونواوسببونونه یوکسب اوسبب دی نودنورواسبابوپشان ددی زده کول هم جائزدی ځکه نبی ﷺ هم علاج اوتداوی کړیده

اودامام شافعی ﷫ نه نقل دی چه علم په دوه قسمه دی یوعلم فقه ده چه په دی سره ددین احوال پیژندل کیږی اودوهم علم طب دی چه پدی سره دبدنونوحالتونه پیژندل کیږی اوددی دوه علمونونه غیرنورعلمونه صرف مجلس پوری کافی دی اوعامه


Scanned with CamScanner

فائده نه لری اوهرچه تفسیر دعلم دی نوداهغه صفت دی چه
سره هغه سړی ته وضاحت حاصلیږی څوک چه ددی په حقیقت باندی
واقف اوپوه وی اودعلم باریکانوپیژندلوته فقه وایی اوبیا
یوقسم ته علاج هم دی

اوامام ابوحنیفة رحمه الله فرمایی چه فقه دخپل خان پیژندل
وایی یعنی دهغه شی پیژندل دی کوم شی چه انسان ته د...
اوضرررسوی اوهمدارنګه امام صیب فرمایی چه علم هغه علم...
چه عمل ورسره وی اوپه علم باندی عمل دادی چه داخرت لپ...
دنیاپریږدی نوهرانسان ته پکارده چه دخپل خان نه غافل اوناخبر
نشی همدارنګه ددنیااواخرت دفائدواوضررونونه غافله نشی
اوهغه کارونه وکړی چه ده ته فائده رسوی اودهغه کارونونه ځان
وساتی چه ده ته تکلیف اوضررسوی ترڅودده عقل اوعلم په
باندی دلیل اوګواه نشی چه ده لپاره عذاب نوړهم زیات کړی
نعوذبالله من سخطه وعقابه اودعلم فضیلت اومرتبه کی ډیراټوره
اومشهورصحیح حدیثونه راغلی دی چه مونږ یی دلته نه
ذکرکوؤځکه چه کتاب اوږدنشی

**تشریح** (اللهم الااذا) داددی قول نه استثناء ده چه فتعلمه حرام
(فیجوزذالك) داداذالپاره جواب دی یعنی دعلم نجوم دومره اندازه
زده کول چه په هغی سره دقبلی حالتونه اودلمانځه دوخت حالتونه
وپیژندل شی ځکه دعلم نجوم همدومره اندازه زده کول ددینی
حالتونودپیژندلولپاره وسیله ده نوددی وجی نه جوازلری (واما علم
علم الطب) یعنی هغه علم چه په هغی سره دبدنونودحالتونوعلم
حاصلیږی چه دامریض دی اوداصحیح دی اوطب په اصطلاح کی
دجسم اوبدن علاج ته وایی نوددی وجی نه دی علم ته علم طب وایی
(فقدتداوی) دادتداوی او... (کسائرالاسباب) یعنی دنوروعلاجونوښان (فقدتداوی) دادتداوی او
علاج لپاره علت ذکرکوی اوهمدارنګه دعلم طب
(وقدحکی عن الی ...) قول سره کوی



فقه) دادمبتداء محذوفی لپاره خبردی یعنی احدهماعلم
فقه لادیان) یعنی ددین دپیژندلولپاره (وعلم الطب) یعنی بل علم
طب دی چه دبدنونودحالتونودپیژندلولپاره دی (وماوراءذالك) یعنی
ددی مذکوره علمونونه غیر (بلغة مجلس) بلغة په ضمی سره هغه شی
ته ویل کیږی چه دژوندلپاره کافی وی خودلته پکی تجریدشوی
دی یعنی صرف په معنی دکفایت سره دی نومعنی داشوه چه ددی
علمونونه غیرنورعلمونه صرف مجلس ته کافی کیږی اودمجلس
دګرموالی نه غیرنوره فائده پکی نه وی (واماتفسیرالعلم) مصنف رحمه الله
دعلم دحقیقت په بیان باندی شروع وکړه اوبدیکی طالب العلم ته
تنبیه اوخبرداری ورکوی چه داعلم مهتم باالشان دی ترڅوطالب
العلم ددی په طلب کی مشغوله شی (فهوصفة یتجلی) یعنی په پوره
وضاحت سره واضحه کیږی (بها) یعنی پدی صفت سره
(لمن) داد یتجلی پوری متعلق دی (قامت هی به) ضمیرموصول ته
راجع دی (المذکور) داد یتجلی لپاره فاعل دی یعنی ددی ذکرکول
اوددی نه تعبیرکول ممکن دی لکن دتعبیرکولونه یی مذکورته
عدول وکړوترڅومعدوم اوموجودټولوته عام شی

اوداتوهم راځی چه دمذکورنه مرادمعلوم دی خوبهرحال
ظن اوجهل ورنه خارج شول ځکه پدی سره تجلی اووضاحت نه راځی
اوهمدارنګه ورنه دمقلدعقیده هم خارجه شوه ځکه دده عقیده زړه
پوری تړلی ده اوتجلی دزړه انشراح اوکولاو والی ته وایی
(والفقه) دایی دشرافت اوعظمت دوجی نه دنوروعلمونونه
جدااومستقل ذکرکړوځکه پدی علم سره ددنیااواخرت نیک بختی
اوسعادت حاصلیږی (قال ابوحنیفة رحمه الله) دادفقه بله معنی ذکرکوی
(الفقه معرفة النفس مالها) یعنی کوم خیرونه چه ده ته حاصلیږی
(وماعلیها) یعنی کوم شرونه چه ده ته حاصلیږی اودفقهی دامعنی
ددی معنی نه بهتره ده چه یعرف بهااحوال المکلفین (وقال) یعنی
همدارنګه امام ابوحنیفة رحمه الله فرمایی (ماالعلم) مانافیه ده (ترك

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

العاجل﴾يعني ددنياپريخودل دی ﴿للاجل﴾يعني داخرت
حاصلولولپاره اوددواړوحاصلول ممکن نه دی ځکه چه
ضدين دی اواخرت هميشنی ژوند دی نودهميشنی ژوندلپاره
ژوندپريخودل پکاردی ﴿فينبغی﴾دادمصنف کلام دی يعني هرکله
دامام ابوحنيفه رحمه الله خبره ثابته شوه نوفينبغی﴿للانسان ان لايغفل عن
نفسه﴾يعني دخپل ځان دپيژندلو نه غافله نشی چه
عجزاوفقراوفناده اوداتفسيرمونږځکه وکړوچه ډيرعاقلان
دحقيقت دپيژندلونه عاجزه شوی دی اووايی چه دنفس پيژندل
چه دنفس صفات وپيژندل شی

اوزمونږبحث درسول الله ﷺ ددی قول نه ثابتيږی من عرف نفسه
فقدعرف ربه ﴿ومابنفعها﴾مثلاعبادتونه اوطاعتونه ﴿ومايضرها﴾
فاحشات اومنکرات ﴿فی اولاها﴾په دنياکی ﴿فيستجلب﴾داپه ان لايغفل
باندی عطف دی ﴿ماينفعها﴾لکه ثوابونه اونيک کارونه ﴿ويجتنب
مايضرها﴾ لکه ګناهونه ﴿کی لايکون﴾ دادينبغی لپاره علت ذکرکوی
عقله وعلمه حجة عليه﴾ يعني عقل اوعلم ده ته په ضرروړکولوکی
اودليل شی ﴿فيزدادعقوبة﴾ دادنفی لپاره جواب دی نوددی وجی
منصوب هم دی اوعقوبة ديزدادلپاره فاعل دی ﴿نعوذبالله من
وعقابه وقدوردفی مناقب العلم﴾ يعني ددی دافتخاراومرتبی په باره کی
﴿وفضائله﴾ په دی سره مصنف رحمه الله دعلم دفضيلت په باره کی
شروع وکړه ﴿ايات﴾ دادوردلپاره فاعل دی ﴿کيلايطول الخ﴾ دعلم
دفضيلت په باره کی دايوحديث هم کافی دی چه دابودرداء رضي الله عنه
روايت دی چه دافرمايی قال رسول الله ﷺ من سلك طريقايطلب فيه
علماًسلك الله به طريقامن طرق الجنة وان الملائكة لتضع اجنحتهاالطالب العلم
العالم يستغفرله من فی السموت والارض والحيتان فی جوف الماءوان فضل العالم على
الجاهل كفضل القمرليلة البدرعلى سائرالكواكب وان العلماء ورثة الانبياء
يورثوادينارأولادرهماوانماورثواالعلم فمن اخذه اخذه بحظ وافر:

## فصل فی النية فی حال التعلم



ثم لابدله من النية فی زمان تعلم العلم اذالنية هی الاصل فی جميع الاحوال
بقوله عليه السلام انماالاعمال باالنيات حديث صحيح وعن رسول الله كم من عمل
يتصوربصورة اعمال الدنياويصيربحسن النية عن اعمال الاخرة وكم من عمل
يتصوربصورة اعمال الاخرة ثم يصيرمن اعمال الدنيابسوءالنية وينبغی ان ينوي المتعلم
بطلب العلم رضاءالله تعالى والدارالاخرة وازالة الجهل عن نفسه وعن سائرالجهال
واحياءالدين وابقاءالاسلام فان بقاءالاسلام باالعلم ولايصح الزهدوالتقوی مع الجهل
انشدنی الاستاذالشيخ الامام الاجل برهان الدين صاحب الهداية شعرالبعضهم

★فسادكبيرعالم متهتك★ ★واكبرمنه جاهل متنسك★

★هما فتنة فی العالمين عظيمة★لمن بهما فی دينه يتمسك★

وينوي به الشكرعلى نعمة العقل وصحة البدن ولاينوي به اقبال الناس اليه
ولااستجلاب حطام الدنياوالكرامة عندالسلطان وغيره

**ترجمه**:فصل دی په بيان دنيت کی په حالت دتعليم کی
نودطالب العلم لپاره دتعليم په زمانه کی دنيت کول ضروراولازم دی
ځکه نيت په ټولوحالتونوکی اصل اوبنياددی ځکه رسول الله ﷺ
فرمايی چه دټولوعملونودارمدارپه نيت سره دی اوداصحيح حديث
دی اودرسول الله ﷺ نه نقل شوی دی چه ډيرخلی يوعمل ددنيوی
عمل په شکل کی ښکاری لکن دخايسته اوښه نيت دوجی نه
داخرت دداعمالونه ګرزيږی اوډيرخل يوعمل داخرت دعمل په
شکل کی ښکاری لکن دبداوخرابه نيت په وجه ددنياداعمالونه
ګرزيږی نوطالب العلم ته پکاردی چه دعلم په حاصلولوکی
دالله ﷻ رضااواخرت په نيت کی راولی اوهمدارنګه دخپل ځان نه
اونوروجاهلانونه دجهل لری کول اوددين ژوندی کول.اوساتل په
نيت کی راولی ځکه داسلام بقاپه علم سره راځی اوزهداوتقوادجهل
سره نه صحيح کيږی

زمونږاستاذلوی امام شيخ برهان الدين دهدايی مصنف به
بعضوعلماؤته داشعرويلی چه مفهوم يی داسی دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

هغه عالم چه بی عمله وی نودالوی فساددی اوددی نه لوی
فسادهغه جاهل دی چه په پټوسترګوبل چاپسی روان وی نو
دنیاکی دادوړه دهغه چالپاره ډیری لویی فتنی دی چه په خپل دین
کی پدی دواړوباندی دلیل نیسی اوددوی اتباع کوی

اوطالب العلم به دعلم په حاصلولوسره دعقل دنعمت
دشکردادا کولونیت هم کوی اوهمدارنګه دبدن دصحت
دشکرادادا کولونیت به کوی اویه علم کی به دانیت نه کوی چه
دخلکوتوجه ماته راواوړی اونه به دانیت کوی چه دعلم په وجه
ددنیافائدی حاصلوم یابه پدی باندی بادشاه ته ځان نږدی کوم
اوپدی باندی به عزت حاصلوم همدارنګه به نوردنیوی نیتونه نه
کوی

**تشریح:** **(فصل)** دفصل لغوی معنی ظاهره ده اویه اصطلاح
کی **طائفة من المسائل تغیرت احکامها بالنسبة الی ماقبلها** یعنی دادمسائلو یوه
حصه ده چه دماقبل نه یی احکام بدل وی اوفصل مرفوع دی ځکه
دادمبتدامحذوفی لپاره خبردی اویادامبتداده خبریی محذوف دی
یعنی فصل من الفصول **(فی النیة)** هغه نیت چه حاصلیږی **(فی حال
التعلم)** ځکه دتعلیم په حال کی نیت کول ضروردی **(انا النیة
هوالاصل)** یعنی خاص بنیاددی **(فی جمیع الاحوال)** برابره خبره ده که
هغه مقصودبالذات وی اوکه نه وی لکن په مقصودی عباداتوکی
نیت کول فرض دی اویه غیرمقصودی کی سنت دی **(لقوله علیه
السلام انما الاعمال بالنیات)** دامام شافعی رحمه الله په نزدباندی صحت
دافعالونیت پوری موقوف دی اودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدباندی
ثواب اوجزاء نیت پوری موقوف ده **(حدیث)** یعنی داحدیث دی **(وعن
رسول الله ﷺ کم من عمل)** یعنی ډیراهتمام واله عمل وی **(یتصور)**
دامبنی للفاعل دی ای یصیرذاصورة **(بصورة اعمال الدنیا الی قوله من
اعمال الاخرة)** لکه خوراک کول سکل اوخوب کول ځکه ددی
افعالوظاهری شکل ددنیوی اعمالودی لکن دښه نیت په وجه باندی



داداخرت داعمالونه ګرزیږی مثلاخوراک پدی نیت باندی وکړی چه
داقوی شی اوعبادتونه وکړی اویاسکل اوخوب په همدی نیت سره
وکړی نودادااخرت داعمالونه ګرزیږی **(وکم من عمل)** یعنی ډیرځل
داعمالونه **(یتصور)** یعنی دصورت واله ګرزیږی **(بسوء النیة)** مثلا
اعمال دریاواوځان ښودنی لپاره کوی **(وینبغی)** پدی سره مصنف
دنیت کیفیت ذکرکوی **(یطلب العلم)** داینوی پوری متعلق دی **(
رضاء الله تعالی)** دادینوی لپاره مفعول دی یعنی دعلم په
حاصلولوکی به دالله تعالی درضانیت کوی **(والدار الاخرة)** یعنی جنت ته
دداخلیدونیت به کوی **(وازالة الجهل)** یعنی په علم حاصلولوسره **(
ومن سائر الخ)** یعنی جاهلانوته به دعلم دښودنی نیت کوی **(واحیاء
الدین)** داپه ازالة الجهل باندی عطف دی **(وانشد)** یعنی شعرییی
ولوستلو **(لبعضهم)** یعنی بعضوعلماؤته **(متهتک)** هغه کس ته
وایی چه هغه دخپل عزت پروانه کوی اومتهتک عالم هغه عالم ته
وایی چه دشرعی خلاف خراب اوبدکارونه کوی اوددی هیڅ پروانه
کوی چه دابه وشرمیږی اورسوابه شی اوددی عالم فسادځکه زیات
دی چه جاهلان ده ته ګوری اویه ګناه باندی تیزورځی اودده په وجه
ګمراه کیږی **(متنسک)** یعنی عبادت کونکی اوجاهل متنسک هغه
کس ته وایی چه په خپلوافعالواواقوالوکی دجاهل تقلیدکوی
اودهغه صحیح اوغلطه خبره نشی معلومولی لکه زمونږپه زمانه کی
بی علمه اوجاهله صوفیان اودده فسادبی عمله عالم نه ځکه زیات
دی چه دده عقیده اواعمال دواړه فاسددی اودعالم اکثره عقیده
صحیح وی اواعمال یی خراب وی **(عظیمة)** دادفتنة لپاره صفت
دی **(لمن)** داهم دفتنة لپاره صفت دی یعنی دهغه سړی لپاره **(
بهما فی دینه یتمسک)** یعنی په خپل دین کی په ذکرشوی عالم
اوجاهل باندی تمسک اودلیل نیسی اویه اقوالواوافعالوکی ددوی
اتباع کوی نودادواړه ظرفونه یتمسک پوری متعلق دی اوظرفونه
دضرورت شعری دوجی نه مقدم شوی دی **(وینوی)** دامنصوب دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اوپه مخکنی ینوی باندی عطف دی ﴿ به ﴾ یعنی دعلم په
حاصلولوباندی ﴿ الشکر ﴾ شکردنعمت په مقابل کی راځی چه په
ژبه اوپه اندامونواوپه زړه باندی دمنعم دتعظیم لپاره اداء کیږی ﴿
**علی نعمة العقل** ﴾ دااضافة بیانیه دی یعنی هغه نعمت چه هغه عقل
دی

﴿ **وصحة البدن** ﴾ داپه مضاف الیه باندی عطف دی ﴿ **ولاینوی به** ﴾
داپه لاینوی باندی عطف دی یعنی پکارده چه دعلم په حاصلولوکی
دانیت ونه کړی

﴿ **اقبال الناس** ﴾ یعنی ځان ته دخلکوتوجه راړول ﴿ **ولا استجلاب**
**حطام الدنیا** ﴾ یعنی دخلکودلاسونونه ددنیاخستل ﴿ **والکرامة** ﴾
دامنصوب دی اوپه اقبال باندی عطف دی اومرادورنه شکردی ﴿
**وغیره** ﴾ په جرسره عطف دی په سلطان باندی اوپه نصب سره هم
صحیح دی یعنی ددی مذکوره شیانونه غیردنوروداسی شیانونیت
به نه کوی چه دالله ﷻ رضاپکی نه وی

**قال محمدبن الحسن رحمه الله لوکان الناس کلهم عبیدی لاعتقتهم وتبرئت
عن ولا ئهم وذالك لا ن من وجدلذة العلم والعمل به قلمأیرغب فیماعندالناس
انشدنا الشیخ الامام الاجل الاستاذقوام الدین حمادابن ابراهیم بن اسماعیل الصفارالا
نصاری املاءلابی حنیفة رحمه الله شعرا**

٭من طلب العلم للمعاد٭ فازبفضل من الرشاد٭
٭فیالخسران طالبیه٭ لنیل فضل من العباد٭

**اللهم الا اذاطلب الجاه للامربالمعروف والنهی عن المنکروتنفیذالحق
واعزازالدین لالنفسه وهواه فیجوزذالك بقدرمایقیم به الامربالمعروف والنهی عن
المنکروینبغی لطالب العلم ان یتفکرفی ذالك فانه یتعلم العلم بجهدکثیرفلایصرفه الی
الدنیاالحقیرة الفانیة**

٭هی الدنیااقل من القلیل٭ وعاشقهااذل من الذلیل٭
٭تصم بسحرهاقوماوتعمی٭ فهم متحیرون بلادلیل٭

**ترجمه**: امام محمدبن حسن رحمه الله فرمایی که ددنیاټول خلك
زماغلامان وی نومابه ازادکړی وی اوددوی دولایت نه به ماځان



خلاص کړی وی اوداځکه چه څوك دعلم اوعمل په خوندپوه شی
نوددنیاسره ډیره کمه مینه کوی زمونږاستاذلوی امام ددین حامی
شیخ حمادابن ابراهیم بن اسماعیل به مونږته هغه شعرویلی چه امام
ابوحنیفة رحمه الله ته یی لیکلی وُهغه داچه څوك علم داخرت لپاره
حاصلوی نوداپه هغه لارباندی کاماب شوچه هغه بهتره لارده
اوافسوس دی دهغه سړی تاوان ته چه علم ددی لپاره کوی چه
دبنده ګانونه مال حاصل کړی اودعلم په واسطه مال ته رسیدل کړی
مګرکه منصب دبادشاه نه ددی لپاره غواړی چه ددی په واسطه
امربالمعروف اونهی عن المنکروکړی اوددی په وجه حق نافذکړی
اودین ته عزت ورکړی اودخپل ځان اودخواهش لپاره نه غواړی
نوددی طلب دومره اندازه جائزدی چه په هغی سره امربالمعروف
اونهی عن المنکرکیږی

اوطالب العلم ته پکاردی چه دعلم په حاصلولوکی سوچ
اوفکروکړی ځکه داپه ډیرکوشش اوتکلیف سره علم حاصلوی
ترڅوداخپل علم په فانی اوحقیره دنیاکی مصرف نه کړی لکه
شاعروایی چه دنیاډیره زیاته کمه ده اوددی عاشق ډیرزیات ذلیل
دی اودنیاپه پخپل سحرباندی ډیرقومونه ړانده اوکانه کړی دی
چه دوی حق حیران دی او هغوی سره [illegible]شته ترڅویی دهدایت لاری
ته برابرکړی

**تشریح**: ﴿ **قال محمدابن الحسن** ﴾ دادذی قول لپاره
تائیدذکرکوی چه لاینبغی للطالب ان یطلب اقبال الناس ﴿ **کلهم** ﴾
داتائیدمعنوی دی ﴿ **عبیدی** ﴾ دادعبدجمعه ده ﴿ **لاعتقتهم** ﴾
دادلولپاره جواب دی ﴿ **وتبرانت عن ولائهم** ﴾ تبرائت په صیغی دمتکلم
سره په جواب باندی عطف دی یعنی زه به ددوی دولایت نه خان بری
اوخلاص کړم اوولائهم په فتحی دواوسره دی یعنی زه به ددوی
دولایت اوعصبیت نه خان خلاص کړم مطلب داچه باالکل به یی
پریږدم اوکوم مال اودولت چه ددوی سره وی نوهغی ته به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

نظراوالتفات ونه کړم ﴿ومن وجد﴾ یعنی دهغه شي سره یي مینه کړه وي کوم چه دخلکوپه لاسونوکي وي چه هغه دنیااودولت دي

اوداهم کیدیشي چه په قلمایرغب کي دقلت نه مرادعدم وي یعني ددنیاسره بالکل مینه نه ساتي ځکه داپه علم کي خوندوېني اوعلم ورته دهرڅه نه خوندور اوعزتمندښکاریږي نودعلم نه غیرېل څه نه طلب کوي ﴿ **قوام الدین** ﴾ یعنی دین وربانډي مضبوطيږي ﴿ **حماد** ﴾ داعطف بیان دي ﴿ **ابن ابراهیم ابن اسماعیل الصفار الانصاري الی قوله املاء لابی حنیفة** رحمه الله ﴾ املاء کتاب ته وایي اودلته ورنه مرادمکتوب دي اوداشندنالپاره مفعول دي دهمدي وجي نه منصوب دي نومعني داشوه چه مونږته یي هغه شعرولوستلوکوم شعرچه ابوحنیفة رحمه الله ته لیکلی ؤ ۔ **للمعاد** ﴾ یعنی داخرت لپاره مطلب داکه چاداخرت دثواب لپاره علم حاصل کړو ﴿ **فازبفضل من الرشاد** ﴾ فوزکامیابی ته وایي اورشاددفضل لپاره صفت دي اودجرپه ځاي کي واقع شوي دي اورشادپه دین باندي برابروالي ته وایي نومعني داشوه چه داپه هغه دین باندي برابرشوکوم چه بهتره دین دي اوبهتره ځکه دي چه پدي سره سړي دجنتونواوچتومرتبوته رسیږي ﴿ **فیالخسران طالبیه** ﴾ دادشرط محذوفه لپاره جواب دي اویاحرف نداده اومنادی یي محذوفه ده اوخسران محذوف فعل پوري متعلق دي نومعنی داشوه چه هرکله داخرت علم دکامیابی لپاره سبب دي نوای خلکودهغه چاتاوان ته وګوره چه ددنیادحصول لپاره علم کوي ﴿ **لنیل فضل من العباد** ﴾ جاومجروریعني لنیل ترطالبیه پوري متعلق دي یعنی علم ددي لپاره کوي چه دخلکوتوجه ځان ته راواړوي اوداپه خلکوکي عزتمنداومعززشي اوخلک ده ته دعلم په وجه باندي مال اودولت ورکړي نودابه دهغه چاسره څنګه برابرشي چه هغه داخرت لپاره علم کوي ﴿**اللهم اذاطلب**﴾ دادوالکرامة عندالسلطان نه استثناء ده ﴿ **الجاه** ﴾ یعنی منصب اومرتبه ﴿ **للامربالمعروف والنهی عن المنکر** ﴾ هغه امربالمعروف اونهی عن المنکرچه هغه بغیرددینه نه کیږي چه امر



اوناهي په دمرتبي خاوندان وي ﴿ **وتنفیذالحق** ﴾ یعنی دحق نافذولولپاره ﴿ **واعزازالدین** ﴾ یعنی دي لپاره چه دین غالبه اوعزتمندشي ﴿ **لالنفسه وهواه** ﴾ یعنی دخپل ځان دمراددحاصلولولپاره نه وي ﴿**فیجوزذالک** ﴾ یعنی په علم باندي منصب اومرتبه غوښتل ﴿ **بقدرما** ﴾ یعني هغه اندازه منصب غوښتل جائزدي چه په هغي سره امربالمعروف اونهی عن المنکرراشي ځکه داطلب اګرچه په ظاهرکي دچوکي اومنصب لپاره دي لکن په حقیقت کي داخرت لپاره دي ځکه پدي سره هغه امربالمعروف اونهی عن المنکرراځي چه هغه یوغوره عبادت دي ﴿ **فی ذالک** ﴾ یعنی په طلب دعلم کي ﴿**فانه** ﴾ یعنی داعلم په څومره تکلیف اومشقت باندي حاصلوي لکه پدي قول کي ورته اشاره کوي ﴿ **فانه یتعلم العلم بجهدکثیر** ﴾ جهدپه فتحي سره مشقت ته وایي اوپه ضمي اوفتحي دواړوسره طاقت ته هم وایي اودلته ورنه اوله معنی مراده ده ﴿ **فلایصرفه** ﴾ یعنی علم ﴿ **الی الدنیا** ﴾ دادادني لپاره تانیث دي اوددنوي یادناءة نه مشتق دي ﴿**هی الدنیا** ﴾ هي ضمیردقصي دي اوداچه کله په مفسره جمله کي راشي نوتانیث یي پکاردي یعنی بایدچه مؤنث ذکرشي اودلته یي هم ددي وجي نه مؤنث ذکرکړي دي اودامبتدااوله ده اوالدنیادوهمه مبتداده ﴿ **اقل من القلیل** ﴾ داددوهمي مبتدالپاره خبردي اوداټوله جمله داولی مبتدالپاره خبردي اودادانتهایی قلت نه کنایه ده ﴿ **اذل من الذلیل** ﴾ یعنی داذلیل دجنس نه دي اوداهم دانتهایی ذلت نه کنایه ده ﴿**تصم** ﴾ یعنی کوڼ کوي ﴿ **بسحرها** ﴾ یعنی په هغه ښائست اوشهوت باندي سړي کوڼ کوي چه هغه دسحرپشان دخلکوزړونه ځان ته راجلبوي ﴿ **قوماً** ﴾ چه هغه ددنیاتابعداري کوي اوددي ځائست اوخوندته میلان کوي مطلب داچه دنیادوی دحق اوریدلواوقبلولونه اړوي اواعراض ته یي برابروي ﴿ **وتعمی** ﴾ یعنی دوی دحق دلیدلونه ړانده وي ترڅوحق په سترګوباندي ونهویني ﴿**فهم** ﴾ یعنی داقوم چه کله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

روندا وکوڼ شی ﴿ متحیرون بلادلیل ﴾ یعنی داسی څوک نشته چه دوی ته برابره اوحق لاره وښایی نودوی دعناداوضدپه میدان کی حیران ولاړ وی لکه سړی چه ربښتیا ړونداوکوڼ وی اوپه تګ اوراتګ کی حیران وی اودا پته ورته نه وی چه زه چرته ځم اودڅه لپاره ځم نوهګ حیران وی

وینبغی لاهل العلم لایذل نفسه بالطمع فی غیرمطمع ویتحرز عما فیه مذلة العلم واهله ویکون متواضعاً والتواضع بین التکبروالمذلة والعفة کذالک یعرف ذالک فی کتاب الاخلاق انشدالشیخ الامام الاجل الاستاذرکن الاسلام المعروف بالادیب المختارشعرالنفسه

* ان التواضع من خصال المتقی * وبه التقوی الی المعالی یرتقی *

* ومن العجائب عجب من هوجاهل * فی حاله اهوالسعید ام الشقی *

* ام کیف یختم عمره وروحه * یوم التوی متسفل اومرتقی *

* والکبریاء لربنا صفة به * مخصوصة فتجنبنها واتقی *

قال امام ابوحنیفة رحمه الله لاصحابه عظموا عمائمکم ووسعوا اکمامکم وانما قال ذالک لئلایستخف بالعلم واهله وینبغی لطالب العلم ان یحصل علی کتاب الوصیة التی کتبها ابوحنیفة رحمه الله لیونس بن خالد السمتی رحمه الله عندالرجوع الی اهله یجده من یطلبه وقدکان استاذنا الشیخ الاسلام برهان الائمة علی ابن ابی بکرقدس الله روحه امرنی بکتابته عندالرجوع الی بلدی وکتبته ولابدللمدرس والمفتی فی معاملات الناس منه

**ترجمه**: اوعلماؤته پکاردی چه په بی ځایه تمعه کولوسره ځان سپک اوذلیله نه کړی اودهغه شی نه ځان وساتی چه په هغه سره دعلم اوعلماؤسپکاوی اوذلت راځی اوبایدچه عالم دعاجزی خاوندوی اوعاجزی دتکبراودمذلت په منځ کی وی اوعفت هم دتواضع پشان دی اودا په کتاب الاخلاق کی معلومیږی زمونږاستاذلوی امام شیخ رکن الاسلام چه په ادیب المختاربانذی مشهور دی ده به خپل یوشعرمونږته ویلی مفهوم یی داسی دی



چه عاجزی اوتواضع دهغه چاصفت دی چه دالله ﷻ نه ویریږی اوپه عاجزی سره متقی سړی لوړومرتبوته خیژی اودهغه سړی غروراوعجب ته تعجب دی چه دخپل حال نه هم ناخبره وی چه دانیک بخته دی اوکه بدبخته اوچه دده دعمرخاتمه به څنګه وی اوچه دده روح به اسفل السافلین ته ځی اوکه علیین ته به ځی اوتکبراولویی زمونږدرب صفت خاص دی نودتکبرنه اجتناب وکړه اوځان ورنه وساته امام ابوحنیفة رحمه الله به خپلوملګروته ویل چه پګړی غټی کړی اولستونی پراخه کړی اودایی ددی لپاره ویل چه دعلم اواهل علموسپکاوی ونه شی اوهرطالب العلم ته پکاردی چه دامام صیب هغه کتاب الوصیة پیداکړی چه یوسف بن خالدسمتی ته یی لیکلی وؤکله چه یوسف بن خالدخپل کورته واپس کیدلواوڅوک چه دده کتاب الوصیة طلب کوی نوپیداکولی یی شی اوزمونږاستاذشیخ امام علی بن ابی بکرماته دده وصیت دلیکلوامروکړوکله چه زه خپل کلی ته واپس کیدم اوماهغه ولیکلواومدرس اومفتی چه کله دخلکومعاملی حل کوی نوداکتاب الوصیت ورته ضروری اولازی دی

**تشریح**: ﴿ ان لایذل ﴾ داداذلال نه مشتق دی ﴿ نفسه ﴾ دادیذل لپاره مفعول دی مطلب داچه خپل ځان ذلیله نه کړی ﴿ بالطمع فی غیرمطمع ﴾ یعنی بی ځایه طمعه ونکړی پدی سره دهغه طمعی نه احترازراغلوچه په خپل ځای باندی وی مثلاً دعلم لپاره طمعه کوی څکه ددی طمعی لپاره ځان ذلیله کول جائزدی اوپدیکی کوم ضررنشته بلکه داپه حقیقت کی عین عزت دی ﴿ ویتحرز ﴾ داپه ان لایذل باندی عطف دی اومنصوب دی ﴿ عمافیه مذلة العلم واهله ﴾ واهله په العلم باندی عطف دی اومجروردی یعنی چه دذلالت په ځای کی ځان واقع کی نودداسی کارونونه ځان ساتل لاز م دی ترڅودعلم اواهل علموتحقیراوسپکاوی رانشی ﴿ ویکون ﴾ دامنصوب دی اوپه ماقبل بآندی عطف دی اوضمیرمستترپکی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اهل علموته راجع دی **﴿ متواضعا ﴾** دادیکون لپاره خبردی اوبه راروان قول سره دتواضع تفسیرکوی **﴿ والتواضع بين التكبروالمذلة ﴾** یعنی تواضع دتکبراومذلت په مابین کی متوسط اودرمیانه حالت دی اوتکبراومذلت دواړه حرام صفتونه دی ځکه تکبردالله ﷻ خاص صفت دی لکه الله ﷻ په حدیث قدسی فرمایی **العظمة** ازاری **والكبرياء ردائی** یعنی دادواړه صفتونه زماذات پوری خاص دی اومانه غیربل چاسره مناسب ندی اودمذلت صفت ځکه حرام دی چه دانسان ذلیله کول جایزنه دی بلکه حرام دی نوددی دواړویه منځ کی چه کوم درمیانه صفت دی نوهغه مقبول دی چه هغه تواضع ده ځکه خیرالاموراوسطها **﴿ والعفة ﴾** یعنی دحرامونه ځان ساتل **﴿ كذالك ﴾** یعنی داهم دتکبراومذلت په مابین کی دی ځکه کمزوری اوضعیفه سړی دحلالوپه طلب کی تکبرنه کوی اودحراموپه طلب کی ځان نه ذلیله کوی اوداهم کیدی شی چه دکذالک معنی داشی چه عفت هم دتواضع پشان دعلم سره لا زمی صفت دی **﴿ ويعرف ذالك ﴾** یعنی داخبره چه عفت پشان دتواضع دی **﴿ فی كتاب الاخلاق انشد الشيخ الى قوله شعرا ﴾** دادانشدلپاره مفعول دی **﴿ لنفسه ﴾** یعنی داسی شعردی چه پخپله یی ویلی دی چه هغه داشعردی **﴿ ان التواضع من خصال المتقى ﴾** یعنی عاجزی دهغه چاصفت دی چه هغه دالله ﷻ نه ډاریږی **﴿ وبه ﴾** یعنی په تواضع سره دایرتقی پوری متعلق دی داهتمام اووزن شعری دوجی نه ورنه مقدم شوی دی **﴿ التقى ﴾** په وزن دفعیل سره په معنی دفاعل دی اوددی وجی نه مرفوع دی چه دامبتداده اویرتقی یی خبردی **﴿ الى المعالى ﴾** یعنی اجتومرتبوته **﴿ يرتقى ﴾** یعنی لوړومقامونوته یی خیژوی اوجاراومجرورتربه پوری متعلق دی

دمعنی حاصل داشوچه تواضع اوعاجزی دمتقیانوخلکوخوی اوخصلت دی چه ددی په واسطه باندی لوړواوچتومقامونوته رسیږی ځکه رسول الله ﷺ فرمایی **من تواضع لله رفعه الله ومن تكبروضعه الله** **﴿ ومن العجائب ﴾** داخبرمقدم دی **﴿ عجب ﴾** دامبتدامؤخره ده



اودامصدردی اوخپل فاعل ته مضاف دی چه هغه من دی **﴿ من هوجاهل ﴾** من موصوله دی اومابعدجمله ورته صله ده **﴿ فی حاله ﴾** داجاهل پور ی متعلق دی **﴿ اهو ﴾** همزه پکی داستفهام لپاره ده اودامبتداده **﴿ السعيد ﴾** دایی خبردی **﴿ ام شقى ﴾** داپه السعیدباندی عطف دی یعنی دهغه سړی په حال باندی تعجب دی چه په خپل حال باندی ناخبره وی اوته پته نه لګیږی چه دانیک بخته دی اوکه بدبخته دی اوددی سره سره بیاهم پخپل حال باندی مغروردی اوعجب وریاندی کوی اوحالانکه دداسی سړی سره مناسب داده چه پخپل حال باندی فکروکړی اودبدی خاتمی نه وډارشی اودالله ﷻ نه دډاراودامیدپه مابین کی ژوندتیرکړی **﴿ ام كيف يختم عمره ﴾** یعنی ده ته پته نه لګیږی چه دده عمربه په کوم حالت کی ختمیږی چه ایادده خاتمه به په ایمان باندی وی اوکه په کفرباندی به وی نعوذبالله منه

**﴿ اوروحه يوم النوى ﴾** یعنی په هغه ورځ باندی چه کله مړه کیږی اودادیختم لپاره مفعول فیه دی نوددی وجی نه منصوب دی

**﴿ متسفل اومرتقى ﴾** دادمحذوفی مبتدالپاره خبردی اوداجمله ماقبل لپاره بیان دی اوتقدیردعبارت داسی دی الروح متسفل ای نازل اسفل السافلین اومرتقی ای صاعدااعلی العلیین یعنی ده ته پته نه لګیږی چه دده خاتمه به په ایمان سره راخی ترڅودده روح علیین ته وخیژی اوکه دده خاتمه به په کفرسره وی ترڅودده روح سافلین ته کوزشی نعوذبالله تعالی **﴿ والكبرياء ﴾** هغه لویی چه ثابته ده

**﴿ لربنا صفة ﴾** دادمبتدالپاره خبردی **﴿ به ﴾** دارتلونکی دی قول پوری متعلق دی **﴿ مخصوصة ﴾** یعنی کبرداسی صفت دی چه دالله ذات پوری خاص دی نوهرکله چه داسی ده **﴿ فتجنبنها ﴾** دادامرحاضرصیغه ده اوحرف یاپکی دقافیی دضرورت دوجی نه زیاته شوی ده یعنی ددی صفت دموصوف کیدلونه ځان وساته ځکه



Scanned with CamScanner

داصفت دالله ﷻ پورې خاص دی اوبل څوک ورسره پکې شريک
نشته لکه مخکې حديث تيرشو ﴿ قال ابوحنيفة رحمه الله لاصحابه ﴾ يعنې
خپلوملګروته يې خطاب کولواوپه خطاب باندې لام دلالت کوي
﴿ عمائمکم ﴾ داجمعه دعمامة ده ﴿ اکمامکم ﴾ داجمعه دکم
ده په ضمې دکاف اوپه تشديدميم سره په پښتوکې ورته لستوڼي
وايي اوپه فارسي کې ورته آستين وايي ﴿ وانماقال ذالک ﴾ يعنې
داکلام

﴿ باالعلم واهله ﴾ جاراومجروردیستخف لپاره قائم مقام دفاعل
دی يعنې چه علم اواهل حقيراوسپک ونه ګرزيږي ځکه
دخلکونظراکثره په لباس باندې وي ﴿ ان يحصل ﴾ دادتحصيل نه دی
﴿ السمتي ﴾ دامنسوب دی سمت ته اودادحديثوپولوی عالم ؤ ﴿
عندالرجوع ﴾ يعنې دامام صيب دملګرتيانه ﴿ الى اهله ﴾ اوخپلوبچوته
﴿ يجده ﴾ داجدااومستانف کلام دی ګوياچه سائل سوال وکړوچه
داکتاب الوصية مونږچرته راپيداکړونومصنف جواب ورکړوچه
څوک يې کوشش اوطلب کوي نوهغه يې پيداکولی شي ځکه
مشهوره مقوله ده چه من طلب فقدوجد ﴿ على ابن ابى بکر ﴾ داعطف
بيان دی ﴿ وکتبته ﴾ يعنې دهغه امرمې په ځای کړو ﴿ ولابدللمدرس
والمفتى فى معاملات الناس ﴾ داقول چه في معاملات الناس المفتی
پورې متعلق دی ﴿ منه ﴾ دالابدپورې متعلق دی يعنې مفتي ته هغه
کتاب الوصية لازم دی چه امام صيب يوسف بن خالدته ليکلی ؤچه
هغه پخپله وړوکی کتاب دی لکن په ښخولويوفائدوباندې مشتمل دی

## فصل في اختيارالعلم والاستاذوالشريک والثبات عليه

ينبغي لطالب العلم ان يختارمن کل علم احسنه ومايحتاج اليه في امردينه في
الحال ثم مايحتاج اليه في المآل فيقدم علم التوحيدوالمعرفة ويعرف الله تعالى
باالدليل فان ايمان المقلدوان کان صحيحاعندنالکن يکون آثماًبترک الاستدلال
ويختارالعتيق دون المحدثات قالواعليکم باالعتيق واياکم والمحدثات واياک ان تشغل
بهذاالجدل الذي ظهربعدانقراض الاکابرمن العلماء فانه يبعدالطالب عن الفقه



ويضيع العمرويورث الوحشة والعداوة وهومن اشراط الساعة وارتفاع العلم والفقه
کذاوردفي الحديث

واماالاختيارالاستاذفينبغي ان يختارالاعلم والاورع والاسن کمااختارابوحنيفة
رحمه الله حينئذحمادبن ابي سليمان بعدالتامل والتفکروقال ابوحنيفة رحمه الله وجدته
شيخاوقوراحليماصبوراوقال ثبت عندحمادبن سليمان فنميت قال رحمه الله سمعت حکيمامن
حکماء سمرقندان واحدامن طلبة العلم شاورني في طلب العلم وکان عازماعلى
الذهاب الى بخاری لطلب العلم

**ترجمه**: فصل دی په بيان دغوره کولودعلم کې اوداستاذکې
اوملګري کې اوپه ثبات کې نوطالب العلم ته پکاردی چه دهرعلم
نه خايسته حصه غوره کړي اودهغه شي علم غوره کړي چه داورته
ددين په امورو کې هروخت ضرورت لري اوبيادهغه شي علم غوره
کړي چه داورته په راتلونکې کې ضرورت لري نوپکارده چه طالب
العلم دالله ﷻ ديووالي علم اودالله ﷻ دپيژندګلوعلم مخکې کړي
اوهمدارنګه پکارده چه الله ﷻ په دليل سره وپيژني ځکه دمقلدسړي
ايمان اګرچه زمونږپه نزدصحيح دی لکن داستدلال په پريخودلوسره
ګنهګاريږي

اوپکارده چه طالب العلم پخواني اوقديم علمونه غوره کړي
اواوسني نوي پيداشوي علمونه غوره نه کړي ځکه علماء فرمايي چه
په تاسوباندې دپخوانيوعلمونوزده کول لازم دي اودروستنيونوي
علمونونه ځان وساتي اوپدې لاتجه من علمونوکې دمسروفيت نه
ځان وساته کوم چه دپخوانيولويوعلماؤدتيردلونه وروسته راغلي
اوښکاره شوي دي ځکه پدې علمونوکې مسروفيت طالب العلم
دفقهي دعلم نه لرې کوي اوعمرضائع کوي اوبيواخې والي اووحشت
راپيداکوي اودادقيامت اودعلم اودفقه داوچتيدودعلامونه دي لکه
ځنګه چه په حديث شريف کې راغلي دي

اوهرچه داستاذغوره کول دي نوطالب العلم ته پکاردی چه
داسې استاذغوره کړي چه هغه ډيرپوه وي اوډيرعمرواله وي لکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ځنګه چه امام ابوحنیفة رحمه الله دډیرفکراوسوچ نه روسته حمادابن سلیمان غوره کړی ؤامام صیب وایی چه ماحمادبن سلیمان په داسې حال کی پیداکړوچه داډیربوډااودعزت نه ډک ؤاوډیرحلیم اوصبرناک ؤبیاامام صیب وایی چه زه دده سره پاتی شوم تردی چه زه رالوی شوم اودی درجی ته ورسیدم اوامام صیب فرمایی چه ماته دسمرقنددحکماؤنه یوحکیم وویل چه یوطالب العلم مانه دعلم په طلب کولوکی مشوره وغوښته اودی طالب العلم دعلم حاصلولولپاره بخاری ته نیت کړی ؤ

**تشریح:** **﴿علیه﴾** یعنی په علم باندی **﴿احسنه﴾** داد یختاره لپاره مفعول دی ددی وجی نه منصوب دی اوداحسن تفسیرته پدی قول کی اشاره کوی **﴿ومایحتاج الیه فی امورالدینیه فی الحال﴾** یعنی پکارده چه دهغه فرضوعلم غوره کړی چه په ده باندی په ټولوحالتونوکی فرض وی لکه دلمانځه علم **﴿ثم مایحتاج الیه فی المال﴾** یعنی په راتلونکی زمانه کی ورته ضرورت لری مثلادهغه فرضونه علم چه پده باندی دشرط دنیشتوالی دوجی نه فی الحال نه وی فرض مثلادحج اوزکوة علم په هغه چاباندی چه فی الحال وریاندی واجب نه وی **﴿ویقدم علم التوحید﴾** داپه یختارباندی عطف دی یعنی طالب العلم ته پکاردی چه دتوحیدعلم په نوروعلمونوباندی مقدم کړی ځکه توحیددټولوعلومولپارد اساس اوبنیاددی **﴿ویعرف الله تعالی بالدلیل﴾** یعنی همدارنګه پکارده چه الله جل جلاله په دلیل سره وپیژنی اودلیلونه په مؤثرباندی استدلال ونیسی اوبدیکی تقلیدونه کړی **﴿فان ایمان المقلد﴾** یعنی دهغه سړی ایمان چه دلیل یی نه وی نیولی بلکه دخپلوپلرونوتقلیدیی کړی وی **﴿وان کان صحیحاعندنالکن یکون اثمابترک الاستدلال﴾** ځکه الله جل جلاله انسان ته عقل ورکړی دی ترڅوپدی سره دالله جل جلاله په وجوداووحدانیت باندی دلیل ونیسی نوهرکله چه په عقل سره دلیل ونه نیسی نوده دعقل دنعمت شکراداء نه کړوبلکه دنعمت ناشکری یی وکړه نوددی وجی نه



ګنهګاریږی **﴿ویختار﴾** دامنصوب دی اوپه ماقبل باندی عطف دی یعنی طالب العلم ته پکارده چه غوره کړی **﴿العتیق﴾** یعنی پخوانی علم چه هغه درسول الله ﷺ اوصحابه رضي الله عنهم اوتابعینوعلم دی **﴿دون المحدثات﴾** یعنی هغه علمونه چه ددوی په زمانه کی نه وه بلکه په روسته زمانوکی منځ ته راغلل لکه علم منطق علم حکمت **﴿قالوا﴾** یعنی علماؤ **﴿علیکم﴾** یعنی په تاسولا زمیږی **﴿العتیق﴾** یعنی پخوانی علم **﴿وایاکم والمحدثات﴾** دادتحذیرد باب نه دی یعنی ځانونه دمحدثاتونه لری وساتی. اومحدثات هم دځانونونه لری وساتی **﴿وایاک﴾** دادقالولپاره مقوله نده بلکه دمصنف کلام دی یعنی ځان وساته **﴿ان تشتغل بهذالجدل﴾** یعنی په علم الجدل اوعلم الخلاف باندی **﴿الذی ظهربعدانقراظ الاکابر﴾** یعنی دپخوانیوعلماؤنه روسته **﴿فانه﴾** دادتحذیرلپاره علت ذکرکوی **﴿عن الفقه﴾** هغه فقه چه هغه اشرف العلوم ده **﴿ویضیع العمر﴾** ځکه چه په مهمل شی کی مصرفیږی **﴿ویورث﴾** یعنی ورکوی اوپیداکوی **﴿الوحشة والعداوة﴾** ځکه پدی باندی دیوبل سره بحث اومباحثه کوی اوداغیرمقبول دی اوکوم شی چه پیداکوی نوهغه هم غیرمقبول دی **﴿وهو﴾** یعنی په لانجوکی مصروفیدل **﴿من اشراط الساعة﴾** اشراط جمعه دشرط (بالتحریک) ده علامی ته وایی اوساعت قیامت ته وایی اوساعت ورته ځکه وایی چه قیامت ناڅاپه راځی اویاددی وجی نه ورته ساعت وایی چه پدیکی حساب زرکیږی اویاددی اوږدوالی دالله جل جلاله په نزدیوساعت دی **﴿وارتفاع العلم﴾** دامجروردی اوپه الساعة باندی عطف دی اوداهم دقیامت علامه دد اویادعلم داوچتیدوعلامه ده **﴿فینبغی﴾** یعنی دده په حق کی ویل شوی دی چه پکارده **﴿ان یختار﴾** یعنی طالب العلم **﴿الاعلم﴾** یعنی هغه استاذچه زیات علم لری **﴿والاورع﴾** یعنی ډیرپرهیزګارد وی **﴿ والاسن﴾** یعنی دډیرعلم واله وی اوبوډاوی **﴿کمااختارابوحنیفة رحمه الله﴾** یعنی استاذبه داسی غوره کوی لکه څنګه چه امام صیب غوره کړی وؤ **﴿بعدالتأمل والتفکر ﴾** یعنی داستاذپه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

غوره کولوکی چه هغه په خپله زمانه کی ډیراوچت عالم ؤاوډیرپرهیزګاره ؤاوډیرعمرواله ؤ **(وجدته)** یعنی حمادبن سلیمان **(وقورا)** عزتمندؤ **(ثبت)** پ صیغی دمتکلم سره **(فنبت)** په صیغی دمتکلم سره یعنی زه دخپل استاذحمادسره پاتی شوم اودهغه ملګرتیامی همیشه پری نه خوده نوزه روروداسی راغبږ شوم لکه څنګه چه ګیاه غټیږی تردی چه دی مرتبی ته ورسیدم چه هغه داجتهادمرتبه دد **(وقال)** یعنی امام ابوحنیفة رحمه الله **(سمعت حکیما)** یعنی دیوعاقل سړی نه می خبره واوریدله څکه سمعت ذات پور ی نه متعلق کیږی بلکه مسموع پوری متعلق کیږے **(عزم)** یعنی قصداونیت یی کړی ؤ

وهکذاینبغی ان یشاورفی کل امرفأن الله تعالی امررسوله بأالمشاورة فی الاموروولم یکن احدافطن منه ومع ذالك امربأالمشاورة وکان یشاوراصحابه فی جمیع الامورحتی حوائج البیت قال علی رضی الله عنه ماهلك امرء عن مشورة وقیل الناس رجل ونصف رجل ولاشئ فاالرجل من له رأی صائب ویشاورونصف الرجل من له رای صائب ولکن لایشاوراویشاورلکن لارای له ولا شئ من لارای له ولایشاوروقال جعفرصادق رضی الله عنه لسفیان الثوری شاورفی امرك الذین یخشون الله تعالی وطلب العلم من اعلی الاموروا صعبهأفکانت المشاورة فیه اهم واوجب قال الحکیم اذاذهبت الی البخاری لاتعجل فی الاختلاف الی الائمة وامکث شهرین حتی تتامل وتختاراستاذافانك اذاذهبت الی عالم وبدات السبق عنده ربمالایعجبك درسه فتترکه وتذهب الی اخرفلایبارك لك فی التعلم فتامل شهرین فی اختیارالاستاذوشاورحتی لاتحتاج الی ترکه ولاعراض عنه فتثبت عنده حتی یکون تعلمك مبارکاوتنتفع بعلمك کثیرا

**ترجمه** اوهمدارنګه طالب العلم ته پکاردی چه په هرکارکی مشوره وکړی څکه الله ﷻ پیغمبرته په ټولوکارونوکی دمشوری کولوامرکوی اودرسول الله ﷺ نه ډیرېل هوښیارڅوک نشته اوددی سره سره الله ﷻ ورته په مشوره امرکوی اورسول الله ﷺ به په



ټولوکارونوکی دخپلوملګروسره مشوره کوله تردی چه دکورپه ضروریاتوکی به یی هم ورسره مشوره کوله

علی رضی الله عنه فرمایی دمشوری کولونه روسته سړی نه هلاکیږی اوچاویلی دی چه خلک په دری قسمه دی یوهغه سړی دی چه پوره وی اوبل هغه سړی دی چه نیم وی بل هغه دی چه هیڅ شی هم نه وی پوره سړی هغه دی چه صحیح رای هم لری اومشوره هم کوی اونیم سړی هغه دی چه رای لری لکن مشوره نه کوی اویامشوره کوی لکن رایه نه لری اوچه هیڅ شی هم نه وی نوداهغه سړی دی چه نه رای لری اونه مشوره کوی

جعفرصادق رضی الله عنه سفیان ثوری ته وویل چه په خپل کارکی دهغه چاسره مشوره کوه چه د الله ﷻ نه ډاریږے اوعلم حاصلول داوچتواوسختوکارونونه دی نوپدیکی مشوره کول ډیراهم اواوجب دی نوحکیم طالب العلم ته وویل چه کله ته بخاری ته لاړی نوعلماؤپسی اقتداء کی شک مه کوه اودوه میاشتی واوسیږه ترڅوته پکی سوچ اوفکروکړی اوبیا استاذغوره کړی څکه ته چه سمدستی یوعالم ته لاړشی اوهغه سره سبق شروع کړی اواکثره دهغه درس ستاخوښ نه شی نوته هغه پریږدی اوبل عالم ته لاړشی نوستاپه علم کی برکت نه اچول کیږے نودوه میاشتی داستاذپه اختیارولوکی سوچ وکړه اوپه هغی کی مشوره وکړه ترڅودهغه پریخودلواواعراض ته محتاجه نه شی اودهغه سره پاتی شی ترڅوستاعلم برکت ناک شی اودخپل علم نه ډیره فائده واخلی

**تشریح** **(وهکذا)** داکلام ترقال الحکیم پوری دمصنف کلام دی اوقال مقوله نه ده اودایی دقصی په مابین کی ددی لپاره راوړوچه په ټولوکارونوکی مشوره کول لازم اوضروری دی **(فان الله تعالی امر)** لکه الله ﷻ فرمایی **وشاورهم فی الامر** یعنی ددی لپاره ورسره مشوره کوه چه ددوی رای درته ښکاره شی اوددوی زړونه خوشحاله شی اودامت لپاره تمهیدشی خوداپه هغه وخت کی چه دامرتفسیرپه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

هغه شی سره وشی چه په هغی سره مشوره کیدی شی اوکه
دامرتفسیرپه جنګ سره وشی نوبیاورنه په ټولوکارونوکی دمشوری
کولواستدلال ن نه صحیح کیږی **(ولم یکن)** یعنی حال داچه یوکس
هم دده نه عاقل اوهوښیارنه ؤ **(وکان یشاور)** یعنی عادت یی داسی
ؤ **(حتی حوائج البیت)** حتی حرف عطف دی اوحوائج مجروردی اوپه
جمیع الاموربانذی عطف دی **(قیل رجل)** دادمبتدامحذوفی لپاره
خبردی یعنی افراددانسانانوپه دری قسمه دی یوهغه سړی دی چه
کامل اوپوره وی اوبل هغه دی چه نیم وی اوبل هغه دی چه هیڅ شی
هم نه وی **(فالرجل من له رای صائب)** یعنی صحیح فکرورسره وی چه
دحق سره مطابق وی **(ویشاور)** یعنی دهوښیارانوسره مشوره کوی
ترڅودرسول الله ﷺ پسی اقتداراشی **(ولکن لا رأی له)** یعنی صحیح
رأیه ورسره نه وی لکه دمخکی کلام نه همدامعلومیږی نوانسان په
دوه شیانوباندی کامل اوپوره کیږی یوداچه دصحیح فکراونظروالا
وی دوهم داچه مشوره کوی اوکله چه په انسان کی ددی دوه
صفتونونه یوصفت وی نوداسړی نیم دی **(ولاشی من لا رأی له)** ځکه
دادوه شیان دپوره سړیتوب لپاره سبب دی نوهرکله چه دادواړه په
سړی کی نه وی نوداهیڅ شی هم نه دی ځکه دسبب په انتفاء سره
مسبب هم منتفی کیږی **(شاور)** دادمشاورة امر دی **(مع الذین یخشون
الله تعالی)** یعنی علماؤسره مشوره کوی ځکه علماء دالله نه ډاریږی
لکه الله ﷻ فرمایی **انما یخشی الله من عباده العلماء** ځکه دعلماؤنه چه
کله دمشوری طلب وشی نودخیرتلقین ورکوی اوبرابری لاری ته
رهنمایی کوی ځکه دعلم موجب اومقتضی همداده **(وطلب العلم)**
دادمصنف کلام دی چه هکذاینبغی پوری مربوط دی یعنی حال
داچه دعلم حاصلول **(فکان المشاورة فیه اهم وواجب)** دنوروکارونونه
**(قال حکیم)** مصنف بیرته هغه قیصی ته واپس شوکومه چه امام
ابوحنیفة رحمه الله دیوسمرقندی حکیم نه رانقل کوله
**(اذاذهبت)** دادمخاطب صیغه ده **(الی البخاری لاتعجل)** دادنهی



حاضرصیغه ده **(فی الاختلاف)** یعنی په شک اوترددکی **(الی الائمة)** یعنی هغه علماء کرام چه دخلکوامامان دی اوپه خلکوکی
بهتره خلک دی **(وامکث شهرین)** یعنی دوه میاشتی صبروکړه
اودشهرینونه تعین مرادنه دی بلکه مقصدیی دادی چه صبرکول لا
زم دی **(حتی تتأمل الخ)** برابره خبره که دتأمل اواختیارپه دوه
میاشتوکی وشی اوکه په کم اوزیات کی وشی
**(لایعجبک)** دادااعجاب نه دی یعنی دهغه درس ستاخوښ نه شی
**(درسیته)** په فتحی ددال اوپه کسری دراء سره اویادادواړه په کسری
سره یعنی دهغه درس اوعلم ستاخوښ نه شی اوپه بعضونسخوکی
ودرسه راغلی دی **(فلایبارک)** ځکه ته چه کله یواستاذپریږدی نوهغه
ته دی ضرورورسولونویدی ضرورسولوسره ستاپه علم کی برکت نه
اچول کیږی **(ترکه)** یعنی پوره ورسره پاتی شه **(حتی لایکون)** دلته
ان مقدردی نوځکه منصوب دی **(تعلمک مبارکاوتنتفع)** داپه یکون
باندی عطف دی **(کثیرا)** یعنی چه ډیره فائده ورنه واخلی

**واعلم بأن الصبروالثبات اصل کبیرفی جمیع الامورولکنه عزیز کما قال فی شعر**

*** لکل الی شأو العلا حرکات ولکن عزیزفی الرجال ثبات ***

**قیل الشجاعة صبرساعة فینبغی لطالب العلم ان یثبت ویصبرعلی استاذوعلی کتاب حتی لایترکه ابتروعلی فن حتی لاتشتغل بفن اخرحتی ان یتقن الاول وعلی بلدحتب ینتقل الی بلد آخرمن غیرضرورة فان ذلک کله یفرق الاموروتشتغل القلب ویضیع الاوقات ویؤذی المعلم وینبغی ان یصیر عما تریده نفسه وهواه**

## قال الشاعر

*** ان الهوای هوالهوان بعینه وصریع کل هوًی صریع هوان ***

**ویصبرعلی المحن والبلیات فقدقیل خزائن المنی علی قناطیرالمحن وانشدت**

**وقیل انه لعلی بن ابی طالب رضی الله عنه**

*** الالاتنال العلم الابستة سأنبیک عن مجموعها ببیان ***

*** ذکاءوحرص واصطبارو بلغة وارشاداستاذوطول زمان ***

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

**ترجمه** پدی خبره باندی خان پوهی کړه چه صبراوثبات یعنی په یوشی باندی مضبوط ودریدل دټولوکارونواصل اوبنیاددی لکن داډیرکم وی لکه شاعروایی چه دهرسړی زړه اوچتومرتبوته حرکت کوی یعنی زړه یی غواړی چه لوړومرتبوته ورسیږی لکن په ډیروخلکوکی صبراوثبات کم وی اوحالانکه صبراوثبات لوړومرتبوته درسیدلولپاره اوبنیاددی اوداسی هم ویل شوی چه شجاعت دادی چه سړی یوساعت صبروکړی

نوطالب العلم ته پکاردی چه استاذسره په پاتی کیدلوکی صبراواستقامت وکړی اوهمدارنګه په کتاب ویلوکی هم صبروکړی تردی چه نیمائی یی پری نږدی اودعلم په فن کی هم صبروکړی تردی چه یوفن یی ترخونه وی یادکړی نوپه بل فن کی به نه مشغوله کیږی اوهمدارنګه په کوم ښارکی چه اوسیږی نوپه هغی به صبرکوی تردی چه بغیردضرورت نه به بل ښارته نه ځی ځکه داشیان په کارونوکی جداوالی راولی اوزړه مصروفه کوی اووخت ضائع کوی اوطالب ته ضرررسوی اوطالب العلم ته پکاردی چه په هغه شی باندی صبروکړی اوورنه بندشی چه دده زړه اوخواهش غواړی لکه شاعروایي

چه دخواهش تابع کیدل پخپله بعینه سپکاوی اوحقارت دی اودهرخواهش غالبه کیدل دادسپکاوی اوحقارت غالبه کیدل دی اوبل طالب العلم ته پکاردی چه په محنتونواومشقتونوباندی صبروکړی لکه دامتل ویلی شوی دی

چه مقصودته درسیدلوخزانی ډیرمحنتونه اوتکلیفونه ګالل دی اومادی په باره کی داشعرولوستلوچاویلی چه داشعردعلی رضی اللہ عنہ دی خبردارچه علم ته رسیدل نشی کولی مګرپه شپږوشیانوباندی به رسیږی زردی چه دهی ټولوبیان به زه تاته وکړم ؛چه یوهوښیارتیاده اوبل په علم باندی حرص کول دی اوبل



صبرکول دی اوبل دحاجت په اندازه باندی خرچه لرل دی اوبل داستاذرهنمایی ده اوبل ډیره زمانه علم حاصلول دی

**تشریح** **(اصل کبیر)** چه پدی باندی نورامربناء دی **(فی جمیع الامور)** یعنی ټول اموریه صبرباندی بنااومرتب کیږی **(عزیز)** یعنی لږدی **(لکل الی شا)** شاسبقت اومخکی والی ته وایی یعنی دهریوکس زړه حرکت کوی اوغواړی چه اوچتومرتبوته ورسیږی اوجارمجرورحرکات پوری متعلق دی اودتقدیم وجه یی مخکی ذکرشوی ده **(ولکن)** کلمه دلکن مخففه ده اوعمل نه کوی اومابعدورنه مبتدااوخبردی نومعنی داشوه چه په یوه ډله خلکوکی دصبرماده کمه ده ترڅولوړومرتبوتهورباندی ورسیږی نوددی وجی نه اکثرد خلک هغولوړورتبوته نه رسیږی چه هغی لپاره صبراواستقامت بنیاددی ددی وجی نه یومتل شوی دی هغه داچه څوک صبروکړی اومضبوط پاتی شی نودابه راټوکیږی اوغټیږی به اوپه پښتوکی هم ددی معنی مطابق یوبیت دی وایی

لکه ونه مستقیم پخپل مقام یم ❀ که خزان راباندی راشی که بهار

**(وقیل)** یعنی دصبرپه فضیلت کی **(الشجاعة صبرساعة)** یعنی شجاعت دانه دی چه سړی دبدن نه قوی وی بلکه شجاعت دادی چه سړی په مشقتونواودردونوباندی صبروکړی **(ویصبرعلی استاذه)** یعنی دهغه سره پاتی شی اواعراض ورنه ونه کړی **(وعلی کتاب)** ترڅوکتاب مکمل خلاص کړی **(ابتر)** دادضمیر دمفعول نه حال دی یعنی کتاب ناقص اونیمایی پرې نږدی **(وعلی فن)** دفنونونه **(قبل ان الخ)** یعنی چه اولنی فن یی ښه یادکړی نه وی **(وعلی بلد)** یعنی په کوم ښارکی چه دده علم شروع کړی دی **(من غیرضرورة)** یعنی داسی ضرورت نه وی چه انتقال واجبوی اوکه ضرورت ونوبیاپروانه کوی **(فان ذالک کله)** کله منصوب دی اوذالک لپاره تاکیددی یعنی دعلم نه اودفن نه پورد کول اوپه بل فن کی شروع کول اودوښارنه بل ښارته بغیردضرورت نه تلل **(وهواه)** لکه نفسانی خوندونه اوشهوتونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

**(بعينه)** يعنى خواهش فرستى اوعشق كول داپخپله ذلت اوحقارت دى ځكه دخپل نفس تابعدارى كول انسان په ذلت كى واقع كوى ځكه دابه هغه كارونه كوى چه هغه دذلت اوحقارت تقاضاكوى **(لهوالهوان)** دا ادعاء اومبالغه ده **(وصريع كل الخ)** يعنى په چاباندى چه خواهش غالبه شى اوحمله ورباندى وكړى نوبه ده باندى ذلت اوحقارت غالبه كيږى اوحمله ورباندى كوى اوداسړى خپله قبيح اوبدګرزيږى اوپدى ځاى كى دمبتداتقديم په خبرباندى واجب دى ځكه دواړه برابردى **(ويصير)** دامنصوب دى اوپه مخكى يصيرباندى عطف دى **(على المحن)** په كسرى دميم سره اوپه فتحى دحاسره جمعه دمحنة ده **(والبليات)** يعنى په هغه تكليفونوباندى چه دعلم په لاركى ده ته مخ ته راځى **(المنى)** دادمنية جمعه ده اومقصودته وايى **(على قناطيرالمحن)** قناطيرجمعه دقنطارده كله چه مطلق ذكرشى نوبياډيرواوبوته وايى اوكله چه يى اضافت بل شى ته وشى نوبيا صرف كثرت ورنه مرادوى نومعنى داشوه چه دمقاصدوخزانى په ډيرومحنتونوباندى مشتملى دى نوځوك چه مقاصدحاصلوى نوخامخابه تكليفونه اومحنتونه تيروى اوپدى باندى به صبركوى

**(وانشدت)** يعنى دغه بيتونه مى ولوستل كوم چه راروان دى **(وقيل انه )** داجمله معترضه ده چه داشاعردمعلوموپلاره يى راوړله **(الاالخ)** داحرف تنبيه دى نومعنى داشوه چه خبردارعلم به ترهغى پورى حاصل نه كړى اونه به ورته ورسيږى ترڅوچه پدى شپږوشيانوباندى عمل ونه كړى **(سأنبيك)** يعنى خبربه دركړم **(ذكاء)** دامجرور دى ځكه چه دستة نه بدل دى اومنصوب اومرفوع هم كيدلى شى اوذكاوت دذهن تيزوالى اوهوښيارتياته وايى **(وحرص)** يعنى دعلم په حاصلولو كى حرص كوى **(واصطبار)** يعنى په محنتونوباندى صبركوى **(وبلغة)** په ضمى دبااوسكون دلام سره يعنى چه دومره خرڅه ورسره وى چه بل چاته ضرورت ونه لرى ځكه احتياج په عقل كى تشويش راولى نوبيادعلم حاصلول سخت دى



**(وارشاداستاذ)** يعنى په صحيح طريقه باندى داستاذرهنمايى **(وطول زمان)** يعنى اوږدوخت ته ضرورت لرى ترڅوپدى وخت كى علم حاصل كړى ځكه دعلم مقدمى اومبادى ډيرزيات دى چه په لږوخت كى نه حاصليږى

**واما اختيار الشريك فينبغي ان يختار المجد والورع وصاحب الطبع المستقيم والمتفهم ويفر من الكسلان والمعطل والمكثار والمفسد والفتان؛**

## قيل

★عن المرء لاتسئل وابصر قرينه فان القرين بالقرين يقتدى★

★فان كان ذاشر فجنبه سرعة وان كان ذاخير فقارنه تهتدى★

## وانشدت—

★لاتصحب الكسلان فى حالاته كم صالح بفساد آخر تفسد★

★عدوى البليد الى الجليد سريعة كالجمر يوضع فى الرماد فيخمد★

**وقال صلى الله عليه وسلم كل مولود يولد على فطرة الاسلام الاان ابويه يهودانه اوينصرانه اويمجسانه الحديث: ويقال فى الحكمة بالفارسية**

★يار بد بدتر بود از مار بد  بحق ذات پاك الله الصمد★

★يار بد آرد تراسوى جحيم  يار نيكو گير تا يابى نعيم★

## وقيل

★ان كنت تبغي العلم عن اهله اوشاهد يخبر عن غائب★

★فاعتبر الارض باسمائها واعتبر الصاحب بالصاحب★

**ترجمه:** اوهرچه دملګرى غوره كول دى نوطالب العلم ته يكاردى چه داسى ملګرى غوره كړى چه هغه ډيركوښش كوى اوډيرپرهيزګاره وى اوښه طبيعت واله وى اوده سستى اوبى كارى نه اوډيروخبرونه اودفساداوفتنونه تختيږى لكه شاعروايى

دسړى دحال پوښتنه مه كوه چه دابنه سړى دى اوكه بدسړى دى بلكه ملګرى ته يى اوګوره ځكه هرملګرى دخپل ملګرى تابعدارى كوى نوكه ملګرى يى شرى ونوددملګرتيانه يى په

تلوارسره ځان وساته اوکه ملګری یی دخیروالہ وی نوملګرتیاورسره
وکړه ترڅوتاته برابره لاره وښایی اوزه یوڅوبیتونه وایم هغه داچه
په هیڅ حال کی دسست سړی ملګرتیا مه کوه :ځکه ډیرځلی
یوصالح سړی دفاسدسړی په وجه باندی فاسدیږی :دبی وقوفه
سړی اثرهوښیارسړی ته داسی په تلوارسره رسیږی :لکه څنګه چه
یوه سکروټه په ایروکی کیښودل شی اوهغه مړه اوسړه شی

اورسول الله ﷺ فرمایی چه هرماشوم داسلام په فطرت باندی
پیداکیږی یعنی هرماشوم چه پیداکیږی نوهغه مسلمان وی
مګرپلاریی یایهودی کړی اویانصرانی کړی اویایی مجوسی کړی
الحدیث: اوپه فارسی کی ویل شوی دی

بدیاراودوست دبدمانه هم ډیربددی :دالله ﷻ په حق کی چه
هغه بی نیازه ذات دی :اوبدیارتادجهنم په طرف رسوی :نوښه
یاردوست ونیسه ترڅوتادجنت په طرف بوزی؛اوداسی هم ویل شوی
دی چه که چرته ته غواړی چه علم دخپل اهل نه حاصل کړی اویاته
پخپله حاضروی اودغائب سړی دحال نه ځان خبرول غواړی
نودځمکی په نومونوباندی قیاس وکړه اودیوملګری په بل باندی
قیاس وکړه

**تشریح** **(المجد)** دااجد یجدنه داسم فاعل صیغه ده یعنی چه ډیرکوشش کوی **(والورع)** په فتحی دواواوپه کسری دراسره صفت مشبه دی یعنی دحرامونه ځان ساتی **(ویفر)** داپه یختارباندی عطف دی اومنصوب دی اودفرارنه دی **(من الکسلان)** صفت مشبه ده دتکاسل نه **(والمعطل)** داصیغه داسم مفعول ده بی کاره سړی ته وایی **(والمکثار)** دادکثرت نه دمبالغی صیغه ده یعنی چه ډیری خبری کوی **(والمفسد)** یعنی چه فسادی وی **(والفتان)** یعنی فتنه پکی وی **(قیل عن المرء الخ)** یعنی دسړی دحال تپوس مه کوه چه دانیک عمله دی اوکه بدعمله دی بلکه ملګری ته یی ګوره ترڅودرته پته ولګیږی چه دده حالت څه دی **(یقتدی)** یعنی په اقوالواوافعالوکی دخپل



ملګری تابعداری کوی **(بالمقارن)** داتریقتدی متعلق دی دقافیی دلحاظ ساتلودوجی نه ورنه مقدم شوی دی **(فان کان ذاالخ)** دادمخکی نه جداکلام دی اودسوال په جواب کی واقع شوی دی ګویاچه سائل سوال وکړوچه دملګری تپوس وکړم نوبیااوربانډی څه وکړم نوده جواب ورکړوچه کله یی ملګری شری اوفسادی وی نودځان نه یی په تلوارسره لری کړه ترڅودده شراوفسادپتاکی اثرونه کړی اوسرعة پ نزع خافض سره منصوب دی اوپه بعضونسخوکی فجانب راغلی دی یعنی په تلوارسره ورنه ځان وساته **(وان کان ذاخیرفقارنه)** داامرحاضر صیغه ده اوتهتدی یی جواب دی اودلته یی یاذکرکړی ده اوقیاس داتقاضاکوی چه بایدیاساقطه شی ځکه دیاساقط کیدل دجرم علامه ده لکن دلته یی دقافیی دوجی نه نده حذف کړی نومعنی داشوه که چرته یی ملګری دخیروالہ وی نوملګرتیاورسره وکړه ترڅوتاته هم برابره لاروښایی ځکه دداسی سړی ملګرتیاکول اثرلری نوپتاکی به هم دهغه منافع اوفوائداثروکړی اوپه بعضونسخوکی فقارنه راغلی دی ددی معنی هم ظاهره ده **(وانشدت)** په صیغی دمتکلم سره فعل دی یعنی داشعرزماپه مخکی ولوستل شو **(لاتصحب)** یعنی دسست سړی سره ملګرتیاپه هیڅ حال کی هم مه کوه **(کم صالح)** کم دخبریت لپاره دی یعنی ډیرصالحان (لفسادآخر) یعنی دبل سړی دفساددوجی نه داهم فاسدیږی اوپه بفساده کی بایفسدپوری متعلق ده ځکه په ده کی فساددملګرتیاددوجی نه اثرکوی نوداهم فاسدوی **(العدوی)** عدوی په فتحی دعین اوپه سکون ددال سره سرایت ته وایی اوبلید کم عقل سړی ته وایی اوجلید هغه سړی ته وایی چه حافظه یی قوی وی اوپه خبره زرپوهیږی نومعنی داشوه چه دکم عقل سړی کم عقل توب هوښیارسړی ته زرسرایت کوی **(کاالجمرالخ)** یعنی پشان دتلوارد هغه سکروټی چه په ایروکی کیښودل شی اوزرمړه شی نومعنی داشودلکه څنګه چه سکروټه په ایروکی کیښودل شی نوسکورورنه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

جوړيږي نوهمدارنګه چه کله عاقل دکم عقل سړي سره لګرتياوکړي نودملګرتيادوجې نه هوښيارسړی هم په ډيرتلوارسره کم عقل ګرزيږي نوپه جمرکې مضاف حذف دی اوداجمله په يوضع في الرمادجمرلپاره صفت دی دکمثل الحمار يحمل اسفاريشان **(على فطرة الاسلام)** فطرت خلقت ته وايي **(الاان ابواه)** دادان لپاره اسم دی ددی وجې نه منصوب دی خوداهغه چاپه نزدباندی چه تثنيه دنصب په حالت کې دحالت رفعي پشان په الف باندی ګرزوی **(يهودانه)** يعنی يهودی يی ګرزوی **(اوينصرانه)** يعنی نصرانی يی ګرزوی **(اويمجسانه)** يعنی مجوسی يی ګرزوی **(الحديث)** داځکه مرفوع دی چه دمحذوف فعل لپاره فاعل دی يعنی تم الحديث اومنصوب هم کيدلی شي چه دمحذوف فعل لپاره مفعول شي يعنی اقرء الحديث ځکه چه نورحديثونه نه دی ذکرشوی اوموږته معلوم ندی نوددی حديث نه ښکاره شود چه ملګرتيااثرلری ځکه که چرته ملګرتيااثرنه کولی نوبايدهغه خلقت چه الله ﷻ پيداکړی دی دفساداوشقاوت نه سالم اوبچ وی **(يار بد اد)** يعنی بدملګری دمارنه هم بدی اوضررنه زيات دی **(بحق ذات)** باپکی دقسم لپاره ده يعنی دالله ﷻ په ذات کی **(يار بدآرد)** يعنی بدملګری دی دجهنم په طرف بيايي **(يار نيکو)** يعنی دښه سړي سره ملګرتياوکړه چه دهغه په سبب سره جنت ته ورسيږی **(وقيل)** يعنی ددی په باره کی ويل شوی دی **(ان کنت تبغی)** يعنی که ته غواړی **(عن غائب)** يعنی کوم چه ستاد علم نه غائب وی **(باسمانها)** يعنی چه کله ځمکه دفصل واله وی نوخلک ورته ځمکه وايي اوکله چه په ځمکه ونی اوبوټی ولاړوی نوبياورته باغ وايي اوکه چرته پکی ازغی اونوربوټی راشنه شوی وی نوبياورته شاړه ځمکه وايي نوکله چه يوسړی ووايي چه زه ځمکه لرم نومرادبه ورنه هغه ځمکه وی چه هغه فصل کوی اوکه ووايي چه زه باغ لرم نومرادبه يی داوی چه زه داسی ځمکه لرم چه په هغی کی ونی اوميوی دی نوهغه ځمکه چه دسړي دسترګونه غائبه وی



دعلاماواوصفتونودوجې نه يی په هغه ځمکه باندی قياس کوی چه په سترګوورته ښکاری **(باسمانها)** يعنی سره علامونه چه ده اوريدلی وی اوپه سترګويی نه وی ليدلی مثلاښانسته هواوالا ځمکه وی اوخوږی اوبه يی وی اوډيری ميوی توليدوی نوداټول پدی باندی دلالت کوی چه دابنه ځمکه ده **(واعتبرالخ)** يعنی دځمکی پشان ملګری هم په ملګری باندی قياس کړه

## فصل في تعظيم العلم واهله

**اعلم ان طالب العلم لاينال ولاينتفع به الابتعظيم العلم واهله وتعظيم الاستاذ وتوقيره قيل ماوصل من وصل الابالحرمة وماسقط من سقط الا بترك الحرمة والتعظيم، وقيل الحرمة خيرمن الطاعة الا ترى ان الانسان لايكفربالمعصية وانمايكفرباستخفافهاوبترك الحرمة ومن تعظيم العلم تعظيم المعلم**

قال علی رضي الله عنه

**اناعبدمن علمني حرفاواحداان شاء باع وان شاءاعتق وان شاء استرق**

وقدانشدت في ذالك شعرا

☆ رايت احق الحق حق المتعلم   واوجبه حفظاعلى كل مسلم ☆

☆ لقدحق ان يهدای اليه كرامة   لتعليم حرف واحدالف درهم ☆

**فان من علمك حرفامماتحتاج اليه في الدين فهوابوك في الدين، وكان استاذناالشيخ الامام سديدالدين الشيرازی رحمه الله يقول قال مشائخنامن ارادان يكون ابنه عالمافينبغي ان يراعي الغربآء من الفقهاء ويكرمهم ويعظمهم ويعطيهم شيئافان لم يكن ابنه عالمايكون حافده عالما**

**ترجمه** فصل دی په بيان دتعظيم دعلم اواهل علموکی

پدی خبره باندی پوه شه چه طالب العلم علم نشی حاصلولی اونه دعلم نه فائده اخستلی شي مګردعلم اواهل علمواوداستاذپه تعظيم اوتوقيرسره به علم ته رسيږی

علماء وايي چه څوک لوړومرتبوته رسيدلی دی نودوی په بل شي ندی رسيدلی مګرپه احترام اوتعظيم باندی رسيدلی دی اوڅوک چه دلوړومرتبونه راغورځيدلی دی نودوی ندی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

راغورځیدلی مګردتعظیم دنه کولوپه وجه راغورځیدلی دی اوویل شوی دی چه دیوچااحترام اوتعظیم کول دهغه داطاعت کولونه غوره دی ته نه ګوری چه انسان په ګناه کولوباندی نه کافرکیږی اوپه احترام نه کولوسره کافرکیږی اودعلم دتعظیم نه داهم دی چه داستاذتعظیم وکړی لکه علی رضی الله عنه فرمایی چاچه ماته یوحرف راخودلی وی نوزه دهغه غلام یم دهغه خوښه ده که خرڅوی می که ازادوی می اوکه غلام می پریږدی اوماداستاذداحترام په باره کی یوشعراوریدلی دی چه مفهوم یی داسی دی

زه پوهیږم چه په ټولوحقونوکی زیات حق داستاذدی اوپه هرمسمان باندی ددی حق ساتنه واجب ده اواستاذددی لائق دی چه دعزت دوجی نه ورته دهرحرف دتعلیم په مقابل کی زردرهمه هبه کړی شی ځکه تاته چه څوک یوحرف هم وښائی چه ددین په کارونوکی ورته ستاضرورت وی نوداستادینی پلاردی زمونږاستاذشیخ سدیدالدین شیرازی به هروخت داخبره کوله چه زمونږمشائخوبه ویلی که هرڅوک غواړی چه دده ځوی عالم شی نوده ته پکاردی چه دغریبانواوبی وسه فقیرانولحاظ وساتی اوددوی اکرام اوعزت وکړی اوددوی ته دی دخپلومالونونه څه ورکړه کوی اوکه دده ځوی عالم نشی نوخامخابه یی په لمسیانوکی عالم پیداکیږی

**تشریح:** (وتوقیره) دادتعظیم لپاره عطف تفسیردی (قیل مالخ) ما نافیه ده اومن دوصل لپاره فاعل دی اومفعول دتعمیم دوجی نه حذف شوی دی نومعنی داشود چه یورسیدونکی خپل مقصودداومطلوب ته نه رسیږی مګرپه تعظیم کولوسره رسیږی هغه که هرمقصوداومطلوب وی (الابالحرمة) یعنی په احترام داستاذاوعلم سره یاددی نه نیردنوروسیانوتعظیم کول چه دمطلوب په حاصلولوکی ددی دخل وی (وماسقط) لته هم مانافیه ده (من سقط) یعنی یورا نورزیدونکی دلوړی مرتبی نه نه



راغورځیږی (وانمایکفر) یعنی چه دالله ﷻ دنهی اوامراحترام اوتعظیم ونه کړی یعنی سپک یی وګڼی نودالله ﷻ حکم سپک ګڼل محض کفردی (ومن تعظیم) اوپه راتلونکی قول سره ددی معنی تاکیدکوی (قال علی رضی الله عنه الی قوله استرق) یعنی چه ماسیراوغلام وګرزوی دخپل خدمت لپاره اوداکامل اوپوره تعظیم دی لکه نبی ﷺ فرمایی چاچه یوبنده ته یوایت ورزده کړونوداده مولاشو

(وقدانشدت) په صیغی دمجهول سره چه ددی ویونکی حضرت علی رضی الله عنه دی (فی ذالک) یعنی په تعظیم دمعلم اواستاذکی (حق المعلم) احق درأیت لپاره دوهم مفعول دی اوداورته صفت ندی اوپه اول مفعول باندی مقدم شوی دی نومعنی داشود چه زه پوهیږم چه داستاذحق په حقیقت کی دټولوحقونونه لایق دی (واوجبه) دا منصوب دی اوپه احق الحق باندی عطف د ی (حفظا) یعنی زه پوهیږم چه داستاذدحق ساتنه په هرمسلمان باندی لازم ده (لقدحق) لام دقسم لپاره دی یعنی ثابت اوموجوددی (ان یهدی الیه) په صیغی دمجهول سره داهداء نه دی (کرامة) داتمیزدی یعنی چه دعزت اواکرام دوجی نه ورته هبه شی (الف درهم) دامرفوع دی ځکه چه دیهتدی لپاره نائب فاعل دی (فان من علمک) دادبیت دمضمون لپاره علت ذکرکوی (تحتاج) یعنی ته (فی الدین) یعنی ددین په امورکی (فهوابوک) ځکه رسول الله ﷺ فرمایی چه غوره پلارهغه دی چه تاته علم دروښایی؛

یوروایت کی راغلی دی چه ذوالقرنین ته چاوویل چه نه ولی دخپل استاذتعظیم دخپل پلارنه هم زیات کوی نوذوالقرنین ورته وویل چه زه پلارداسمان نه ځمکی ته راکوزکړم اواستاذمی دځمکی نه اسمان ته خیژوی نوځکه داستاذاحترام زیات کوم اوذوالقرنین دقول وجه داده چه دموریه رحم کی دبدن سره دروح تعلق دادی چه انسان دیوعالم نه بل عالم ته نقل کیږی اوددی انتقال لپاره سبب موراوپلاردی اوددارالفنانه دارالبقائه دروح دختلولپاره سبب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

استاذدی خکه دده په سبب باندی روح دالله ﷻ پیژند ګلووا ومعرفت حاصلوی **(یقول)** دادکان لپاره خبردی یعنی همیشه به یی ویل **(قال مشائخنا)** دادیقول لپاره مقوله ده **(یراعی)** په معلومی صیغی سره **(الغرباء)** جمعه دغریب ده **(من الفقهاء)** دادغرباء لپاره صفت دی یعنی هغه غریبانان چه فقهاء دی **(ویکرمهم)** دامنصوب دی اوپه یراعی باندی عطف دی **(ویعظمهم)** دتعظیم نه دی **(شیئاً)** یعنی بدوی باندی مال صدقه کوی اګرکه مال کم وی چه داخبره دتنوین نه معلومیږی **(حافده)** یعنی لمسیان **(عالما)** نوددی نه معلومه شوه چه دعلماؤاکرام اوتعظیم مقبول امردی اوداسی لویی لویی فائدی سدا کوی

**ومن توقیرالمعلم ان لایمشی امامه ولایجلس مکانه ولایبتدئ بالکلام عنده الا باذنه ولایکثرالکلام عنده الا باذنه ولایسأل شیئاً عند ملالته ویراعی الوقت ولایدق الباب بل یصبرحتی یخرج وفی الجملة یطلب رضاه ویجتنب سخطه ویمتثل امره فی غیرمعصیة الله تعالی فانه لاطاعة للمخلوق فی معصیة الخالق کماقال النبی صلی الله علیه وسلم ان شرالناس من یذهب دینه لدنیاغیره :ومن توقیره توقیراولاده ومن یتعلق به وکان استاذناالشیخ الاسلام برهان الدین صاحب الهدایة یحکی ان واحدمن کبارائمة البخاری کان یجلس مجلس الدرس وکان یقوم فی خلال الدرس احیاناًفسئلوه عن ذالك فقال ان ابن استاذی یلعب مع الصبیان فی السکة ویجئ احیاناالی باب المسجدفاذارایته اقوم له تعظیماًلاستاذی**

**وکان القاضی الامام فخرالدین الارسابندی رئیس الائمة فی مرووکان السلطان یحترمه غایة الاحترام ویقول انماوجدت فی هذه المنصب بخدمة الاستاذفانی کنت اخدم الاستاذالقاضی امام زیدالدبوکی وکنت اخدمه واطبخ طعامه ثلاثین سنة ولااکل منه شیئا**

**ترجمه** اوداستاذداحترام نه یوه داده چه دده نه به مخکی نه خی اودده په ځای باندی به نه کینی اودده داجازی نه غیربه دده په مخکی کی خبری نه شروع کوی اوداستاذپه مخکی به دده داجازی نه غیردیری خبری نه کوی اوچه کله ستړی یامریض وی نودخه شی



تپوس به ورنه نه کوی اودوخت لحاظ به ساتی اوداستاذدروازه به نه ډبوی بلکه صبربه کوی ترڅواستاذپخپله راوځی لنډه داچه داستاذخوشحالی به غواړی اودخفګان نه به یی ځان بچ کوی اوداستاذامربه په ځای کوی خوهغه امرچه دالله ﷻ نافرمانی به پکی نه وی خکه دخالق په نافرمانی کی دمخلوق اطاعت نشته یعنی په کوم شی باندی چه الله ﷻ خفه کیږی نوپه هغی کی به دمخلوق اطاعت نه کوی لکه رسول الله ﷺ فرمایی چه بدترین دخلکونه هغه کس دی چه خپل دین دبل چاددنیالپاره لمنځه یوسی اوداستاذداحترام نه داهم دی چه دهغه دبچواحترام وشی اوهمدارنګه دهغه چااحترام وشی چه استاذپوری تعلق لری

زمونږاستاذشیخ الاسلام برهان الدین دهدایی شریفی مصنف به یود قصه کوله چه دبخاری دامامانونه یوشیخ اوامام په مجلس کی ناست ؤاوکله کله به ددرس په منځ کی پاڅیدونوشاګردانوورنه تپوس وکړوچه ولی پاځیږی نوهغه ورته وفرمایل چه زماداستاذخوی بهرپه کوڅه کی دماشومانوسره لوبی کوی اوکله کله دجومات دروازی ته راشی زه یی چه کله وینم نوداستاذدتعظیم دوجی نه ورته پاځیږم

اوقاضی امام فخرالدین ارسابندی چه داپه مروکی دامامانورئیس وؤاوبادشاه به انتهایی زیات احترام دده کولوداوایی چه دامنصب اومرتبه ماته داستاذپه خدمت باندی ملاوشوی ده خکه مابه دخپل استاذقاضی ابوزیددبوسی ډیرزیات خدمت کولواودده نه می دیرش کاله ډوډی پخه کړی ده اوماده دډوډی نه باالکل خوراک ندی کړی

**تشریح (امامه)** یعنی داستاذپه مخکی **(عنده)** یعنی داستاذسره **(الا باذنه )** یعنی داستاذپه مخکی به خبری نه شروع کوی مګرپه اجازت داستاذسره **(ویراعی)** یعنی حفاظت به کوی **(الوقت)** یعنی دهغه وقت چه ده درس لپاره متعین کړی وی **(یخرج)** یعنی استاذخکه داشیان داستاذپه رضاکی خلل واقع کوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

(رضاه)يعني داستاذ رضا (ويجتنب سخطه)يعني داستاذ خفګان نه (ولاطاعة) يعني دمخلوق اطاعت جائزنه دی (فی طاعة)يعني چه دمخلوق داطاعت دوجې نه دالله ﷻ نافرماني لازميږي اوداجمله دماقبل لپاره تعليل دی (ومن يتعلق به)هرڅوک چه وی برابره خبره ده که په نسب کی يی ورسره تعلق وی اوکه په سبب کی وی (يحکی)دادکان لپاره خبردی (کان يجلس)يعني عادت يی داسی ؤ(خلال)يعني په وسط اوپه منځ کی (احيانا)يعني کله کله (فی السکة)يعني کله به کوڅه کی ؤاوکله به دروازی ته راتلو(رائيته)يعني داستاذځوی(وکان السلطان)يعني دوخت بادشاه(وکان)يعني قاضي(الامام)داد استاذی لپاره صفت دی نوځکه منصوب دی (ابايزيد)دايي اسم کنيه ده (الدبوسی)په فتحی ددال اوپه ضمی دبآسره دنسبتي صفت دی داستاذی لپاره ددی وجی نه منصوب دی يعني چه بادشاه زماخدمت کوی نوداامنصب ماته داستاذپه خدمت سره مونډلی دی (وکنت اخدمه)يعني ماچه داستاذخدمت کړی اوماده ته ډوډی پخوله دادخوراک اوفائدی لپاره نه وه بلکه خاص داحترام اوتعظيم دوجې نه مې داخدمت کولو

**وكان الامام الاجل شمس الائمة الحلوانی رحمه الله قدخرج من بخاری وسكن فی بعض القری ايام الحادثة وقعت له وقدزاره تلاميذه غير الشيخ الامام القاضی شمس الائمة الزرنجی رحمه الله فقال له حين لقيه لم لم تزرني فقال كنت مشغولا بخدمة الوالدة فقال ترزق العمرولا ترزق رونق الدرس وكان كذالك فانه كان يسكن فی اكثراوقاته القری ولم ينتظم له الدرس فمن تأذی منه استاذه يحرم بركة العلم ولم ينتفع به الاقليلا**

* ان المعلم والطبيب كلاهما لاينصحان اذاهما لم يكرما *
* فاصبر لدائك ان جفوت طبيبها واقنع بجهلك ان جفوت معلما *

**وحكی ان الخليفة هارون الرشيد بعث ابنه الی الاصمعی ليعلمه العلم الادب فرآه يوما يتوضأ ويغسله رجله وابن الخليفة يصب الماء فعاتب الاصمعی فی ذالك بقوله**



**انما بعثته اليك لتعلمه وتؤدبه فلماذالم تأمره بأن يصب الماء بأحدی يديه ويغسل بالاخری رجلك؟**

**ترجمه:** شمس الائمة شيخ امام حلوانی رحمه الله يووخت دبخاری نه ووتلواودځوورځولپاره په يوکلي کی اوسيدلودوجی ديوی حادثی نه چه ده ته پيښه شوی وه نودده ټول شاګردان ده ته دملاقات اودزيارت لپاره ورتلل صرف يوشاګردده ملاقات ته ورنه رغلوچه هغه شيخ الاسلام شمس الائمة قاضی زرنجی ؤنوکله چه داداستاذسره مخ شونوهغه ورنه تپوس وکړوچه ولی ځمازيارت اوملاقات ته نه وی راغلی نوزرنجي ورته وفرمايل چه زه دمورپه خدمت باندی مصروف ؤم حلوانی ورته ووېل چه ستاپه نصيب کی به عمروی خوستاپه نصيب کی به ددرس زينت نه وی اودزرنجی حال بياهم داسی ؤځکه دابه اکثره په کلي کی اوسيدلواوددرس انتظام به ورته برابرنه ؤدچانه چه استاذازارشوی وی اواستاذته يی تکليف رسولی وی نودعلم دبرکت نه به محرومه کيږی اوعلم به ورته ډيره لږه فائده رسوی لکه شاعروايی

چه کله داستاذاوطبيب اکرام اوعزت ونشی نودادوړه دچالپاره نه خيرخواهان کيږی ؛کچرته دی طبيب سره جفاکړی وی نوپخپل مرض اودردباندی صبروکړه ؛اوکچرته دی استاذسره جفاکړی وی نوپه خپل جهل باندی قناعت وکړه

يوه واقعه رانقل شوی ده چه هارون خپل ځوی اصمعی ته ددی لپاره وليږلوچه علم ادب ورته وښايی نوهارون رشيديوه ورځ اصمعی وليدوچه اودس کوی اوخپه وينځي اودده ځوی ورته په خپه باندی اوبه اچولی نوهارون رشيد اصمعی ته په تيزه لهجه باندی داسی ووېل چه ماخوتانه ځوی ددی لپاره رالېږلی ؤچه ته ورته علم اوادب وښايی نوته ولی ورته امرنه کوی چه په يولاس باندی اوبه واچوی اوپه بل لاس باندی ستاخپه ووينځي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

**تشریح:**(الحلوانی)په ضمی دحاوسکون دلام سره اوپه اخرکی دالف نه روسته نون دی اودادیوښارنوم دی چه دشمس الائمة ورته نسبت کیږی اودنون په ځاي همزه هم راغلی ده یعنی حلوانی(بحادثة) یعنی دیوی حادثی دوجی نه (وقعت له)چه دښارنه دده وتل لازم وه (تلامیذه)دادتلمیذجمعه ده دزارت لپاره فاعل دی (غیرالشیخ) لفظ دغیرداستثناء دوجی نه منصوب دی (الزرنجی)په فتحی دراوزاسره چه روسته ورنه نون ساکن دی اودادیوځای نوم دی چه دابوبکرورته نسبت کیږی (فقال)یعنی شمس الا ئمة(له)یعنی قاضی ته (لماذالم تزرنی)یعنی دڅه شی دوجی نه دی ځماملاقات ونه کړو(فقال)یعنی قاضی (کنت مشغولا)یعنی دموریه خدمت باندی مشغول وم ځکه زیارت ته درنغلم (قال)یعنی شمس الا ئمة (ترزق العمر)ترزق صیغه دمجهول مبنی للمفعول ده اوالعمرپه نزع دخافض سره منصوب دی یعنی تاته به زیات عمرپه نصیب کیږ ی (ولاترزق الخ)یعنی دعلم روښنایی اوزینت به دی په نصیب نه وی (ولم ینتظم له)ځکه طالبان اکثره په ښارونوکی وی اوپه کلواوباندوکی کم وی (برکة العلم)یعنی دعلم دبرکت نه (الاقلیلا)یعنی لږه فائده به ورته کوی اوقلیلا دمصدریت دوجی نه منصوب دی (ان المعلم) یعنی داستاذاوډاکترچه کله تعظیم اواکرام ونشی نودطالب اومریض لپاره خیرنه غواړی ځکه چه ددوی عزت ونشی نوپه طالب اومریض باندی ترحم نه کوی (جفوت)په صیغی دمخاطب سره (طبیبها)ضمیرپکی حکمامرض ته راجع دی په اعتباردمصیبت سره یعنی که دخپل مرض دطبیب سره جفاوکړی نوبیاپخپل مرض باندی صبرکوه (واقع اه)ځکه که چرته دخپل استاذسره جفاوکړی نوهغه تاسره په تعلیم کی کوشش نه کوی نودهغه تعلیم تاته فائده نه کوی نوپخپل حال باندی جاهل پاتی کیږی (الخلیفة)یعنی دبغدادخلیفه(الاصمعی)دادعربوشیخانونه یوشیخ ؤ( فراه)یعنی خلیفه اصمعی ولیدلو(وابن الخلیفه)واود حال



لپاره دی (فی ذالک)یعنی دځوی په عمل باندی (فقال)دادعتاب لپاره تفصیل ذکرکوی (فلماذا)یعنی دڅه وجی نه (باالاخری)یعنی په بل لاس باندی (رجلک)نوددی نه معلومه شوه چه داستاذتعظیم کول لازم دی

**ومن تعظیم العلم تعظیم الکتاب** فینبغي لطالب العلم الایأخذ الکتاب الابطهارة وحکی عن الشیخ شمس الائمة الحلواني انه قال انمانلت هذ العلم باالتعظیم فاني مااخذت الکاغذ الاباالطهارة والشیخ الامام شمس الائمة السرخسی رحمة الله کان مبطوناوکان یکررفي لیلة فتوضأفي تلک الیلة سبع عشرة مرة لانه لایکررالاباالطهارة وهذالان العلم نوروالوضوءنورفیزدادنورالعلم به ومن التعظیم الواجب ان لایمدرجله الی الکتاب ویضع کتب التفسیرفوق سائرالکتب تعظیماولایضع علی الکتاب شیئاآخر

وکان استاذناشیخ الاسلام برهان الدین یحکی عن شیخ من المشائخ ان فقیهاکان وضع المحبرة علی الکتاب فقال له باالفارسیة برنیابی

وکان استاذناالاجل قاضی امام فخرالاسلام المعروف بقاضي خان رحمة الله یقول ان لم یردبذالک الاستخفاف فلابأس به والاولی ان یتحرزعنه

**ترجمه:** اودتعظیم دعلم نه تعظیم دکتاب دی نوطالب جان ته پکاردی چه بی اودسه کتاب رانخلی دشیخ شمس الا ئمة الحلوانی نه نقل دی چه ده به ویل چه دی علم ته دتعظیم دوجی نه رسیدلی یم ځکه ماکاغذهم بی اودسه ندی راغستی اودشیخ الامام شمس الا ئمة سرخسی خیټه خرابه شوی وه اودشپی یی دکتاب تکرارکولونیدی شپه کی یی اوه لس کرته اودس وکړواوداځکه چه ده بی اودسه تکرارنه کولوځکه چه علم نوردی اواودس هم نوردی نوپه اودس سره دعلم نورزیاتیږی اوبل دضروری تعظیم نه داهم دی چه کتاب ته به خپی نه غزوی اودتفسیرکتابونه به دتعظیم دوجی نه دټولوکتابونودپاسهږدی

اودکتاب دپاسه به بل شی نه ږدی اوزموږاستاذشیخ الاسلام برهان الدین به دپخوانیوشیخانونه دیوشیخ قصه کوله چه یوفقیه دسیاهی بوتل دکتاب دپاسه ایښی ؤنواستاذورته په فارسی کی

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

وويل چه برنيابې: يعنې ته به دخپل علم نه فائده وانخلې اوزمونږ استاذلوی امام قاضی فخرالاسلام چه پ قاضيخان باندی مشهوردی داوايې کچرته په کاب باندی دسياهۍ بوتل په کيښودلوکی دسپکاوی اراده نه وی نوبياپکی څه ګناه نشته خوغوره داده چه ځان ورنه وساتل شی

**تشريح:** **(تعظيم الکتاب)** يعنې هغه کتاب چه دايې لولی اومطالعه کوی يی **(فينبغی)** دتعظيم دکتاب کيفيت بيانوی **(بطهارة)** يعنی په اودس سره **(وحکی)** په دی سره اودس ددی مطلب اومعنی تانيدذکرکوی **(مبطونا)** يعنی دګيډی په مرض باندی اخته ؤ **(ويکرر)** يعنی هغه درس يی تکرارولوکوم چه ده مطالعه کولو **(هذا)** يعنی ددی په بيان کی ثابته ده **(به)** يعنی په اودس سره ځکه رښاچه دربناسره يوځای شی نودوچنده کيږی **(ان لايمد)** ځکه پديکی يوقسم سپکاوی دی **(ويضع)** داپه ان لايمدباندی عطف دی ددی وجی نه منصوب دی **(تعظيما)** يعنی دتفسيرد کتابونودتعظيم دوجی نه **(آخر)** لکه دسياهۍ بوتل وغيره ځکه پدی سرد سپکاوی دکتاب راځی **(المحبرة)** يعنی دسياهۍ لوښی **(فقال برنيابی)** برنيه فارسی کی ميوی ته وايی اودلته مرادورنه نفعه ده يعنی دخپل علم نه به نفعه وانخلی **(بذالک)** يعنی په کتاب باندی دسياهۍ دبوتل په کيښودلوکی **(والاستخفاف)** يعنی چه دحقيرګومان ورته نه کوی **(بذالک)** يعنی په کيښودلوباندی **(والاولی)** ځکه پديکی دسپکاوی شبه ده نودداسی کارونونه ځان ساتل پکاردی

**ومن تعظيم الواجب ان يجودکتابة الکتاب ولايقرمط ويترک الحاشية الا عندالضرورة وریٰ ابوحنيفة رحمه الله کاتبايقرمط فی الکتابة فقال لم تقرمط خطک ان عشت تندم وان مت تشتم يعنی اذاشخت وضعف بصرک ندمت علی ذالک**

**وحکی عن الشيخ الامام مجدالدين السرحکی رحمه الله انه قال ماقرمطناالاندمناومانتخبناالاندمناومالم نقابل الاندمناوينبغی ان يکون تقطيع**



**الکتاب مربعافانه تقطيع ابی حنيفة رحمه الله وهوايسرالی الرفع والوضع والمطالعة وينبغی الايکون فی الکتاب شئ من الحمرة فانهاصنيع الفلاسفة لاصنيع السلف**

**ومن مشائخنامن يکره استعمال المرکب الاحمرومن تعظيم العلم تعظيم الشرکاء فی طلب العلم والدرس ومن يتعلم منه والتملق مذموم الافی طلب العلم فانه ينبغی ان يتملق لاستاذه وشرکائه ليستفيدمنهم وينبغی لطالب العلم ان يستمع العلم والحکمة بالتعظيم والحرمة وان سمع المسئلة الواحدةاوالکلمة الواحدة الف مرة،**

**قيل من لم يکن تعظيمه بعدالف مرة کتعظيمه فی اول مرة فليس باهل العلم وينبغی لطالب العلم ان لايختارنوع علم بنفسه بل يفوض امره الی الاستاذفان الاستاذقدحصل له التجارب فی ذالک فکان اعرف بماينبغی لکل احدومايليق بطبيعته**

**ترجمه** اودعلم دتعظيم نه داهم دی چه دکتاب ليکل به صحيح کوی اوواړه اومخدوش ليکل به نه کوی اودکتاب حاشی به خالی پريږدی مګرکه ضرورت ورته ؤنوبياپکی ليکل کولی شی امام ابوحنيفة رحمه الله يوليکونکی وليدوچه په کتاب کی يی واړه اومخدوش ليکل کول نوامام صيب ورته وويل ولی مخدوش ليکل کوی؟ که ته ژوندی وی نوپه خپلوليکلوبه پښيمانه شی اوکه مړشی نوخلک به درته کنځل کوی يعنی کله چه بوډاشی اوسترګی دی کمزوری شی نوبيدی خط باندی به پښيمانه وی

دشيخ الامام مجدالدين سرحکی نه نقل دی چه ده به ويل چه مونږ مخدوش ليکل ندی کړی مګربياورباندی پښيمانه شوی يواومونږ اختصارندی کړی مګربياورباندی پښيمانه شوی يواوکمزوری کتاب مودقوی سره ندی مقايسه کړی مګرمونږورباندی پښيمانه شوی يو

اوبکارده چه دکتاب شکل چهارکونجه وی ځکه داداامام ابوحنيفة رحمه الله دکتاب دليکلوشکل ؤاوبل داچه چهارکونجه کتاب په پورته کولواوکيخودلواوپه مطالعه کولوکی اسانه وی اوبکارده چه په کتاب کی په سورخط سره ليکل ونه شی ځکه دادفلاسفه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

ؤكاردی اودسلفوكارندی اوزمونږ په مشانخوكی داسی شيخان هم شته چه دسوررنګ استعمالول مکروه ګڼی

اودعلم دتعظيم نه داهم دی چه دهغه ملګرونعظيم وشی کوم چه ورسره دعلم په طلب اودرس کی شريک وی اودهغه چاتعظيم وکړی چه داستاذنه يی درس کوی اوچاپلوسی کول بدکاردی لکن داستاذاوملګروسره نرمی وکړی ترڅوورنه فنده واخلی اوطالب العلم ته پکارده چه علم اوحکمت په تعظيم اواحترام سره واوری اګرکه يوه مسئله اويايوه کلمه يی سل ځلی اوريدلی وی

علماؤويلی دی چه څوک سل ځلونه وروسته يوه مسئله داول ځل پشان په تعظيم سره وانه وری نوداد علم اهل ندی اوطالب ته پکاردی چه پخپله يوعلم اختيارنه کړی بلکه خپل اختياربه استاذته سپاری ځکه استاذته پدی باره کی تجربی حاصلی شوی دی نوهغه هريوکس ته مناسب شی پيژنی چه دطبيعت سره مناسب اوموافق وی

**تشريح:** **(ومن التعظيم)** يعنی هغه تعظيم چه ضروری اولازمی دی **(ان يجود)** يعنی کره اوښه ليکل وکړی اوردی ليکل ونه کړی- **(ولايقرمط)** قرمط دخط باريکی ته وايی يعنی داسی ليکل به نه کوی چه هغه باريکه وی اوکتونکی ته واضحه نه ښکاری **(التی)** يعنی غالبا **(الاعندالضرورة)** يعنی داسی ضرورت وی چه دحاشيواودکتاب په طرفونوکی دليکلوتقاضاکوی نوبيايی پکی ليکلی شی **(فقال)** يعنی امام ابوحنيفة رحمه الله ورته ووييل **(ان عشت)** په صيغی دخطاب سره **(تندم)** دامجذوم دی اويامرفوع دی **(مت)** په ضمی دميم سره **(تشتم)** په صيغی دمجهول مبنی للمفعول سره **(شخت)** په کسری دشين اوسکون دخاسره اوصيغه دمخاطب ده يعنی چه ته بوډاشی **(ندمت)** ځکه دبوډاوالی په وخت کی به تاته ددی لوستل مشکل وی **(ماقرمطناه)** په دريواړه ځايونوکی ماموصوله ده



اوضميرپکی محذوف ته راجع دی يعنی موږچه محذوش ليکل کړی دی نوموږورباندی پښيمانه شوی يوچه ولی موداکارکړی دی **(ومانتخبناالاندمنا)** يعنی موږچه هميشه انتخاب اواختصارکړی دی نوبياورباندی پښيمانه شوی يوځکه اکثره وخت تفصيل ته ضرورت وی **(ومالم نقابل)** يعنی چه يوکتاب موږصحيح کتاب سره ندی مقايسه کړی دی **(ندمنا)** ځکه داټول شيان زموږدمطالعی لپاره خطرناک دی اوپه مقصودباندی پوهيدلوکی خلل واقع کوی **(وهوايسر)** يعنی حال داچه دااسانه دی **(الی الرفع)** دخپل ځان نه **(والوضع)** پخپل ځای کی **(صنيع الفلاسفة)** يعنی داکارهغوی پيداکړی دی **(کره)** يادمخکنی علت دوجی نه دی مکروه ګرزولی اودسوررنګ دوجی نه مکروه ګرزولی **(تعظيم الشرکاء)** يعنی هغه ملګری چه ده سره په درس اوعلم کی شريک وی **(منه)** يعنی داستاذنه **(والتملق)** يعنی مينه اونرمی کول **(مذموم)** په ټولواحوالواوافعالوکی **(فانه)** يعنی طالب العلم **(والحکمة)**

مجاهد رحمه الله وايی چه دحکمت نه دری شيان مراددی يوقران دوهم علم اودريم فقه اومقاتل رحمه الله يی په تفسيرکی څلورشيان ذکرکړی دی کله مواعظ دقران اخلی اوکله عجائب اواسراردقران اوکله ورنه علم اوفهم اخلی اوکله ورنه نبوت اخلی **(وان سمع)** ان وصليه ده اومعنی دشرط پکی نشته **(فليس باهل العلم)** ځکه علم په هروخت اوهرحالت کی معظم اومکرم دی اودتعظيم په وختونوکی تفاوت نشته دی نوڅوک چه په بعضووختونوکی دعلم تعظيم نه کوی نوداد علم اهل نه دی ځکه څوک چه دعلم په خوندباندی پوه شوی وی اودعلم قدراومرتبه پيژنی نوهغه هيڅکله دعلم قدراواحترام نه پريږدی **(بنفسه)** يعنی پخپل اختيارباندی چه داستاذسره مشوره نه کوی **(فان الاستاذ)** داستاذدکړيی دعلم اوتبرک دوجی نه رامعاذکړو **(التجارب)** دتجربة جمعه ده **(فی ذالک)** يعنی دعلم په اختيارولوکی **(ماينبغی)** دعلم داقسامونه **(لکل**

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

واحد) دطالبانونه (**بطبيعته**) ځکه طبيعتونه مختلف دی بعضی طبيعتونوسره فقه مناسب وی اوبعضوسره نورعربی علوم مناسب وی نواستاذبه خامخاعلوم پيژنی اودهرطبيعت موافق علم به پيژنی

**وكان الشيخ الامام الاجل الاستاذبرهان الدين يقول كان طلبة العلم فى الزمان الاول يفوضون امورهم فى التعلم الى استاذهم فكانويصلون الى مقاصدهم ومرداهم والان يختارون انفسهم فلايحصل مقصودهم من العلم والفقه وكان يحكى ان محمدبن اسماعيل البخاري رحمة الله عليه كان بدءبكتاب االصلوة على محمدبن الحسن فقال له محمداذهب وتعلم علم الحديث لماراى ان ذالك اليق بطبعه فطلب علم الحديث فصارفيه مقدماعلى جميع اءمة الحديث**

**وينبغى لطالب العلم ان لايجلس قريبامن الاستاذعندالسبق بغيرضرورة بل ينبغى ان يكون بينه وبين استاذه قدرالقوس فانه اقرب الى التعظيم وينبغى لطالب العلم ان يحترزعن الاخلاق الذميمة فانهاكلاب معنوية وقدقال رسول الله ﷺ لاتدخل ملائكة بيتافيه كلب اوصورة**

**وانمايتعلم الانسان بواسطة الملك والاخلاق الذميمة تعرف في كتاب الاخلاق وكتابناهذالايحتمل بيانهاواليحترزخصوصا عن التكبر فمع التكبر لايحصل العلم قيل**

**☆العلم حرب للفتى المتعالى كالسيل حرب للمكان العالى☆**

## وقيل

**☆بجدلابجدكل مجد فهل جدبلاجدبمجدى☆**

**☆فكم عبديقوم مقام الحر وكم حريقوم مقام عبد☆**

**ترجمه**: زمونږ استاذلوی امام شيخ برهان الدين رحمة الله عليه به ويلی چه مخکی به طالبانوپخپله تعليم کی ټول اختيارامستاذته ورکولونوخپلومقصدونواومرادونوته رسيدل اواوس خپل اختياربآندی علم کوی نودوی خپل مقصودته نه رسيږی چه هغه علم اوفقه ده اويوه واقعه رانقل شوی ده چه محمدبن اسماعيل بخاری رحمة الله عليه دمحمدبن حسن رحمة الله عليه نه کتاب الصلوة شروع کړو نو محمدبن حسن پوه شوچه ددة دطبعيت سره علم الحديث



مناسب دی نوورته ويی ويل چه لاړشه اوحديثوعلم زده کړه نومحمدبن اسماعيل دحديثوعلم حاصل کړواوپدی علم کی دټولواامامانونه مخکی شو

اوطالب العلم ته پکاردی چه دسبق په وخت کی بغيردضرورت نه داستاذسره ډيرنژدی نه کينی بايدده اوداستاذپه منځ کی دليندی داوګدوالی په اندازه فاصله موجودد وی ځکه داتعظيم اواحترام ته ډيره نژدی ده اوطالب العلم ته پکاردی چه دبدواخلاقونه ځان وساتی ځکه بداخلاق معنوی سپيتوب دی اورسول الله ﷺ فرمايی چه هغه کورته ملائکی نه داخليږی کوم کورکی چه سپی اوتصويروی اوحالانکه انسان دملائکوپه واسطه باندی علم حاصلوی اوبداخلاق په کتاب الاخلاق کی پيژندل کيږی اوزمونږ دا کتاب ددی دبيانولوګنجائش نه لری خوطالب العلم خصوصابايددتکبرنه ځان وساتی ځکه دتکبرسره علم نه حاصليږی لکه شاعروايی: علم دمتکبرسړی دشمن دی؛ اوعلم متکبرسړی ته نه ورځی؛ لکه څنګه چه سيندپه اوچت ځای باندی نه ورځی

اوبل شاعروايی

چه هرشرافت په بخت سره راځی اوپه کوشش سره نه راځی اوايابه شرافت کی بخت بغيرد کوشش نه راتلی شی؟ نوډيرځلی يوغلام سړی داصيل سړی مرتبی ته رسيږی اوډيرځلی اصيل سړی دغلام مقام اومرتبی ته رسيږی

**تشريح**: (**يقول**) دادکان لپاره خبردی (**يفوضون**) تفويض دبل چاپه غاړه باندی ذمه واری اچولوته وايی (**الى استاذهم**) دايفوضون پوری متعلق دی (**والان**) داديختارون لپاره مفعول فيه دی ددی وجی نه منصوب دی اوپه فعل باندی داهتمام دوجی نه مقدم شوی دی (**بانفسهم**) يعنی خپله رايه داستاذسره نه يوځای کوی (**لايحصل مقصودهم**) هرمقصودچه وی (**من العلم**) ځکه دوی نه بوهيږی چه دوی ته کوم علم ډيرفائده ناک دی اوکوم علم ددوی د طبعيت سره مناسب

دی نوځکه خپل مطلوب ته نه رسيږی **(على محمدبن حسن)** جاراومجرور يعنى على محمدتربداپورى متعلق دى چه معنى دقرائت ته متضمن دى يعنى كتاب الصلوة يى شروع كړواومحمدبن حسن ته يى لوستلوكوم چه په احنافوكى په امام ربانى باندى مشهوردى **(فقال)** يعنى محمدبن حسن **(له)** يعنى محمدابن اسماعيل ته **(ذالك العلم)** يعنى علم الحديث **(بطبعه)** يعنى دامام بخارى په طبعيت باندى **(وطلب اه)** داپه مقدرباندى عطف دى يعنى لاړواوعلم الحديث يي طلب كړو **(فيه)** يعنى دحديثوپه علم كى **(مقدما)** يعنى دټولواماماتومقتدد اوپيشوا وګرزيدواوداسى كتاب يى وليكلوچه دټولوخلكويه وړاندى مقبول اومعتبردى چه هغه صحيح البخارى ده كوم چه دكتاب الله نه روسته وهمه مرتبه لرى **(من الاستاذ)** يعنى استاذته ځكه دمن لفظ چه كله دقرب لپاره استعمال شى نوپه معنى دالى سره وى **(عندالسبق)** دلته مضاف حذف دى يعنى په وخت دپادولودسبق كى **(بغيرضرورة)** چه هغه دنژدى والى تقاضاوكړى **(قدرالقوس)** يعنى چه دلينديى داوږدوالى په اندازه وى **(فانه)** يعنى دشاګرداواستاذپه مابين كى دلينديى په اندازه فاصله **(اقرب الى التعظيم)** يعنى دهغى اندازى نه چه دقوس نه كم وى **(الذميمة)** يعنى هغه اخلاق چه په شريعت كى بدګڼل شوى دى **(فانها)** يعنى دغه اخلاق **(معنوية)** يعنى دمعنى په اعتبارسره صورتادسپى سره مشابه دى نولكه ځكه چه سپى صورتاخلكوته ضرررسوى نوهمدارنګه معنوى سپى هم ملائكوته ضرررسوى چه هغه دبدواخلاقوخاوندى **(وانما يتعلم)** يعنى حال داچه انسان دملائكودالقاء په واسطه علم حاصلوى نومعلومه شود چه ځوک بداورزيل اخلاق لرى نوهغه صفااوخاسته علم نشى حاصلولى **(لايحتمل)** ځكه ددى كتاب مقصوددتعليم طريقى بيانول دى اوداخلاقويحث ددى نه خارج دى **(خصوصا)** دابنابرمصدريت منصوب دى يعنى [illegible] **(عن**



**التكبر)** داتران يحترزعن الاخلاق المذمومة پورى متعلق دى يعنى طالب بايددبدواخلاقونه ځان وساتى خصوصادتكبرنه **(ومع التكبرلايحصل العلم)** ځكه علم عاجزى غواړى اوتكبردعلم سره منافى دى **(قيل العلم حرب)** حرب په معنى ددشمن سره دى يعنى علم دمتكبرسړى دشمن دى چه دواړه سره نه جمعه كيږى بلكه كله چه په سړى كى تكبرراشى نوعلم ورنه ختميږى **(وقيل بجد)** په اوله مسره كى جدپه فتحى دجيم سره په معنى دبخت اودولت سره دى اودوهم جدپه كسرى دجيم سره په معنى دكوشش اوسعى سره دى اوپه دوهمه مسره كى هم په همدى ترتيب سره دى يعنى هريوشرافت اوعظمت دالله ﷻ په فضل اوكرم سره راځى اوپه سعى اوكوشش سره نه راځى لكن سعى اوكوشش كول هم ورسره لازم دى ترڅوداللهﷻ فضل دعادت موافق ظاهرشى لكه روسته وايى **(فهل جدبلاجدبمجد)** دااستفهام انكارى دى يعنى شرافت اوعظمت ترهغى نه راځى ترڅوچه دبخت سره كوشش اوسعى نه وى يوځاى شوى **(فكم عبد)** يعنى ډيرځلى غلام سړى داللهﷻ په فضل باندى دخپل كوشش په وجه داصيل سړى مرتبى ته رسيږى **(وكم حر)** يعنى په رزالت اوبى كارى كى غلام سړى ته رسيږى ځكه داللهﷻ دفضل تلاش كوى اوكوشش اوسعى نه كوى

## فصل في الجدوالمواظبة والهمة

**ثم لابدمن الجدوالمواظبة والملازمة لطالب العلم واليه الاشارة فى القران بقوله تعالى والذين جاهدوافينالنهدينهم سبلنا: وقوله تعالى يايحيى خذالكتاب بقوة:**

**وقدقيل من طلب شيئاًوجد وجد ومن قرع الباب ولج ولج**

**وقيل بقدرماتتعنى تنال ماتتمنى :قيل يحتاج فى التعلم والتفقه الى الجد لثلاثة المتعلم والاستاذوالاب ان كان فى الاحياء**

**انشدنى الشيخ الامام والاستاذ سديدالدين الشيرازى رحمه الله للامام الشافعى رحمه الله**

**★الجديدنى كل امرشاسع والجديفتح كل باب مغلق★**

**★واحق خلق الله بالهم امرء ذوهمة يبلى بعيش ضيق★**

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

★ ومن الدليل على القضاء وحكمه — بؤس اللبيب وطيب عيش الاحمق ★
★ لكن من رزق الحجا حرم الغنى — ضدان يفترقان اي تفرق ★

## وانشدت لغيره

★ تمنيت ان تمسى فقيهاً مناظراً — بغير غناء والجنون فنون ★
★ وليس اكتساب المال دون مشقة — بتحملها فالعلم كيف يكون ★

## قال ابوالطيب

★ ولم ار في عيوب الناس عيباً — كنقص القادرين على التمام ★

ولابد لطالب العلم من سهر الليالي كما قال الشاعر۔

★ بقدر الكد تكتسب المعالي — ومن طلب العلى سهر الليالي ★
★ تروم العز ثم تنام ليلا — يغوص البحر من طلب اللآلي ★
★ علو الكعب بالهمم العوالي — وعز المرء في سهر الليالي ★
★ ومن رام العلى من غير كد — اضاع العمر في طلب المحال ★
★ تركت النوم ربي في الليالي — لاجلك مولاك يا مولا الموالي ★
★ فوفقني الى تحصيل العلم — وبلغني الى اقصى المعالي ★

**ترجمه**: فصل دی په بیان دکوشش اوهمیشه والی اودهمت کی
نوطالب العم ته په علم حاصلولوکی کوشش کول اوپه سبق باندی همیشه والی کول اوعلم په ځان باندی لازمول ضروری دی لکه الله ﷻ ورته په قران کریم کی پدی قول سره اشاره کړی ده کوم کسان چه زمونږ په لاره کی کوشش کوی نوخامخا به ورته زمونږ لاری ښایم، اولکه پدی قول دالله ﷻ کی ورته هم اشاره شوی ده، ای یحیی کتاب په قوت سره واخله، اومتل شوی دی څوک چه دیوشی طلب کوی اوډهغی په طلب کی کوشش کوی نوهغه به ورته ملاوشی
اوڅوک چه دروازه ټکوی اودداخلیدوکوشش کوی نواخربه ورته دروازه خلاصیږی اودابه پکی داخلیږی اوبل متل شوی دی چه کوشش په اندازه سړی خپلومرامونوته رسیږی
علماؤویلی دی چه دعلم اوفقه په حاصلولوکی ددری کسانوکوشش ته ضرورت دی یوشاګرد بل استاذ بل پلارکه چرته



پلارژوندی وی ماته خپل استاذ سید سدیدالدین شیرازی دامام شافعی شعرولوستلوهغه داچه کوشش کول هرلری کارنږدی کوی اوکوشش هربنده دروازه خلاصوی ؛ اودهوښیارسړی غربت اوفقراودکم عقل سړی ښایسته اوفراخه ژوند دالله ﷻ په حکم اوقضاباندی ښه اودلیل دی ؛ لکن چاته چه عقل په نصیب وی نوهغه دمالداری نه محروم وی ؛ ځکه دادواړه ضدونه دی چه په پوره توګه سره جداوالی لری ؛ اودیوبل چاشعرراته ولوستل شو
ته خوښوی چه بغیردمشقت نه فقیه اومناظروګرځیږی ؛ نودلیونتوب ډیراقسام دی چه دایی هم یوقسم دی ؛ اومال کټل بغیردمشقت ورلونه نه کیږی نوعلم به غیردمشقت نه څنګه حاصل شی ؛ ابوطیب یوشاعرویلی دی
ما دخلکوپه عیبونوکی دهغه چادعیب پشان عیب ونه لیدلو چه هغه دکارپه پوره کولوباندی قادروی اوبیایی هم نیمګړی پریږدی ؛ اوطالب العم به خامخاشپی رڼاکوی یعنی دشپی به سبق یادوی اوډیرخوب به نه کوی لکه شاعروایی
سړی دخپل کوشش په اندازه باندی اوچتی مرتبی حاصلوی نوڅوک چه اوچتی مرتبی غواړی هغه شپی ویښی تیروی ؛ ته عزت غواړی اودشپی خوبونه کوی ؛ څوک چه ملغلری لټوی نوهغه به په دریاب کی غوټی وهی ؛ اوچته مرتبه په اوچتوهمتونوباندی حاصلیږی ؛ اوشپی په ویښه تیرولوسړی عزتمند کیږی ؛ اوڅوک چه بغیردکوشش نه دلوړومرتبوطمعه کوی ؛ نوده خپل عمردمحال اونه کیدونکی شی په طلب کی مصرف اوضائع کړو ؛ ای ربه دمولاګانو مولاماستادرضادوجی نه دشپی خوب پریخی دی ؛ نوماته دعلم په حاصلولوکی توفیق راکړه ؛ اواوچتومرتبوته می ورسوه
**تشریح**: (والمواظبة) یعنی همیشه والی (والیه) یعنی دطالب العلم لپاره ددی شیانولزوم ته (الاشارة) الاشارة مبتداده یعنی الله ﷻ اشاره وایی (قوله تعالی) دادمبتدالپاره خبردی (والذین جاهدوا)

دفضيل ابن عياض رحمة الله عليه په قول باندی ددی معنی داده چه څوک دعلم حاصلولو کوشش کوی نوزه به ورته دعلم لاری وښایم **(وقيل)** يعنی ددی په باره کی **(جد)** يعنی کوشش اوسعی کوی **(وجد)** يعنی مطلوب به په لاس ورشی **(الباب)** يعنی دمقصوددروازه **(لج)** يعنی دننوتلوکوشش کوی **(ولج)** داخل به شی اومقصودته به ورسيږی **(تعتنی)** دادعنانه دی اومامصدريه ده يعنی څومره تکليف چه درته رسيدلی وی نودهغی په اندازه **(تنال ماتتمنی)** يعنی هغه شی به درته ورسيږی چه ته يی تمناکوی **(المتعلم)** داد ثلاثة نه بدل دی ددی وجی نه مجروردی اونصب اورفعه هم وربانديی جائزدی **(ان کان)** يعنی پلار **(فی الاحياء)** يعنی چه پلارژوندی وی نودابه هم دخوی په علم کی کوشش کوی **(انشدنی)** يعنی ماته يوشعرولوستل شو **(للشافعی)** يعنی داسی شعرڅه امام شافعی ويلی ؤ **(يدنی)** يعنی نژدی کيږی **(کل امر)** داديدنی لپاره مفعول دی ددی وجی نه منصوب دی **(شاسع)** يعنی لری **(والجديفتح)** يعنی کوشش دهغه مرادونودروازی خلاصوی چه دهغې دروازی سختی اوبندی وی **(واحق)** يعنی دالله ﷻ په مخلوق کی ډيرلائق دی **(بالهم)** يعنی چه دده په حال باندی خفگان وشی اوالهم مجهول دی اومصدردی اواحق مبتداده اوامرء يی خبردی **(امرء)** يعنی هغه سړی دی **(ذوهمة)** يعنی دقصداوعزم والادی چه دعلم په حاصلولوکی کوشش کوی **(يبلی)** يعنی په امتحان کی واقع شوی وی **(بعيش ضيق)** يعنی چه څوک په دردونواوتنگ ژوندکی مبتلاوی اوجاهلان په پراخی اوپه نعمتونوکی وی نودادډيرغم اوخفگان خبره ده **(ومن الدليل)** داخبرمقدم دی **(علی القضاء)** يعنی دالله په فيصله باندی **(بوس)** په ضمی دبااوسکون دهمزی سره شدت اوسختی ته وايی اودامبتدامؤخره ده ددی وجی نه مرفوع هم ده **(وطيب)** خکه کچرته دادالله ﷻ په حکم اوفيصله سره نه وی بلکه علم اوجهل ته په نظرکولوسره وی نونيکاره ده چه معامله برعکس وی نوښکاره شوه چه



دادالله ﷻ قضاء اوفيصله ده **(الحجا)** يعنی عقل **(حرم الغنا)** يعنی چاته چه عقل نصيب شوی وی نوهغه دمالداری نه محروم وی اوداحکم اکثری دی کلی ندی ځکه ډيرصحابه کرام اوتابعين اونورعلماء مالداره تيرشوی دی **(ضدان)** يعنی داوړه ضددی **(يفترقان ای تفرق)** يعنی پدوی کی کامل اوپوره فرق دی نودتفرق لفظ دمصدريت دوجی نه منصوب دی ځکه دادکمال په معنی باندی دلالت کوی لکه مررت برجل ای رجل يعنی داسړی په رجليت کی کامل ؤ **(وانشدت)** دادواحدمتکلم مجهول صيغه ده يعنی ماته يوشعرولوستل شو **(لغيره)** يعنی دامام شافعی نه غير **(تمنيت)** صيغه دمخاطب ده **(ان تمسی مناظرا)** يعنی بحث کونکی اوتمسی دلته په معنی دتصيردی اودمسامعنی ورنه مرادنه ده بلکه مراديی فقيه گرزول دی په هروخت کی چه وی **(بغيرغناء)** داتمسی پوری متعلق دی اوغناء په فتحی دعين سره مشقت اوستړياته وايی نومعنی داشوه چه ته بغيرمشقت نه غواړی چه فقيه اومناظرجوړشی نودايوقسم ليونتوب دی **(فنون)** يعنی قسمونه دی اوداځکه ليونتوب دی چه علم فقه يواوچت مقصوددی اومقصودچه څومره اوچت وی نوهغومره يی تکليف هم زيات وی نوڅوک چه بغيردمشقت نه اوچت مقصودغواړی نودابی شکه مجنون اوليونی دی **(وليس دون المشقة)** يعنی دمشقت نه تجاوزنه کوی **(تحملها)** دادباب دتفعل نه دمضارع صيغه ده په اصل کی تتحملهادی يوه تايی محذوف شوی ده اوداجمله دمشقت لپاره صفت دی اوپه بعضونسخوکی په صيغه دمخاطب سره يعنی تحملتهاراغلی دی **(فالعلم)** يعنی سره ددينه چه مال رزيل اوبی کاره شی دی اوبياهم بغيردمشقت نه نه حاصليږی نوهغه علم به څنگه بغيرد مشقت نه حاصل شی چه هغه په ټولوشيانوکی دشرافت والااوعزت والاشی دی **(قال ابوالطيب)** يعنی شعريی ويلی **(ولم ار)** يعنی مادخلکوپه عيبونوکی داسی عيب ندی ليدلی عيباارلپاره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

مفعول دی اودوهم مفعول نه غواړی ځکه چه دلته رؤيت په معنی دمعرفت سره دی **(كنقص)** دلته كاف په محل دنصب كی دی اودعيبا لپاره صفت دی يعنی دهغه چادنقصان په شان عيب می نه دی ليدلیٔ چه ديوكارپه پوره كولوباندی قادروی اوبيايي هم نه پوره كوی بلكه نيمګړی يی پريږدی

مثلاًكه دوی ديوعلم دپوره كولواراده وكړی نوپوره كولی بی شی لكن دوی دعلم اراده نه كوی نودايولوی عيب دی چه ددی پشان عيب ماتراوسه نه دی ليدلی **(بقدرالكد)** يعنی دخپلی ستړياومشقت په اندازه باندی اولام پكی دمضاف اليه نه عوض دی اودواړومذهبونوموافق اضافت ته ضرورت نه لری اوجاراومجرورزانلونكي دی قول پوری متعلق دی **(تكتسب المعالی)** يعنی اوچت مقامونه **(فمن طلب)** يعنی هركله چه لوړی مرتبی دخپل مشقت په اندازه حاصليږی نوځوک چه ددی طلب كوی په هغه باندی لازم دی چه شپی ويښی تيری كړی ځكه شوګيركول دهغه مشقتونونه دی چه دعلم په حاصلولوكی به برداشت كيږی **(تروم العز)** يعنی ته په علم كی قوت اوغلبه غواړی اوبياتوله شپه خوبونه كوی اوحالانكه دادواړه منافی دی ځكه په علوموكی قوت اوهمدارګه په نوروشيانوكی قوت دشپی په منځ كی اوپه هغه وختونوكی په كوشش كولوسره حاصليږی چه هغه دشوزاوشغف نه خالی وی خصوصادسحرپه وخت كی اودلته ثم درتبی تراخی لپاره دی ځكه دقوت اودخوب په مابين كی رتبی لری والی دی **(يغوص البحر)** يعنی په بحركی غوټی وهی **(من طلب اه)** لالی جمعه دلؤلؤة ده يعنی چه ځوک په علم كی قوت حاصلول غواړی نودتكليفونوپه دريابونوكی به غوټی وهی اودپوهی ملغلری به ورنه راوباسی اوپه لفظ دغوص اولالی اوبحركی لفظی استعاری دی كمالايخفی **(علوا الكعب)** داداوچته مرتبی اومحل نه كنايه ده اوكعب شرافت ته هم وايی نوبناء پدی باندی مرادورنه پوره اوكامل شرافت دی **(باالهمم**



**العوالی)** همم دهمت جمعه ده اوعوالی دعالية جمعه ده يعنی دمرتبی اوچتوالی په اوچتوهمتونوسره راځی يعنی په پوره قصداوبنه كوشش سره راځی **(وعزالمرء)** يعنی قوت اوغلبه **(فی سهراليالی)** ځكه په شوګيرسره دده هغه اوقات چه فضول تيريدل دعلم په حاصلولوكی مصروفه كيږی نويدی سره ددنيااواخرت سعادت اوعزت حاصليږی **(رب)** يعنی يارب **(فی الليالی لاجل)** يعنی ستادرضادحاصلولودوجی نه **(لام)** يعنی چه طلب كوی **(العلی)** يعنی اوچتی مرتبی **(من غيركد)** يعنی بغيردتكليف اوستړيانه **(المحال)** چه هغه بغيردتكليف نه داوچتی مرتبی حاصلول دی **(فوفقنی)** يعنی اي ربه مادعلم دحاصلولوسره موافق وګرزوی **(ويلغنی)** يعنی مادخپلومقصدونواومرادونوانتهاته ورسوه

## وقيل

* اتخذ الليل جملا تدرك به املا *

## قال المصنف قداتفق لي نظم في هذاالمعني

* من شاء ان يحتوی آماله جملا    فليتخذ ليلة فی دركها جملا *

* اقلل طعامك كی تحظی به سهرا    ان شئت يا صاحبی ان تبلغ الكملا *

وقيل من اسهر نفسه باالليل فقد فرح نفسه باالنهار ولابد لطالب العلم من المواظبة علی الدرس والتكرارفی اول الليل واخره فان مابين العشائين ووقت السحر وقت مبارك

## قيل في المعني شعر

* ياطالب العلم باشرالورعا    وجنب النوموا ترك الشبعا *

* داوم علی الدرس لاتفارق    فاالعلم باالدرس قاموارتفعا *

فيغتنم ايام الحداثة وعنفوان الشباب كماقيل

* بقدرالكد تعط ماتروم    فمن رام المعنی ليلا يقوم *

* وايام الحداثة فاغتنمها    الاان الحداثة لاتدوم *

ولايجهد نفسه جهدا ولا يضعف نفسه حتی ينقطع عن العمل بل يستعمل الرفق فی ذالك والرفق اصل عظيم فی جميع الاشياء قال عليه السلام ان هذاالدين متين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

فأوغلوافيه بألرفق ولاتبغض علىٰ نفسك عبادة الله تعالىٰ فان المنبت لاارضاً قطع ولاظهراابقى وقال عليه السلام نفسك مطيتك فارفق بها

**ترجمه**: اوچاويلي دي چه دشپې نه سوارلی جوړه کړه نواميدونه اومرامونه به حاصل کړې

مصنف وايي چه ددوی په باره کې ماته هم يوشعرذهن ته راغلوهغه داکه څوک غواړی چه ټول اميدونه راجمعه کړی نودهغی دحاصلولوډپاره دی شپه اوښ يعنی سوارلی وګرزوی :اوخوراک کم کړه ترڅودعلم دحصوخاوندشی :ای ملګريه که ته غواړی چه کمال ته ورسيږی :اوعلماؤويلي چه څوک دشپې خان بی خوبه کړی يعنی دعلم حاصلولوډپاره نودورځی يی زړه خوشحاله وی

اوپه طالب العلم باندی لازم دی چه په اول اواخرد شپه کی په درس اوتکرارباندی هميشه والی وکړی خکه دمابنام اوماسخوتن په مابين کی وخت همدارنګه دسحروخت مبارک وختونه دی ددی په باره کی داشعروېل شوی دی چه :ای طالب العلمه پرهيزګاری کوه اودخوب نه خان لری ساته اوډيرمړيدل پرېږده :اوپه درس باندی هميشه والی کوه :اوددرس نه مه جلاکيږه :خکه چه علم په درس باندی حاصليږی اوزياتيږی

نوبايدچه طالب العلم دځوانی ورځی اودځوانی قوت غنيمت وګنی لکه ددی په باره کی داشعروېل شوی دی چه مفهوم يی داسی دی :په اندازه دکوشش اومشقت باندی سړی ته مطلوب اومقصود ورکول کيږی :څوک چه مقصودته رسيدل غواړی نوشپې پاخيږی :اودځوانی ورځی غنيمت وګڼه :خبردارچه ځوانی هميشه نه وی

اوطالب العلم به په خان بآندی ډيرتکليف هم نه تيروی اوخان به دومره نه کمزوری کوی چه دعمل نه باالکل بندشی بلکه په کوشش کی به نرمی اودرميانه روی کوی خکه چه نرمی په ټولوشيانو کی اصل اوبنياددی لکه رسول الله ﷺ فرمايي چه دين اسلام مظبوط اومحکم دين دی اوپديکی به نرمی سره چليږی



اودالله ﷻ عبادت په خان باندی مه بوج کوه خکه ستړی مسافرمسافه نشی کټ کولی يعنی مطلوب ته نه شی رسيدلی اونه يی سوارلی روغه پاتی کيږی يعنی سوارلی يی هلاکيږی اورسول الله ﷺ فرمايي چه ستانفس ستاسوارلی ده نونرمی ورسره کوه

**تشريح**: (اتخذاالليل)اتخذامردی اوتدرک مجزوم دی خکه چه دايي جواب دی يعنی دشپې نه سوارلی جوړه کړه ترڅومقصود او اميدونه حاصل کړی مطلب داالکه څنګه چه په اوښ باندی سورشی نومطلوب اومقصودته رسيږی نوهمدارنګه چه په شپه کی سفروکړی اودمعنوی مقاماتودحاصلولوډپاره متوجه شی نوخپل مقصودته به دی ورسوی (قال المصنف)دادمصنف خپله وينادہ خپل خان يی دغائب په منزله کی ګرزولی دی (وقداتفق)دادمصنف دقول مقوله ده يعنی ددی خبری داثبات لپاره چه شپه مطلوب ته درسيدولپاره سبب دی ماته يوشعرذهن ته راغلو(من ان يحتوی)چه راجمعه کړی (اماله)يعنی خپل مقاصدداديحتوی لپاره فاعل دی ددی وجی نه مرفوع دی (جملا)يعنی ټول(ليلة)دليل اضافت هغه ضميرته چه موصول ته راجع دی دوجی دادنی ملابسة نه دی خکه چه ليل يی زمانه ده (فی درکها)يعنی مقصودته رسيدوکی (جملا) يعنی اوښ لکه مخکی تيرشول(اقلل طعامک)دادباب افعال نه دامرصيغه ده يعنی خوراک لږکړه (کی تحظی)دادخطی نه دمعلوم صيغه ده يعنی ددی لپاره چه دحصی خاوندوګرزيږی (به)يعنی په لږوالی دخوراک سره (سهرا)داتميزدی اوپه معنی دفاعل سره دی يعنی بی خوبی به ستاحصه وګرزوی (الکملا)په فتحی دکاف اوميم سره په معنی دفاعل سره دی لکه خلک وايي اعطاه المال کملا يعنی پوره مال يی ورکړوکذافی القاموس اودماقبل دقرينی دوجی نه جواب حذف دی نوتقديردعبارت داسی دی وان شئت ياصاحبی وقرينی ان تبلغ الکامل من العلوم فاقلل طعامک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

**(من اسهرنفسه)** يعني ځان وېښ وساتي **(فرح قلبه)** يعني خوشحاله زړه والا به وي **(باالنهار)** ځکه ده به دشپې هغه شي حاصل کړي وي چه دهغې حاصلول دورځې ضروروي نوچه ورځ راشي نوزړه به يې خوشحاله وي ګوياچه داشي ورته خوشي ملاؤشوي دي **(والتکرار)** په جرسره داپه المواظبة باندې عطف دې **(العشائين)** يعني دماښام اودماسخوتن په مابين کې اوعشائين ورته دتغليب دوجې نه وايي لکه عمرين اوقمرين **(ووقت السحر)** يعني دصبح صادق نه مخکې **(وقت مبارک)** دادان لپاره خبردی يعني دطالب العلم لپاره لازم دي چه داوخت ضائع نه کړي بلکه دعلم په حاصلولو کې استعمال کړي **(باشر)** دادامرحاضرصيغه ده يعني لازم کړه **(الورعا)** يعني غفلت اودحرامونه ځان ساتل اوپه الورعا کې الف اشباع لپاره دې چه دفتحې نه پيداشوي دي اوپه زوستولغتونو کې هم داشباع لپاره دي **(النوم)** دخپل ځان نه **(واحذرالشبعاء)** په کسرې دشين اوفتحې دباسره دلوږې ضدته وايي اوددې نه ځکه ځان ساتل پکاردي چه خوب اومړښت سړی دعلم دحاصلولونه منعه کوي **(داوم)** يعني ته

**(لاتفارقه)** دادمفارقت نه دنهي صيغه ده اودمداومت لپاره تاکيددی **(فاالعلم)** فادتعليل لپاره ده يعني داځکه چه علم **(باالدرس)** داراتلونکي قول پورې متعلق دې **(قام)** يعني حاصليږي **(وارتفعا)** يعني زياتيږي ځکه علم پوزته کيدل زيادت دعلم دي اوداهلته حاصليږي چه په درس باندې هميشه والې وکړي **(ويغتنم الی قوله الحداثة)** په فتحې دحاسره دحدث مصدردې لکه خلک وايي حدث حدوثاوحداثة اودشلوکالونونه ترڅلويښت کالوپورې دځوانۍ زمانه ده **(وعنفوان الشباب)** يعني اول دځوانۍ ځکه چه دځوانۍ په زمانه کې حواس اوقوه مدرکه پوره اوقوي وي اوکله چه دځوانۍ زمانه تيره شي اودبوډاوالې زمانه راشي نوقوه اوحواس کمزوري شي نوبياسړی دعلم په حاصلولو باندې نه قادريږي نوددې



وجې نه دځوانۍ زمانه غنيمت ګڼل ضروردي **(بقدرالکد)** يعني دمشقت په اندازه **(تعطی)** په صيغې دمجهول سره **(ماتروم)** دادتعطی لپاره دوهم مفعول دی يعني کوم شي چه ته غواړې **(رام)** چه طلب کوي **(المنی)** دادمنية جمعه ده اومقصودته وايي **(ليلايقوم)** يعني دشپې پاڅيږي اوپه خپل مقصودکې مشغوله کيږي اوليلاپه عامل باندې دوجې دقافيې نه مخکې شوي دي **(وايام الحداثة)** دادراتلونکي فاغتنمها لپاره مفعول دی ددې وجې نه منصوب دې **(فاغتنمها)** يعني غنيمت يې وګڼه اومه يې ضائع کوه **(الا)** داحرف تنبيه ده اودمابعدتحقيق لپاره خبرداري اوتنبيه ده ځکه کومه همزه انکاريه چه په نفي داخله شي نوواقعاداثبات تحقيق کوي لکه څنګه چه پدې قول دالله ﷻ کې دي اليس الله بکاف عبده **(ان الحداثة لاتدوم)** نود فرصت دفوت کيدونه مخکې ددې حفاظت کول اوداغنيمت ګڼل ضروري دي ځکه فرصت دوريځ پشان تيريږي **(ولايجهدنفسه)** يعني ځان به ډيرتکليف ته نه ورکوي **(جهدا)** دامفعول مطلق دی **(ولايضعفه)** دااضعاف نه دی **(حتی تنقطع)** ځکه داد علم حاصلول ندی بلکه داد علم معطل کول دي **(فی ذالک)** يعني دعلم په طلب کې **(والرفق)** يعني حال داچه رفق **(اصل عظيم)** چه پدې باندې ټول شيان بنادي **(فی جميع الاشياء)** اوس داد عوه درسول الله ﷺ پدې قول سره مؤکدکوي **(قال رسول الله ﷺ الاان هذاالدين)** يعني دين اسلام **(متين)** يعني محکم دی **(فاوغلوا)** دااوغل نه صيغه دامرده يعني په دين کې تنګ کوي **(ولاتبغض)** يعني دځان په سترې کولو باندې **(فان المنبت)** په ضمې دميم اوپه شددتاسره دانفعال دباب نه داسم فاعل صيغه ده اودبت نه ماخوذده لکه خلک وايي انبت الرجل اوداپه هغه وخت کې وايي چه کله يې په سوارلۍ کې اوپه ختمې شي نومعنی داشوه چه دکوم سړي دسوارلۍ قوت ختم شوی وي اوستړی شوی وي **(لاارض قطع)** لانافيه ده اوارض دقطع لپاره مفعول دی يعني مسافه نشي کټ کولی اوخپل مطلوب ته

نشی رسیدلی ﴿ولااظهرابقی﴾ظهرنه مرادسوارلی ده اودابقی لپاره مفعول دی ددی وجی نه منصوب دی یعنی دده سوارلی به باقی پاتی نشی بلکه هلاکیږی به اودایومثال دی یعنی نفس سوارلی ده چه ته وربandی سوریی ترځوالله ﷻ ته ورسیږی نوکله چه په ډیروعبادتونواوکوششونوباندی ستړی شی نودمزل نه غورزیږی اودنه برداش دوجی نه هلاکیږی نوخامخاپه سوارلی کی نرمی پکارده ترڅوخپل مرام اومقصودته ورسیږی ﴿معلیتک﴾یعنی ستاسوسورلی ده ﴿فارفق بها﴾ددی شرحی ته ضرورت نشته

ولابدلطالب العلم من الهمة العالية فى العلم فان المرء يطيربهمته كالطيريطيربجناحيه،قال ابوالطيب

علی قدراهل العزم تاتی العزائم وتاتی علی قدرالکرام المکارم

وتعظم فی عین الصغیرصغارها وتصغرفی عین العظیم العظائم

والرأس فى تحصيل الاشياء الجدوالهمة العالية فمن كان همته حفظ اكثرهااونصفهافامااذاكانت له همة عالية ولم يكن له جداوكان له جدولم يكن له همة عالية فلايحصل له علم الاقليل

وذكرالشيخ الامام الاجل الاستاذرضى الدين النيسابورى رحمه الله فى كتاب مكارم الاخلاق ان ذاالقرنين لماارادان يسافرليستولى على المشرق والمغرب شاورالحكماء فى ذالك وقال اسافرهذاالقدرمن الملك فان الدنياقليلة فانية وملك الدنياامرحقيرفليس هذامن علوالهمة فقال الحكماء سافرليحصل لك ملك الدنياوالاخرة قال هذااحسن وقال رسول الله ﷺ ان الله تعالى يحب معالى الامورويكره سفافها

**وقيل**

فلاتعجل بامرك واستدمه فماصلى عصاك كمستديم

قال ابوحنيفة رحمه الله لابى يوسف رحمه الله كنت بليدافاخرجتك المواظبة واياك والكسل فانه شؤموآفة عظيمة

**ترجمه**:اوطالب العلم ته دعلم په حاصلولوکی لوړاواوچت همت لازم دی څکه سړی پخپل همت باندی داسی الوزی لکه څنگه



چه مرغه په وزرونوباندی الوزی ابوطیب وایی چه په اندازه دقصداواراده مقصودمنخ ته راځی اوښه اخلاق په اندازه داحترام راځی اودکم همته په سترګوکی واړه کارونه لوی ښکاری اودلوړهمته خلکوپه سترګوکی غټ کارونه واړه ښکاریږی اودهرشی په حاصلولوکی کوشش اصل اوبنیاددی نودچاچه داهمت وی چه دمحمدبن حسن ټول کتابونه یاداوحفظ کړی اوددی سره کوشش اوهمیشه والی یوځای کړی نوښکاره خبره ده چه دابه یی اکثره اویانیم کتابونه حفظ کړی اوکچرته ددی سړی همت لوړوی لکن کوشش نه کوی اویاکوشش کوی لکن لوړهمت ورسره نه وی نودابه لږعلم حاصلوی اوډیرعلم نشی حاصلولی

اوشیخ رضی الدین نیشاپوری په مکارم الاخلاق کتاب کی ذکرکړی دی چه ذوالقرنین کله دمشرق اومغرب ته دسفرکولواراده وکړه ترڅوبدی باندی غلبه حاصله کړی اوبه هغی باندی والی شی نوددی په باره کی یی دحکماؤسره مشوره وکړه اوویی ویل چه زه ددومره اندازی بادشاهی لپاره څنگه سفروکړم څکه دنیالږه ده ختمیږی اودنیابادشاهی ذلیله اوحقیرکاردی نودالوړهمت نه دی نوحکماؤ ورته وویل چه ددی لپاره سفروکړه چه تاته ددنیااواخرت بادشاهی حاصله شی نوذوالقرنین رحمه الله چه دابنه خبره ده

اورسول الله ﷺ فرمایی چه الله ﷻ اوچت کارونه خوښوی اوددی په باره کی شعرویل شوی دی چه مفهوم یی داسی دی پخپل کارکی تلوارمه کوه اوهمیشه والی وربandی وکړه:اوستاامساپه اوربandی دهغه سړی پشان نه سیده کیږی چه هغه دهمیشه والی غوښتونکی وی

امام ابوحنیفة رحمه الله امام ابویوسف رحمه الله ته وویل چه ته کم عقل اونادان وی خپل کوشش اومواظبت دکم عقلتوب نه راوویستلی اودستی نه خان وساته څکه داډیربدخوی دی اولوی افت دی


Scanned with CamScanner

**تشريح:** (**من الهمة العالية**)يعنی اوچت قصد (**يطيربهمته**)يعنی دهمت دوجی نه په علم کی ترقی کوی (**على قدراهل العزم**)اومرتبه يی په عزم کی (**تأتی العزائم**)يعنی مقاصدمطلب داکه دچاعزم اوهمت په اوچته مرتبه کی وی نومقاصدبه يی پوره وی (**المكارم**)دا جمعه دمكرمة ده اوبه معنی دكرم سره دی اوتاتی لپاره فاعل دی ددی وی نه مرفوع دی يعنی که دچاچه اكرام په اعلی مرتبه کی وی نوډيرښه اخلاق ورنه صادريږی (**وتعظم**)يعنی لوی ګرزيږی (**الصغيرة**)يعنی دکم همت والا (**صغارها**)يعنی واړه مکارم اودابيت دماقبل لپاره بيان دی (**العظيم**)يعنی داوچت همت والا (**العظائم**)يعنی هغه لوی شيان چه داوچت همت والاته صادريږی نودادده په نظرکی ډيرکم ښکاريږی خکه دده همت ډيراوچت دی نردی چه لوی لوی شيان هم ورته واړه ښکاريږی (**والرأس**)يعنی حال داچه رأس اوبنياد (**فی تحصيل الاشياء**)يعنی دتحصيل دالاتوبنيادهمت اوکوشش دی (**محمدابن الحسن**)داداحنافونه يواوچت عالم دی چه په ډيروکتابونوکی مشهوردی (**بذالک**) پديکی همت ته اشاره ده په اعتباردمعنی سره ورته مذکرضميررا جع شوی دی چه هغه کامل قصددی (**اونصفها**)ضميرکتابونوته راجع دی (**جد**)يعنی کوشش (**الاعلم قليل**)خکه دتحصيل په شرطونو کی يوشرط نشته دی (**ذالقرنين**)يعنی سکندررومی چه دادفارس اوروم بادشاه واومشرق اومغرب ته رسيدلی وددی وجی نه ورته ذاالقرنين وايی اويادده دوه واړه ښکرونه وه اوداهم کيدی شی چه دشجاعت دوجی نه ورته ذوالقرنين وايی اودده په نبوت کی دعلماؤاختلاف دی اوپه ايمان اوصلاحيت کی يی اتفاق دی (**ليستولی**)يعنی چه تسلط اووالی وګرزيږی (**شاور**)دادلمالپاره جواب دی (**وقال**)يعنی ذوالقرنين (**كيف اسافر**)دااستفهام انکاری دی يعنی ددی ذليلی بادشاهی لپاره سفرنه کوم چه هغه ددنيابادشاهی ده (**وملك الدنيا**)داپه ماقبل باندی عطف دی ددی وجی نه منصوب دی (**فلس**



**هذا**)يعنی داغلبه (**سافر**)يعنی ته (**ملك الدنياوالاخرة**)په جهادسره داعلی کلمة الله لپاره (**فقال**)يعنی ذوالقرنين (**هذا**)يعنی ددی غرض لپاره سفرکول (**حسن**)نودده داوچت همت دوجی نه ده ته دشرق اوغرب بادشاهی ملاوشوه نوددی نه معلومه شوه چه ديوشی په حاصلولوکی کوشش اوهمت کول ضروری دی (**بحسب معالی الامور**)يعنی اوچت دينی امورخوښوی يعنی ددی کونکی نه راضی کيږی خکه چه په دوام اواخلاص سره يی کوی (**ويكره سفافها**)سفاف ردی شی ته وايی كذافی القاموس: (**فلاتعجل بامرك**)يعنی دکوم شی دحاصلولواراده چه لری نوپه هغی کی تلوارمه کوه (**واستدمه**)دادااستدام نه دامرصيغه ده يعنی چه ديوشی دهميشه والی طلب کوی (**فماصلی عصاك كمستديم**)صلی دباب تفعيل نه دمعلوم صيغه ده لکه خلک وايی صليت باالناردا هغه وخت کی وايی چه کله يی په اورباندی نرمه کړی اوسيده يی کړی كذافی الصحاح: اوعصاک دصلی مفعول دی اومانافيه ده اوکاف په کمستديم کی په معنی دمثل سره دی اوپه محل درفعه کی دی خکه چه دصلی لپاره فاعل دی اومستديم ته مضاف دی نومعنی داشوه چه ستاامساسيده کول دهغه کس په شان نشی کيدی چه هغه ددی ددوام طلب کوی ترڅوورنه فائده واخلی نوته هم پخپل کارکی محکم شه اودوام مطالبه کوه ترڅوستاکاربرابراومحکم شی اودلته ذکردسبب دی مرادورنه مسبب دی هغه داچه ذکردبرابروالی دامادی اومرادورنه محکم والی دی په کارکی (**قال ابوحنيفة**) يعنی خطاب يی وکړو (**كنت**)په صيغی دمخاطب سره (**بليد**)يعنی احمق وی (**اخرجتك**)يعنی دحماقت نه (**واياك والكسل**)داجمله په مقدره انشائيه جمله باندی عطف ده نوتقديردعبارت داسی دی چه فواظب عليه واتق من الكسل (**فانه شوم وافة عظيمة**)چه ډيرضررونه ورنه پيداکيږی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

## قال الشيخ الامام ابونصر الصفار الانصاري رحمة الله عليه

* يانفس يانفس لا ترخى عن العمل في البر والعدل والاحسان في مهل *
* لكل ذي عمل في الخير مغتبط وفي بلاء وشؤم كل ذي كسل *

قال المصنف رحمه الله وقد اتفق لي في هذا المعنى

* دعي نفسي التكاسل والتواني والا فاثبتي في ذي الهوان *
* فلم ارى للكسالى الحظ يعطى سوى ندم وحرمان الاماني *

## وقيل

* كم من حياء وكم عجز وكم ندم جم تولد الانسان من كسل *
* اياك عن كسل في البحث عن شبه فما علمت وما قد شذ عنك كسل *

وقد قيل الكسل من قلة التامل في مناقب العلم وفضائله فينبغي للمتعلم ان يبعث نفسه على التحصيل والجد والمواظبة بالتامل في فضائل العلم فان العلم يبقى ببقاء المعلومات والمال يفنى كما قال امير المؤمنين علي ابن ابي طالب رضي الله عنه

* رضينا قسمة الجبار فينا لنا علم وللجهال مال *
* فان المال يفنى عن قريب وان العلم يبقى لا يزال *

والعالم النافع يحصل له حسن الذكر ويبقى ذالك بعد وفاته فانه حياة الابدية انشدنا الشيخ الامام الاجل ظهير الدين مفتي الائمة حسن بن علي المعروف بالمرغيناني رحمة الله عليه

* الجاهلون فموتى قبل موتهم والعالمون وان ماتوا فاحياء *

وانشدنا الشيخ الاسلام برهان الدين

* وفي الجهل قبل الموت موت لاهله فاجسامهم قبل القبور قبور *
* وان امرء لم يحي بالعلم ميت وليس له حين النشور نشور *

وقال غيره

* اخوالعلم حي خالد بعد موته واوصاله تحت التراب رميم *
* وذوالجهل ميت وهو يمشي على الثرى يظن من الاحياء وهو عديم *

وقال اخر

* حيات القلب علم فاغتنمه ممات القلب جهل فاجتنبه *



**ترجمه:** شیخ الاسلام ابوالنصر الصفار الانصاری رحمة الله علیه فرمایی چه ای خما نفسه دنیکیو اودعدل او احسان په کارونو کی مه روسته کیږه کله چه ته په معتدل حالت کی وی دهرنیکه عمله سړی لپاره خوښونکی وی ، او هر سست سړی په مصیبت او سپیره والی کی اخته وی مصنف وایی چه ماته هم پدی باره کی بوشعر ذهن ته راغلو مفهوم یی داسی دی چه ای نفسه سستی اوبی کاری پریږده : او که سستی اوبی کاری نه پریږدی نو بیا حقارت اوذلت ته خان تینګ کړه : زه بی کاره سړی ته بله حصه نه وینم چه ورکړل شی بغیر د پښیمانتیا نه او بغیر د دینه چه دمرام او مقصود نه به محروم وی

اوبل شاعر وایی چه ډیر خل خجالت او عجز او پښیمانتیا انسان ته دستی دوجی نه پیدا کیږی په کوم شی باندی چه پوهیږی نو دهغی په تلاش کی دستی نه خان وساته که چرته ستا ورکی شک وی او کوم شی چه تاته سخت وی نو علماؤ نه تپوس کوه

او علماؤ ویلی دی چه سستی ددی وجی نه پیدا کیږی چه دعلم مرتبی او فضائلو ته پوره توجه ونکړی : نو طالب العلم ته پکار دی چه دعلم په تحصیل باندی اویه کوشش باندی او دعلم په فضائلو کی په سوچ او فکر کولو کی خان باعث کړی خکه علم دمعلوماتو په بقاسره باقی پاتی کیږی او مال ختمیږی لکه امیر المؤمنین

حضرت علی کرم الله وجهه فرمایی چه مونږ د الله ﷻ په تقسیم باندی راضی یو چه مونږ ته یی علم راکړی دی او دښمنانو ته یی مال ورکړی دی خکه مال ډیر زر ختمیږی او علم همیشه وی او نه ختمیږی اویه علم نافع سره ښه ذکر هم حاصلیږی یعنی خلک به یی صفتونه کوی او دا یی دژوند نه روسته هم باقی پاتی کیږی خکه علم همیشه ژوند دی لکه مونږ ته په شیخ امام حسن بن علی چه په مرغینانی باندی مشهور دی داشعر ویلی دی چه مفهوم یی داسی دی : جاهلان خلک دمرګ نه مخکی مړه دی او عالمان اګر که مړه هم دی لکن ژوندی دی


Scanned with CamScanner

اوهمدارنګه شيخ الاسلام برهان الدين به مونږته يوشعرويلو
چه مفهوم يې داسې دی جاهلانوته جهل دمرګ نه مخکې مرګ دی
اوددوی جسدونه دقبرونونه مخکې قبرونه دی ؛اوهغه سړی چه په
علم باندې ژوندی نه وی نوهغه مړدی اودغفلت نه به
رابيداريدلوکې ده لپاره ژوندنشته اويوبل شاعروايي ؛دعلم
خاوند دمرګ نه روسته هم ژوندی وی ؛چه کله يې بندونه اوهډوکي
دخاورولاندې زره زره شوی وی اودجهل خاوندمړدی اوحال داچه په
ځمکه باندې ګرزي اوېدوی باندې دژوندوګزمان کيږي اوحالانکه
داژوندی نوی

اويوبل شاعروايي چه علم دزړه ژونددی داغنيمت وګڼه ؛او
جهل دزړه مرګ دی نوددينه ځان وساته

**تشريح:** **(يا نفس)** تکراريې دتاکيددوجې نه کړی دی اودايه
کسرې باندې مبني دی ځکه چه دامنادی ده اوپادمتکلم ته مضافه
ده اوپه کسرې باندې داکتفاء دوجې نه ياحذفه شوی
ده **(لاترخى)** دادارخانه مشتق دی اوپه پوشي کې روسته والي ته
وايي اودلته مرادورنه نهي دکسل ده په نيکوکارونوکې اودجزم
علامه ورکې دحرکت سقوط دی خودادهغه چاپه مذهب باندې چه
معتل په سقوط کې دصحيحوپشان ګرزوی **(عن العمل)** يعنې ددينی
کارونونه **(فى البر)** يعنې په حال کون ستاکې چه په براوعدل
اواحسان باندې موصوف وی **(فى مهل)** په فتحې دميم اوپه سکون
دهاسره رفق اوسکينې ته وايي اودلته دوزن دوجې نه په حرکت
دهاسره دی ودايه محل دنصب کې دی ځکه چه لاتراخي دفاعل نه
حال دی نومعنی داشوه چه په حال کون ستاکې چه ته په رفق
وسکينه کې وی ځکه چه رفق دټولوشيانواصل اوبنيادی لکه
مخکې تيرشوی دی **(فى الخير)** داراتلونکي دی قول پورې متعلق
دی **(مغتبط)** اودايه فتحې دباسره دغبطة نه اسم مفعول دی اوغبطه
دېته وايي چه دبوچادنعمت دمثل تمنی وکړی اودهغه نه دزوال



ددی نعمت اراده پکې نه وی اوحسددېته وايي چه دزوال اراده پکې
وی اوداحرام دی په خلاف دغبطې داجائزده نومعنی داشوه چه
دهرنيک عمله انسان دعمل تمنی کيږي يعنی هرسړی وايي چه دده
پشان نيک عمل اوثواب ماته هم ملاوشي **(وفى بلاء)** داخبرمقدم
دی **(كسل)** يعنی دعمل نه ځکه داپه کسالت سره هغه عملونه
پريږدی چه هغه دده لپاره په دنيااواخرت کې فائده ناک وی نوپه
دنيااواخرت کې دمصيبت اوسپيره والي مستحق ګرزيږی **(قال)**
يعنی مصنف **(وقداتفق)** يعنی اتفاقاخمانه ددی په باره کې دابيت
صادرشو **(دعى الخ)** يعنی په ټولوکارونوکې کسالت پريږده **(والا)** او
که کسالت نه پريږدی **(فاثبتى)** اوپه بعضونسخوکې فى ذاالهوان
راغلی دی خودادهغه چاپه مذهب باندې چه هغوی داسماؤستة
واعراب په درې واړه حالتونوکې په الف کې منحصرکوی نومعنی
داشوه چه په هغه عمل باندې ځان کلک کړه چه په هغې کې حقارت
اوذلت دی ځکه ځوک چه مطلقاپه اعمالوکې تکاسل کوی نودهغه
نه ددنيااواخرت فائدې فوت کيږي نوپه ذلت اوحقارت کې
غورزيږی **(للكسالى)** داکسلان جمعه ده **(الحظ)** يعنی
حصه **(يحظى)** داجمله فعليه دمعلومې ...صې لپاره صفت دی لکه
پدې قول داللهﷻکې **كمثل الحمار يحمل اسفا** نومعنی داشوه چه مارايت
لجماعة الکسالى فى الامورحظاتصي... ...ک الجماعة ذات حظ به
**(سوى ندم)** يعنی بغيردپښيمانتيانه ...ځه چه ده ولې سستياکوله
اوکوښش يې نه کولو **(وحرمان الامانى)** امانی دامنيه جمعه ده
اومقصودته وايي يعنی متکاسلينوته په طاعت کې
بغيرذپښيمانتيانه اوبغيرددېنه چه دخپل مقصودنه محرومه کيږي
بله حصه نشته دی **(كم من احياء)** کم دخبريت لپاره دی
اوحيااومابعدشيان تميزدی **(جم)** يعنی ډيردادماقبل لپاره په
طريقې دبدليت سره صفت دی **(تولدللانسان)** يعنی انسان ته
حاصليږی **(اياك)** يعنی ځان وساته **(شبه)** دادشبهة جمعه ده


Scanned with CamScanner

**(قدعلمت)** دامبتداد **(من كـل)** دايي خبردي يعني هغه شي چه ته
وربائدي پوه وى اوهغه شي چه ستاوركى شك وى اوستاد په
كسالت سره صادر شوى وى نوپه هغى باندى هميشه والى مه كوه
**(ان يتعب)** يعني چه سخت وى **(بالتامل)** داترتعب پورى متعلق
دى **(فان العلم)** دادينبغى لپاره علت دى **(يبقى)** خكه عالم چه وفات
شى نومعلومات يى باقى پاتى كيږى **(والمال يفنى)** خكه
دنيااومافيهاپاتى كيدونكى ده **(كماقيل اميرالمؤمنين على ﷺ
شعرارضينا)** يعني دالله ﷻ په تقسيم باندى راضي يوچه مونږته يى علم
راكړى اوزمونږدښمنانوته يى مال وركړى دى **(فان المال)** دادماقبل
لپاره علت دى اومعنى يى ښكاره ده **(لايزال)** داخبردي
اودااتحاددمعنى دوجى نه تاكيدپيداكوى **(والعلم النافع)** اومطلق
علم داسى نه دى خكه ډيرداسى علمونه شته چه نافع ندى اوفائده
نه وركوى **(حسن الذكر)** يعني ښايسته صفت اواضافت دحسن
ذكرته اضافت دصفت دى موصوف ته **(ذالك)** يعني ښه صفت
**(بعدوفاته)** يعني دعالم دفوت كيدونه روسته **(فانه)** يعني دوفات
نه روسته صفت پاتى كيدل **(حياة ابدية)** يعني په علم سره هغه شى
حاصليږى كوم شى چه په ابدى ژوندسره حاصليږى مثلاصفت كول
وغيره **(فموتى)** يعني دوى مړه دى اوموتى جمعه دمية ده اوتاپكى
په تقديرداماسره ده اويامبتدامعنى دشرط ته متضمنه ده خكه په
مبتداكى لام اسمى دى چه په فاعل باندى داخل شوى دى اودا په
معنى دالذي سره دى نوتقديردعبارت داسى دى الذين جهلوافهم
موتى **(قبل موتهم)** خكه پديكى دجماداتوپشان معرفت اوكمال
نشته دى نودمړوپشان دى **(فاحياء)** يعني په دنياكى يى خلك
صفت كوى نوخكه ژوندى دى **(موت اهله)** لرمخكى ددى معنى تيره
شوه **(قبل القبورقبور)** يعني مخكى دداخليدلوقبرونوته خكه داهغه
شى ته مشتمل دى چه هغه دمړى پشان دى **(لم يحى بالعلم)** دادامر
لپاره صفت دى اوميت دان لپاره خبردى اومعنى يى ښكاره ده



**(وليس له)** يعني كله چه دغفلت نه رابيدارشى خوددوى لپاره
ژوندنشته دى نوكله چه دهغه قبرونونه راپاخيږى چه هغه
دجاهلانوجسدونه دى اوپخپل حال باندى خبردارشى اودهغه
چاپشان وګرزيږى چه هغه ژوندى اوعالمان دى
نوداول نشورنه مراددغفلت نه راپيداريدل دى اودوهم نشورنه
مشهورنشورمراددى **(اخوالعلم)** يعني دعلم خاوند **(حي خالد)**
يعني باقى دى **(واوصاله)** يعني دده بندونه اووصال دوصل نه په
ضمى اوكسرى سره جمعه ده هغه هډوكى ته وايي چه نه ماتيږى
اودبل هډوكى سره نه ګكيږى يعني بندونوته وايي **(رميم)** يعني
زاړه اوزړى زړى وى **(وحويمش)** اوحال داچه داروان وى **(على الثرى)**
يعني په خمكه باندى **(يظن)** په صيغى دمجهول سره **(عديم)**
يعني دانيشت اومعدوم وى

## وانشدناالشيخ الاستاذشيخ الاسلام برهان الدين

* ذالعلم اعلى رتبة فى المراتب ومن دونه عزالعلى فى المواكب *
* فذوالعلم يبقى عزه متضاعفا وذوالجهل بعدالموت تحت التيارب *
* فهيهات لايرجومداه من ارتقى رقى ولى الملك والى الكتائب *
* سأملى عليكم بعض مافيه فاسمعوا فلى حصرعن ذكركل المناقب *
* هوالنوركل النوريهدى عن العمى وذوالجهل مرالدهربين الغياهب *
* هوالذروة الشماء تحمى من التجا اليه وتمشى امنافى النوائب *
* به ينتجى والناس فى غفلاتهم به يرتجى والروح بين الترائب *
* به يشفع الانسان من راح عاصيا الى درك النيران شرالعواقب *
* فمن رامه رام المآرب كلها ومن حازه قدحازكل المطالب *
* هوالمنصب العالى ياصاحب الحجا اذانلته هونيفوت المناصب *
* فان فاتك الدنياوطيب نعيمها فغمض فان العلم خيرالمواهب *

وانشدت لبعضهم

* اذامااعتزذوعلم بعلم فعلم الفقه اولى باعتزاز *
* فكم طيب يفوح ولاكمسك وكم طيريطيرولاكبازى *

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

## واُنشدت ايضا

*الفقه انفس شئ انت داخره  من يدرس العلم لم تدرس مفاخره*

*فاجهد لنفسك ما اصبحت تجهله  فاول العلم اقبال واخره*

**ترجمه:** مونږته به زمونږ استاذ شيخ الاسلام برهان الدين داشعرلوستلوچه مفهوم يي داسي دی: دعلم خاوند په ټولومرتبوکی اوچته مرتبه لري اودعلم نه غيردعزت اوچتی مرتبی په فوجونوکی دی: نودعلم دخاوندعزت هميشه دوچنده وی: اودجاهل عزت دمرګ نه روسته ترخاورولاندی کيږي هغه څوک چه په بادشاهي اولښکرونوباندی اوچتودرجوته رسيدلی وی: زه به تاسوته دعلم بعضی مناقب وليکم غوږورته کيږدی: اوټولومناقبوذکرکول ماته مشکل دی: علم زياده اومکمل زيادہ چه سړي ته دړوندوالی نه نجات ورکوی: اوپه جاهل سړي باندی وخت دتوروتياروپه مابين کی تيريږي: اوعلم داوچت غرسړدی څوک چه ورته پناه يوسی نوحفاظت يي کوی اوتکليفونونه يي په امن کی ګرزوی: اوپه علم سره نجات حاصليږي اوحال داچه خلک ورنه غافله دی: اوداخرت دعذاب نه سړي په علم باندی دنجات اميدساتی پداسی حال کی چه روح يي دسيني دهډوکی په مابين کی وی: اودعلم په سبب انسان دهغه چاسفارش کوی چه دګناه په حالت کی داورهغه طبقی ته خي چه په ټولوانجامونوکی بدترين انجام دی: پس چاچه دعلم طلب وکړونودټولومقصدونوطلب يي وکړواوچاچه علم حاصل کړواوپه [illegible] احاطه وکړه نوده په ټولومقصدونواومطلوبونوباندی

[illegible] به مرتبه ده ای دعقل خاونده کله چه دعلم [illegible] مرتبوفوت کيدلوپروامه کوه: که [illegible] نعمتونه زرنه فوت شي: نوپه هغی باندی [illegible] علم دټولووړکړونه غوره ورکړه ده:

داشعرولوستلوچه مفهوم يي داسي دی: هرکله علم دوجی نه عزتمندګرزيږي: نوعلم فقه په عزت



ورکولوکی دټولونه غوره اواولی ده: دډيروخوشبويانوخوشبوی خوريږي خودمشقودخوشبوپشان نه وی: اوډيرمرغان الوزی خودبازدالوتوپشان نه وی

اوبعضوته می داشعرولوستلوچه مفهوم يي داسي دی: علم عمده شي دی چه ته دهغی جمعه کونکی اوحاصلونکی يي اوڅوک چه علم لولی نودهغی دفخرداسبابونه مخ نه اړوی: نودهغه شي علم خان ته حاصل کړه چه ته ورباندی جاهل يي: ځکه اول اواخردعلم سعادت اونيک بختي ده

**تشريح:** (وانشدنا) يعني مونږته يي داشعرولوستلو (اذاالعلم) کلمه داذادمقدرفعل دوجی نه منصوب ده لکه اذکروقت كون العلم اعلى رتبة بين المراتب (فی المواکب) مواکب جمعه دموکب ده هغه جماعت اولښکرته وايي چه پيده اوسواره وی يعني دعلم دعزت نه کم عزت په هغه مرتبوکی دی چه په ډيرلښکراوجماعت سره حاصل شوی وی ځکه کوم عزت چه په ډيرلښکرسره حاصل شوی وی نوهغه ختميږي اوکوم عزت چه په علم سره حاصل شوی وی نوهغه نه ختميدونکی دی ځکه چه علم نه ختميږي (فذوالعلم) يعني دعالم دوفات نه روسته دده عزت دوچنده پاتی کيږي ځکه په دنياکی يی صفت کيږي اوپه اخرت کی ورته اوچتی مرتبی حاصليږي (تحت التيارب) تيارب دتيرب جمعه ده خاوری نه وايي په قاموس کی ذکردی چه دتراب اواتربة اوتربان اوتيرب اوتوارب اوتيرب معناګانی مشهوری اومعروفی دی اودتراب جمعه اتربة اوتربان راځي يعني جاهل سړی دمرګ نه روسته خالص خاوری ګرزی اودعالم پشان ورته عزت باقی نه پاتی کيږي (ملاه) يعني دعلم دعزت انتهااوداديرجولپاره فاعل دی (من ارتقی) يعني پورته شوی اوختلی وی (رقی) الرقی په ضمی دراء اوپه کسری دقاف اوپه تشديدديا سره دمصدرصيغه ده اودالدخول په وزن دی په اصل کی رقوی دی اوپه معنی دختلوسره دی اوخپل فاعل ته مضاف دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

يعني څوک چه دبادشاهی دوجی نه عزت ته رسيدلی وی نوهغوی باندی افسوس دی چه دعزت دانتهااوميددعلم نه نه کوی **(والی الکتائب)** کتائب دکتيبة جمعه ده اوعسکروته وايی اولايرجوادخبرصيغه ده لکن معنی بی دانشاء ده **(ساملی)** يعني زرده چه زه به يی وليکم **(فيه)** يعني دعلم په مناقبوکی **(ففی حصر)** يعني ماته مشکل دی **(عن ذکر)** دوجی دډيروالی نه **(وهوالنور)** اوس مصنف دعلم بعضی مناقب ذکرکوی چه وعده يی کړی وه يعني علم داسی رڼاده چه دجهل تياری رڼاکوی **(کل النور)** دادمخکی لپاره تاکيددی **(يهدی)** داجمله ديوخبرنه روسته بل خبردی اويهدی چه په عن سره استعمال شی نومعنی دنجات لره مستلزم وی يعني علم پداسی حال کی لارښونه کوی چه سړی ته دجهل دتيارونه نجات ورکوی **(من الدهر)** دادظرفيت دوجی نه منصوب دی يعني دزمانی په تيريدلوکی **(بين الغياهب)** غياهب دغيهب جمعه ده اوسختی تياری ته وايی يعني جاهل سړی دجهل دتيارويه منځ کی وی چه دهغی نه سختی تياری نشته دی **(هوالذروة الشماء)** هوضميرعلم ته راجع دی اوپه بعضونسخوکی هی دی نوبياضميردتانيث ورته په اعتباردخبرسره راجع دی اوذروة په فتحی اوکسری ددال سره دی اودهرشی اوچت سرته ته ذروه وايی اوشماپه فتحی دشين اوپه تشديددميم سره داشم تانيث دی اواوچت شوی ته وايی نومعنی داشوه چه علم دغره سردی اودعلم اطلاق په ذروه باندی استعاره ده اوعلت جامعه پکی حمايت اوساتنه ده يعني لکه څنګه چه دغره سرته په پناوړلوسره حفاظت راځی نوهمدارنګه دپه علم سره هم دسړی ساتنه راځی لکه داخبره دتحمی اليها نه معلوميږی **(ويمشی آمناً)** يعني په امن کی ګرزيږی **(فی النوائب)** يعني په سختيوکی **(به)** په علم باندی **(ينجو)** يعني داخرت دعذاب نه خلاصيږی **(فی والناس)** واوحال لپاره دی يعني حالداچه خلک **(فی غفلاتهم)** دادغفلة جمعه ده **(به يرجی)** يعني دعلم په وجه باندی



خلک داخرت دعذاب نه امن غواړی **(التوائب)** دسينی هډوکی ته وايی يعني پداسی حال کی چه روح بدن نه دوتلوپه وخت کی دسينی دهډوکی په مابين کی وی **(عاصيا)** يعني پداسی حال کی لاړوی چه ګنهګاروی **(الی درک النيران)** درک ددرکة جمعه ده اوداپه جهنم کی يوه طبقه ده اوداتررا ح پوری متعلق دی **(شرالعواقب)** دادعاقبة جمعه ده يعني دعلم په وجه علماوته دالله په اجازت سره دګنهګارو خلکوپه حق کی شفاعت کول ثابت دی **(فمن رام)** يعني چاچه علم حاصل کړو **(رام الخ)** يعني ټول مطلبونه يی طلب کړه ځکه دعلم په ضمن کی ټول دنيوی اواخروی مطالب موجوددی **(من حازه)** يعني په علم احاطه وکړی اوحال يی کړی **(کل المطالب)** يعني بعضی په دنيا کی اوبعضی په اخرت کی **(العجا)** يعني عقل **(اذنلته)** يعني کله چه ته ورته ورسيږی **(بفوت المناصب)** يعني دمنصبونواومرتبودفوت کيدلوپروامه کوه ځکه چه کله اوچت منصب ته ورسيږی نودنوروم‍نصبونوفوت کيدل درته کوم ضررنه رسوی **(فان فاتک)** يعني که دنيااوددی نعمتونه لاس نه درنه شی **(فغمض)** يعني سترګی ورنه پټی کړه اودادعدم التفات نه کنايه ده **(فان العلم خيرالمواهب)** مواهب جمعه دموهبة ده اودااعطاء ورکړی ته وايی يعني کله چه علم درته حاصل شی نوددنيادنعمتونوپه فوت کيدلوباندی پروامه کوه ځکه چه غوره عطيه ستاپه لاس کی ده **(اذااعتز)** په مااعتزکی مازانده ده لکه مخکی هم تيرشول يعني کله چه دعلم خاونددعلم دوجی نه معززګرزيږی **(اولی باعتزاز)** ځکه علم فقه اوشرائع بيانوی نودمعلوماتودشرافت دوجی نه پدی علم کی شرافت راغلو **(يفوح)** يعني چه بوی يی خوريږی **(ولاکمسک)** يعني دمسکوخوشبويی دتولونه ښايسته اومزيداره ده **(ولاکباز)** يعني بازدنوروم‍رغانونه تيزالوزی نوهمدارنګه علم فقه دنوروعلمونونه معززده **(وانشدت)** داهم صيغه دمجهول متکلم ده لکه مخکی څوخل تيره شوه يعني داشعرماته ولوستل شو **(انفس**

شئ) يعنى عزتمند دى (داخره) جمعه كونكى (من يدرس العلم) يعنى چه علم لولى (فاجهد) يعنى كوشش وكړه اوخان ته بى حاصل كړه (اقبال) يعنى سعادت اونيك بختى ده (وآخره) يعنى اخريى هم نيك بختى ده

**وكفى بلذة العلم والفقه والفهم داعيا وباعثا للعاقل على تحصيل العلم** وقد يتولد الكسل من كثرة البلغم والرطوبات وطريق تعليله تقليل الطعام قيل اتفق سبعون نبيأ على ان كثرة النسيان من كثرة البلغم وكثرة البلغم من كثرة شرب الماء وكثرة شرب الماء من كثرة الاكل والخبز اليابس يقطع البلغم وكذالك اكل الزبيب على الريق ولا يكثر منه حتى لايحتاج الى شرب الماء فيزيد البلغم والسواك يقلل البلغم ويزيد فى الحفظ والفصاحة فانه سنة سنية ويزيد فى ثواب الصلوة وقرائت القران وكذالك القى يقلل البلغم والرطوبات وطريق تقبيل الاكل التامل فى منافع قلة الاكل وهى الصحة والعفة والايثار

## وقدقيل

*فعار ثم عار ثم عار شقاء المرء من اجل الطعام*

وعن النبى ﷺ انه قال ثلاثة نفر يبغضهم الله تعالى من غير جرم الاكول والبخيل والمتكبر، والتامل فى مضار كثرة الاكل وهى الامراض وكلالة الطبع، قيل البطنة تذهب الفطنة حكى عن جالينوس انه قال الرمان نفع كله والسمك ضرر كله وقليل السمك خير من كثير الرمان

وفيه ايضا اتلاف المال والاكل فوق الشبع ضرر محض ويستحق به العقاب فى الدار الاخرة والاكول بغيض فى القلوب وطريق تقليل الاكل ان ياكل الاطعمة الدسمة، ويقدم فى الاكل الالطف والاشهى ولا ياكل مع الجياع الا اذا كان له غرض صحيح فى كثرة الاكل بان يتقوى به على الصيام والصلوة والاعمال الشاقة فله ذالك

**ترجمه** اودعلم اودفقه اودفهم لذت اوخوند دعقل لپاره دعلم په حاصلولوكى كافى دى چه كله په علم باندى داعى اوباعث وى اوكله كله سستيا اوكسل دبلغمو اونورو رطوباتونه پيدا كيږى اودبلغمو دكموالى طريقه داده چه سړى خوراک كم كړى



علماؤ ويلى دى چه اويا پيغمبرانو پدى خبره باندى اتفاق كړى چه اكثره هيره دډيرو بلغمونه پيدا كيږى اوچه دوډى بلغم ختموى همدارنګه په لوږه باندى مميز خوړل هم بلغم ختموى اوډير مميز به نه خوري ترڅو دډيرو اوبو څکلو ته محتاجه شى او بلغم بى نورهم زيات شى اومسواک وهل بلغم كموى اوپه حفظ اوفصاحت كى زيادت راولى حكه مسواک وهل اوچته مسنونه طريقه ده چه دلمانځه اوتلاوت په ثواب كى زيادت راولى همدارنګه قى كول هم بلغم اورطوبات ختموى اودخوراک دكمولو طريقه داده چه سړى دكم خوراک په منافعو اوفائدوكى سوچ وكړى چه هغه صحت دى اوعفت اوايثار دى

يوشاعر ويلى دى چه: شرم دى بيا شرم دى اوبيا شرم دى چه سړى دى دخوراک دوجى نه بدبخته وى :اودرسول الله ﷺ نه نقل دى دافرمايى چه درى كسان داسى دى چه الله ﷻ ورسره بغير دكوم جرم نه بغض كوى يوهغه كس دى چه ډير خوراک كوى اوبل هغه دى چه بخيل وى اوبل هغه دى چه تكبر كوى اودخوراک دكمولو دوهمه طريقه داده چه سړى دډير خوراک په ضررونوكى سوچ اوفكر وكړى چه هغه مرضونه اودطبيعت خرابوالى دى چاويلى دى چه ګيډه ډكول هوښيارتيا له منځه وړى

دجالينوس بادشاه نه نقل شوى دى ده به ويلى چه انارتول فائده ده اوماهى ټول ضرردى اولږ ماهى خوړل دډيرانار خوړلونه غوره دى اوبل داچه په ډير خوراک كى دمال مصرفول راځى اودمړدلونه زيات خوراک كول خالص ضرردى اوپه آخرت كى دعذاب مستحق ګرزى اودډير خوراک والاسړه خلک به زړه كى كينه ساتى اودخوراک دكمولو طريقه داده چه سړى غوړ خوراكونه وخورى اوپه خوراک كى نرم خوراكونه اوهغه خوراكونه مخكى كړى چه اشتهايى ورته كيږى اوبل داچه دوږو سره به دوډى نه خورى اوكچرته ډير خوراک ديو صحيح غرض لپاره كوى

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

مثلاروژولمونځواودنوروسختوکارونولپاره خان قوی کړی نوبیاداجائزدی

**تشریح:** **﴿وكفى بلذة العلم﴾** بلذة کی بازائده ده لکه څنګه چه په کفی باالله شهیداکی زائده ده نومعنی داشوه چه کفی لذة العلم **﴿والفقه﴾** داعطف دخاص دی په عام باندی دوجی دتعظیم اوشرافت دخاص نه **﴿يتولد﴾** یعنی حاصلیږی **﴿والرطوبات﴾** چه دډیرخوراک دوجی نه په بدن کی پیداکیږی **﴿يقطع البلغم﴾** ځکه داچه کله درطوبت سره یوځای شی نورطوبت کموی **﴿على الريق﴾** یعنی په لوږه باندی **﴿يقطع البلغم﴾** که پدیکی ګرموالی دی **﴿منه﴾** یعنی دممیز خوړلونه **﴿فيزيد البلغم﴾** دامنصوب دی اوپه یحتاج باندی عطف دی یعنی داوبوڅکل بلغم زیاتوی ځکه بغلم داوبواودهغه څه نه پیداکیږی چه هغه رطوبت لری **﴿والسواك﴾** یعنی دمسواک استعمالول **﴿والفصاحة﴾** په خبروکی **﴿سنية﴾** یعنی اوچته اوخوښونکی **﴿تزيدفى الثواب﴾** لکه رسول الله ﷺ فرمایی چه یولمونځ په مسواک سره کول دپنځه اویاهغه لمونځونونه بهتردی چه بغیردمسواک نه وشی **﴿وهى﴾** یعنی دغه منافع **﴿الصحة﴾** یعنی صحت دبدن ورکی وی ځکه اکثره مرضونه دډیرخوراک نه پیداکیږی **﴿والايثار﴾** یپه بل چاباندی صدقه کول اوهغه پخان باندی غوره کول اوداکثره په هغه وخت کی کیږی چه خپله خوراک کم کړی اوباقی بل چاته ورکړی **﴿فيه﴾** یعنی دډیرخوراک په مذمت کی **﴿عارثه عارثه عار﴾** داددی قول لپاره خبرمقدم دی **﴿شقاء المرء﴾** یعنی ډیرخوراک دوجی نه دسړی بدبخته کیدل هغه داچه ډیرخوراک ډیرشهوت ته مفضی کیږی اوشهوت ګناهونوته مفضی کیږی **﴿ثلاثة﴾** یعنی دری کسان دی **﴿غيرجرم﴾** داجرم نه مشتق دی یعنی کوم جرم به بی نه وی کړی لکن په راتلونکی صفتونوباندی به موصوف وی **﴿البخيل﴾** یعنی په **﴿الاكول﴾** یعنی هغه کس چه ډیرخوراک کوی **﴿والمتكبر﴾** ځکه تکبردالله ﷻ صفت دی اوپه افلوکی بخل کوی



خاص دی اوڅوک چه ورسره خان شریکوی نوالله ﷻ ورسره بغض کوی **﴿والتامل﴾** دامرفوع دی اوپه التامل فی منافع الاكل باندی عطف دی یعنی دخوراک دکمولوطریقه داده چه دډیرخوراک په ضررونوکی تامل وکړی **﴿وكلالة الطبع﴾** یعنی طبیعت ستړی کوی اوډیوشی دیادولونه یی ستوی **﴿قيل البطنة﴾** په کسری دباسره یعنی دخوراک نه ګیډه ډکول **﴿تذهب الفطنة﴾** یعنی هوښیارتیامنعه کوی **﴿نفع كله﴾** یعنی دانږتول اجزافائده ناک دی **﴿والسمك ضركله﴾** ددی سره سره بیاوایی **﴿قليل السمك خيرمن كثيرالرمان فيه﴾** یعنی پدی کی حال داچه دمال هلاکول دی **﴿والاكل فوق الشبع ضرمحض﴾** چه بدن کی فسادراولی اوبدن بیماروی **﴿ويستحق به﴾** یعنی دمریدونه په ډیرخوراک سره **﴿العقاب﴾** ځکه ډیرخوراک کول حرام دی **﴿والاكول﴾** یعنی په خوراک کی مبالغه کونکی **﴿بغيض﴾** یعنی دخلکوپه زړونوکی مبغوض وی **﴿الدسمة﴾** یعنی هغه خوراک چه غوړوالی ولری **﴿ويقدم﴾** دامنصوب دی اوپه ان یاکل باندی عطف دی **﴿الالطف﴾** یعنی هغه خوراک چه ډیرنرم وی **﴿والاشهى﴾** یعنی چه هغه ته دنورطعام نه ډیره اشتها کیږی **﴿ولاياكل﴾** دامنصوب دی اوپه ماقبل باندی عطف دی **﴿مع الجيعان﴾** دادجائع جمعه ده **﴿الا اذا﴾** داداالاكل فوق الشبع نه استثنامنقطع ده تقدیردعبارت داسی دی والاكل فوق الشبع ضرلكن اذاكان له غرض صحيح **﴿به﴾** یعنی په ډیرخوراک سره **﴿والاعمال الشاقة﴾** لکه سفرکول جهادکول وغیره **﴿فله ذالك﴾** دااذالپاره جواب دی یعنی دمړیدونه زیات خوراک ورته جائزدی ځکه چه په زیات خوراک سره دعبادت لپاره خان تقویه کول دی حرمت ختموی نوددی صحیح غرض دوجی نه ورته ډیرخوراک جائزدی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

## فصل فی بدایة السبق وقدره وترتیبه

كان استاذنا الشيخ الاسلام برهان الدين رحمه الله يقف بداية السبق على يوم الاربعاء وكان يروى فى ذالك حديثا ويستدل به ويقول قال رسول الله صلى الله عليه وسلم مامن شئ بُدء فى يوم الاربعاء الا وقد تم وهكذا كان يفعل ابوحنيفة رضى الله عنه وكان يروى هذا الحديث عن استاذه الشيخ الامام الاجل قوام الدين احمد بن عبد الرشيد رحمه الله وسمعت ممن اثق به ان الشيخ ابا يوسف الهمدانى رحمه الله كان يقف كل عمل من اعمال الخير على يوم الاربعاء وهذا لان يوم الاربعاء يوم خلق فيه النور وهو يوم نحس فى حق الكفار فيكون مباركا للمؤمنين

واما قدر السبق فى الابتداء فقد كان ابوحنيفة رحمه الله يحكى عن شيخ القاضى الامام عمر بن الامام ابى بكر الزرنجى رحمه الله انه قال قال مشائخنا ينبغى ان يكون قدر السبق للمبتدى قدر ما يمكن ضبطه بالاعادة مرتين ويزيد بالرفق والتدريج فاما اذا طال السبق وكثر يمكن ضبطه الى الاعادة عشر مرات فهو فى الانتهاء ايضا يكون كذالك لانه يعتاد ذالك ولا يترك تلك العادة الا بجهد كثير

وقد قيل السبق حرف والتكرار الف وينبغى ان يبتدى بشئ يكون اقرب الى فهمه

**ترجمه:** فصل دی په بیان دشروع دسبق کی اوپه بیان ترتیب اواندازی دسبق کی زمونږ استاذ شیخ الاسلام برهان الدین رحمه الله به همیشه دسبق شروع دچهارشنبی په ورځ کوله اودی په باره کی به یی حدیث روایت کولو اوپه هغی باندی به یی دلیل نیولو او ویلی به یی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی هیڅ یو داسی شی نشته چه دچهارشنبی په ورځ شروع شی مګر هغه به سرته رسیږی اوهغه به پوره کیږی اوامام ابوحنیفة رحمه الله به هم داسی کول اوهغه به هم داحدیث دخپل استاذ امام شیخ احمد عبدالرشید نه نقل کولو اوداعتمادی خلکونه می داخبره اوریدلی ده چه شیخ همدانی به هر کار دچهارشنبی پوری موقوف کولو اوداځکه چه دچهارشنبی په ورځ باندی نورپیداشوی دی اودچهارشنبی ورځ دکافرو په نزد سپیره ده اودمسلمانو لپاره دبرکت نه ډکه ورځ ده اوهرچه په اول کی دسبق اندازه ده . ابوحنیفة رحمه الله به دشیخ





قاضی الامام عمر بن ابی بکر زرنجی نه داروایت کولو داوایی چه زمونږ شیخانو به ویلی چه نوی شروع کونکی ته دومره اندازه سبق ویل پکاردی چه په دوه خله اړولو سره دهغی یادول ممکن وی اوهره ورځ به ورته یو یو کلمه زیاتوی تر دی چه دزیاتوالی اواوږدوالی سره سره یی په دوه خلو اړولو سره یادول ممکن وی اوپه اسانی سره به ورته په مزه مزه سبق زیاتوی اوکچرته ورته په ابتداکی سبق دومره زیات کړی چه استاذ لس خله اړولو ته محتاجه شی نوپه اخرکی به هم همداسی وی ځکه داورباندی عادت کیږی اوداعادت به ورنه دډیر کوشش نه غیر نه لری کیږی

اوچا ویلی دی چه یو حرف سبق وایه اوسل خله تکرار وه اوطالب العلم ته پکاردی چه په داسی شی باندی شروع وکړی چه هغه دده فهم ته نژدی وی اوپه ذهن کی یی زر کینی

**تشریح:** (فی بدایة السبق) یعنی په بیان دشروع دسبق کی داستاذنه (وقدره) یعنی اندازه دسبق (وترتیبه) یعنی ترتیب دسبق (کان استاذنا) یعنی دایی عادت ؤ (ان یوقف بدایة السبق) یعنی دسبق شروع کول (وکان) یعنی استاذ (یروی فی ذالک) یعنی دچهارشنبی په ورځ دسبق شروع کولو په باره کی (بدئ) په صیغی دمجهول سره (یوم الاربعاء) په وقدتم کی واو دشئ نه دحال لپاره دی اوداموصوف دی نوتقدیر دعبارت داسی دی مامن شئ بدء یوم الاربعاء فی حال من الاحوال الاحال تحقیق تمامیته (هذا الحدیث) کوم چه لږ مخکی ذکرشولو (اثق) یعنی اعتماد وربانډی کوم (یعنی موقوف به یی کړزولو (هذا) یعنی موقوفوالی ثابت دی (لان یوم الاربعاء الخ) نوبه کومه ورځ کی چه نورپیدا شوی دی هغه هم مبارکه ده نودنیک فالی دوجی نه پدی ورځ کی نورهم نورزیاتیږی (نحس) یعنی مبارکه نده (فی حق الکفار) ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی ماخسف بقوم من الکفار ولامسخ فیما منهم الا لاخر یوم الاربعاء من کل شهر (قدر السبق) یعنی دسبق اندازه (فی الابتداء) یعنی دتعلیم په

ابتداكى **(واماقدر)** مبتداده اوخبريې دحكايت نه معلوميږى **(ضبط)** يعنى دهغى يادول **(بالاعادة)** يعنى دسبق په ازولوسره **(مرتين)** اوداپه ډيرسبق ويلوسره نه راځى خكه بيايه يى ددوه څلونه زيات ورسره اړوى **(وان)** دادوصل لپاره دى **(وكثر)** يعنى سبق **(ويزيدباالرفق)** اويوځل به يى ورته نه زياتوى خكه چه يادول ورته اسانه شى **(فهو)** يعنى متعلم **(فى الانتهاء ايضا)** لكه څنكه چه په ابتداكى وى **(يكون كذالك)** يعنى ډيروارولوته به محتاجه كيږى **(وقيل السبق حرف)** دادلړوالى نه كنايه ده **(والتكرارالف)** دا ډيروالى نه كنايه ده نوددينه معلومه شود چه شاګردته تكراركول پكاردى اودزيات سبق ويل ورته پكارندى **(بشى)** دعلومونه **(اقرب الخ)** چه دهغى يادول ورته بغيردستړياومشقت نه اسانه وى

**وكان الشيخ الامام الاستاذشرف الدين العقيلى** رحمه الله **يقول الصواب عندى** في هذاما فعله مشائخنا فانهم كانويختارون للمبتدى صغار المبسوط لانه اقرب الى الفهم والضبط وابعدعن الملالة واكثر وقوعابين الناس وينبغى ان يعلق السبق بعدالضبط والاعادة كثيرافانه نافع جداولايكتب المتعلم شيئالايفهمه فانه يورث كلالة الطبع ويذهب الفطنة ويضيع اوقاته وينبغى ان يجتهدفي الفهم عن الاستاذوبالتامل والتفكروكثرة التكرارفانه اذاقل السبق وكثرالتكرار والتامل يدرك ويفهم فقدقيل حفظ حرفين خيرمن سماع وقرين وفهم حرفين خيرمن حفظ وقرين واذاتهاون في الفهم ولم يجتهدمرة اومرتين يعتادذالك فلايفهم الكلام اليسيرفينبغى الايتهاون فى الفهم بل يجتهدويدعوالله تعالى ويتضرع اليه فانه يجيب من دعاه ولايخيب من رجاه

انشدناالشيخ الامام الاجل قوام الدين حمادبن ابراهيم بن اسماعيل الصفار رحمه الله للقاضى الخليل بن احمدالسجزى فى ذالك شعرا

*اخدم العلم خدمة المستفيد    وادم درسه بفعل حميد*

*واذاماحفظت شيئااعده    ثم اكده غاية التأكيد*

*ثم علقه كى تعوداليه    والى درسه على التأبيد*

*واذاماامنت منه فواتا    فانتدب بعده لشئ جديد*

*مع تكرارتقدم منه اغتناءً بشأن هذالمزيد*



*ذاكرالناس باالعلوم لتحيا    لاتكن من اولى النهى ببعيد*

*ان كتمت العلوم انسيت حتى    لاترى غيرجاهل وبليد*

*ثم الجمت فى القيامة نارا    وتلهب فى العذاب الشديد*

**ترجمه:** اوشيخ الامام استاذشرف الدين عقيلى رحمه الله فرمايى چه دنوى شروع كونكى په باره كى خماپه نزدصحيح خبره هغه ده چه زمونږمشائخوبه كول خكه دوى به نوى طالبانوته مختصراووارږه كتابونه غوره كول خكه واړه كتابونه پوهيدلوته اويادولوته نژدى دى اودستړيانه لرى دى يعنى ستړيانه راولى اودهغى مسائل په خلكوكى ډيرواقع كيږى

اوطالب العلم ته پكاردى چه ديادولونه روسته اوډيرتكرارنه روسته خپل سبق وليكى خكه چه ليكل ډيره فائده كوى اوشاګردبه داسى شى نه ليكى چه په هغى باندى نه پوهيږى خكه داپه طبيعت كى ستړياپيداكوى اوذكاوت له منځه وړى اودشاګردوخت ضائع كوى

اوطالب العلم ته پكاردى چه داستاذنه په خان پوهولوكى كوشش وكړى اويادأستاذپه سبق كى فكراوسوچ وكړى اوياډيرتكرا روكړى خكه كله چه سبق لږوى اوتكراراوتامل زيات وى نوسبق ياديږى اوسړىورباندى پوهيږى لكه علماؤويلى دى چه ددوه حرفونويادول ددوه بارونواوريدلوسبق نه غوره دى اوپه دوه حرفونوباندى پوهيدل ددوه بارونويادولوسبق نه غوره دى

اوكله چه طالب العلم دسبق په يادولوكى سستى وكړى يعنى يوځل يادوه خله كوشش ونه كړى نوهمداسى سست عادت كيږى چه بياپه وړه خبره باندى هم نه پوهيږى نوطالب ته پكارده چه په سبق يادولوكى سستى ونكړى بلكه كوشش وكړى اودالله ﷻ نه دعاوغواړى اوالله ﷻ ته عاجزى وكړى خكه دالله ﷻ نه چه څوك غوښتنه كوى نوهغه يى سوال قبلوى اوڅوك چه ورنه درحمت اميدساتى نوهغه نه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

مایوسه کوی مونږته به شیخ الامام حمادبن ابراهیم ددی په باره کی داشعرلوستلوچه مفهوم یی داسی دی

چه دهغه چاپشان دعلم خدمت کوه چه هغه دعلم نه فائده اخستونکی وی :اوپه بنه کارونوسره دعلم درس کولوته دوام ورکړه چه هغه یادول اوتکرارذی :اوکله چه دیوشی زده کړونوتکراریی کوه بیایی پوزه اومکمل مضبوط کړه بیایی ددی لپاره ولیکه چه نه همیشه هغی ته واپس کیږی اودهغی درس کوی :اوکله چه دهغی دفوت کیدلونه په امن کی شی :نودبل نوی علم په حاصلولوکی تلوارکوه :سره ددینه چه مخکی علم به تکراروی :اوسره ددینه چه دنوی علم شان به حاصلوی:اودخلکوسره دعلمونومذاکره کوه یعنی علم ورته ددی لپاره زده کوه چه همیشه ژوندی شی :اودعقل خاوندانونه مه لری کیږه :اوکه دخلکونه علم پټ کړی نوداعلم به درنه هیرشی :تردی چه ته به خلکوته جاهله اوکم عقله ښکاره کیږی اودقیامت په ورځ به درته داوږکیزی په خوله کی واچول شی اودلمبوپه سخت عذاب کی به وسوزول شی

**تشریح** **﴿وکان الشیخ﴾** یعنی عادت یی داؤچه ویلی به یی **﴿فی هذا﴾** یعنی دهغه طالب دسبق په اندازه کی چه اول خل یی شروع کوی **﴿الصواب عندی﴾** دامبتداده اوخبریی مافعله دی **﴿صغارالمبسوطة﴾** یعنی هغه کتابونه چه حجم یی وړوکی وی اودغتوکتابونویوه حصه وی **﴿لانه﴾** یعنی دوړوکتابونواختیارول **﴿اقرب الی الفهم﴾** دلویوکتابونونه **﴿وابعدمن الملالة﴾** ځکه چه ډیرمسائل ورکی نوی **﴿واکثره وقوعا﴾** یعنی ددی مسائل په خلکوکی ډیرواقع کیږی **﴿وینبغی ان یعلق﴾** یعنی شاګرد **﴿السبق﴾** تعلیق دلیکلونه عبارت دی یعنی په مخکی زمانه کی به شاګردانواول دامستاذنه سبق زده کولواوبیابه یی لیکلواودی لیکلوته تعلیق وایی **﴿فانه﴾** یعنی تعلق اولیکل **﴿نافع جدا﴾** یعنی ډیرفائده ناک دی **﴿لایفهمه﴾** دادشیئ لپاره صفت دی **﴿فانه یورث﴾** یعنی رکوی اوپیداکوی **﴿کلالة الطبع﴾** یعنی



دطبیعت ستړیا **﴿ویذهب الفطنة﴾** یعنی ذکاوت اوهوښیارتیا **﴿ویضیع اوقاته﴾** ځکه داپه هغه شی کی کوشش کوی چه هیڅ فائده ورکی نشته نوددده سعی عبث ګرزیږی اووخت یی ضائع کیږی **﴿من الاستاذ﴾** داترالفهم پوری متعلق دی **﴿اوبالتامل﴾** کوم سبق چه ورته استاذویلی وی **﴿فانه﴾** یعنی شان دادی **﴿یدرکه﴾** یعنی سبق **﴿حرفین﴾** یعنی دوه کلمی **﴿وقرین﴾** وقرپه کسری دواواوپه سکون دقاف سره بوج اوبارته وایی یعنی ددوه کلمویادول ددوه باره سبق اوریدلونه غوره دی چه هغه بغیریادولونه وی **﴿وفهم حرفین﴾** دسماع اودحفظ اوفهم په مابین کی فرقونه ظاهردی **﴿واذاتهاون﴾** یعنی چه سستی وکړی **﴿ولم یجتهد﴾** دادتهاون لپاره بیان دی **﴿ذالک﴾** یعنی ځان نه پوهول **﴿الیسیر﴾** یعنی په هغی باندی پوهیدل اوهغه یادول اسانه وی ځکه دده طبیعت په عدم فهم باندی عادت شوی دی **﴿فانه﴾** یعنی الله **﴿لایجیب﴾** ځکه الله ﷻ پخپل کتاب کی فرمایی **ادعونی استجب لکم** **﴿ولایخیب﴾** یعنی مایوسه یی نه ګرزوی **﴿من رجاه﴾** یعنی څوک چه دالله ﷻ نه درحمت امیدساتی **﴿وانشدنا﴾** یعنی مونږته یی ولوستلو **﴿الصفار﴾** الانصاری **﴿املاء﴾** یعنی شعرچه لیکلی یی ؤ **﴿والسجزری﴾** په بعضونسخوکی السرخسی راغلی دی **﴿اخدم المستفید﴾** یعنی دعلم په حاصلولوکی دهغه چاپشان کوشش وکړه چه هغه دعلم نه بالذات فائده اخلی **﴿وادم﴾** داادامة نه ماخوذدی **﴿حمید﴾** یعنی په ښه کارسره چه هغه یادول اوتکرارذی **﴿واذاما﴾** مازائده ده یعنی چه دعلم نه دی څه شی زده کړونوهغه اړوه اوتکراریکی کوه **﴿ثم اکده﴾** دادتاکیدنه دامرصیغه ده یعنی څه چه دی یادکړی نوهغه قرارورسته **﴿غایة التاکید﴾** ددی لپاره چه ستادزړه نه ونه وځی **﴿ثم علقه﴾** دادتعلیق نه دامرصیغه ده یعنی بیایی ولیکه **﴿کی تعودالیه﴾** یعنی ددی لپاره چه ته ورته واپس وکړی **﴿علی التابید﴾** ځکه کوم شی چه زده شی نواکثره دذهن نه وځی اوکله چه یی ولیکی نودضرورت په وخت کی اودرس په وخت کی ورته رجوع

کولی شی ﴿فاذاما﴾کلمه دمازائده ده اوپه منه کی ضميرشئ ته راجع دی ﴿فواتا﴾داتميزدی نوځکه منصوب دی يعنی کوم شی چه دی زده کړی دی اودهغی دفوت کيدلونه په امن کی شوی ﴿فانتدب بعده﴾يعنی ددی علم نه بل علم ته تلواروکړه انتداب سرعت ته ويل کيږی لکه خلک وايی انتدب الله لمن خرج فی سبيله يعنی په ثواب کی تلوارکوی کذافی القاموس﴿لشئ جديد﴾يعنی دنوی علم حاصلولولپاره﴿مع تکرار﴾ سره دتکراردهغی مسئلی نه چه مخکی تيره شوی ده اوپه منه کی ضميرشئ جديدته راجع دی ﴿واقتناء﴾په جرسره په مخکی تکرارعطف دی يعنی سره دکسب کولونه ﴿لشان هذالمزيد﴾دکوم علم حاصلوته چه ته تلوارکوی ﴿باالعلوم﴾يعنی خلکوته په ښودلوسره ﴿لتحيا﴾يعنی چه په هميشه ژوندسره ژوندی شی لکه رسول الله ﷺ فرمايی من صارباالعلم حياًلم يمت ابدا اوبه بعضونسخوکی لتحمی راعلی دی اودادحمايت نه دی يعنی ددی لپاره چه دعلم په برکت سره دعذاب نه بچ شی ﴿لاتکن الخ﴾النهی دنهية جمعه ده اونهيه عقل ته وايی يعنی دعقل دخاوندانونه مه لری کيږه خکه ددوی صحبت تاته ددنيااواخرت فاندی رسوی ﴿ان کتمت الخ﴾يعنی که ته علمونه پټ کړی اودطالبانونه يی منعه کړی نوالله ﷻ به جزادرکړی اودرنه هيربه يی کړی﴿لاتری﴾په صيغی دمجهول سره ﴿غيرجاهل وبليد﴾يعنی دعلم هيريدل تادی مرتبی ته رسوی چه ليدونکی به دربانډی دکم عقل ګومان کوی اوداعذاب به درته کافی نه وی بلکه په اخرت کی به هم درته سخت عذاب ملاويږی لکه روسته بيت کی وايی ﴿ثم الجمت﴾دادمجهول مخاطب صيغه ده ﴿ناراً﴾يعنی دجهنم داورکيزه به ورته په خوله کی واچول شی﴿وتلهبت﴾يعنی په اوربه هم سوزيږی ﴿باالعذاب الشديد﴾خکه رسول الله ﷺ فرمايی چاچه ديوشی علم پټ کړونودقيامت په ورځ به ورته داورکيزی په خوله کی اچول کيږی :



بل ځای کی رسول الله ﷺ فرمايی چه الله ﷻ دی زماپه خليفه ګانوباندی رحم وکړی چاورته ووېل چه ستاخليفه ګان څوک دی ای دالله ﷻ رسوله نورسول الله ﷺ وفرمايل داهغه کسان دی چه زمادسنتوسره مينه لری اودالله ﷻ بندګانوته يی ښايی

**ولابدلطالب العلم من المذاكرة والمناظرة والمطارحة فينبغي ان يكون** بالانصاف والتأني والتأمل ويتحرزعن الشغب والغضب فان المناظرة والمذاكرة مشاورة والمشاورة انماتكون لاستخراج الصواب وذالك انمايحصل باالتأمل والتأني والانصاف ولايحصل باالغضب والشغب فان كانت بينه الزام الخصم فلاتحل المناظرة وانماتحل لاظهارالحق والتموية والحيلة فيهالاتجوزالااذاكان الخصم متعنتالاطالباللحق وكان محمدبن يحي رحمه الله اذاتوجه عليه الاشتغال ولم يحضره الجواب يقول مالزمته لازم وانافيه ناظروفوق كل ذی علم عليم وفائدة المطارحة والمناظرة اقوى من فائدة مجردالتكرارلان فيهاتكراروزيادة فقدقيل مطارحة ساعة خيرمن تكرارشهرولكن اذاكان مع منصف سليم الطبيعة واياك والمناظرة مع متعنت غيرمستقيم الطبع فان الطبيعة متسرية والاخلاق متعدية والمجاورة مؤثرة وفي الشعرالذی ذكره الخليل بن احمد رحمه الله فوائدكثيرة وقدقيل

* العلم من شرطه لمن خدمه ان يجعل الناس كلهم خدمه *

**ترجمه** اوطالب العلم لپاره مباحثه کول اومذاکره کول اومناظره کول لازم دی اوپکار ده چه دابحث اومباحثه په انصاف اوپه قناعت اوپه سوچ سره وی اودشوراوغصی نه ورکی ځان وساتی خکه مذاکره اومناظره مشوره ده اومشوره ددی لپاره کيږی چه حق خبره ښکاره اوظاهره شی اودا په سوچ اوانصاف اوقناعت سره حاصليږی اوپه غصه اوپه شورکولوسره نه حاصليږی اوکه چرته يی په بحث اومباحثه کی نيت داوی چه خصم ملامته اوغصه کړی نوبيادامباحثه جائزنده مګرکه خصم عنادی وی اودحق غوښتونکی نه وی نوبيايی ملامته کول جائزدی

اومحمدبن يحي رحمه الله ته به چه کله يوسوال راغلواوجواب به ورسره نه ؤنوده به ورته ويل چه کوم سوال دی کړی نوهغه موجوددی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اوزه ورکی سوچ اوفکرکوم اودهرعالم دپاسه بل عالم شته دی
اودبحث اومباحثی فائده دتکرارنه زياته ده خکه په مناظره کی
تکرارهم دی اونوری زياتی فائدی هم پکی شته

اوچاويلی دی چه يوساعت مناظره کول ديوی مياشتی
تکرارنه غوره دی لکن داپه هغه وخت کی چه مناظره دبرابرطبيعت
والا سره وی اودهغه چاسره دمذاکری نه خان وساته چه هغه
عنادکروی اودبرابرطبيعت والانه وی خکه طبيعت سرايت کوی
اواخلاق ديوسړی نه بل ته متعدی کيږی اويودبل سره نژدی والی
پدی شيانوکی موثردی اوکوم شعرچه خليل ابن احمد ذکرکړی دی
نوپه هغيکی ډيری فائدی دی اوچاويلی دی چه دعلم شرط دادی چه
ټول خلک به دهغه چه خدمت کوی څوک چه دعلم خدمت کوی

**تشريح**: **(والمناظرة)** يعنی يودبل سره بحث کول **(والمطارحة)**
مطارحة دېته وايی چه يودبل خبره غوږزوی نوپکارده چه په هريوکی
دانصاف نه کاروا‌خـــل شی **(والتانی والتامل)** خکه ددی
شيانوخخه مذموم اوبندی **(عن الشغب)** په فتحی دشين اوپه
سکون دغين اوپه حرکت دغين سره دی اودشرراپورته کولوته وايی
**(وذالک)** يعنی دحق ښکاره کيدل **(لايحل ذالک)** يعنی کوم چه
مونږذکرکړل چه هغه مناظره اومباحثه دد **(لاظهارالحق)** يعنی
دصحيح خبری داظهارلپاره **(والتموية)** يعنی حق ګډوډکول **(فيها)**
يعنی په مناظره کی **(متعنتا)** يعنی چه دخپل ملګری
ناکولوکوشش کوی **(لاطالباللحق)** نوپدغه وخت کی الزام دخصم
جائز دی **(ماالزمته)** يعنی سوال **(لازم)** يعنی وارددی **(وانافيه)** يعنی په
هغه مکال کی چه تاواردکړی دی **(ناظر)** يعنی سوچ کونکی يم
**(وفوق كل الخ)** يعنی په درجه کی ورنه اوچت شته دی **(لان فيه)** يعنی
په مناظره کی اوضميردمذکورته په اعتباردتاويل سره راجع شوی
دی **(تکرار)** په کوم شی چه پوه وی **(وزيادة)** يعنی دهغه شی زيادت
پکی راحی چه ته وربانډی نه پوهيږی خکه په بحث اومباحثی سره



هغه دقيق معانی ښکاره کيږی چه بغيردمناظری نه نه ښکاره کيږی
**(اذاکان)** يعنی مناظر **(مع منصف)** يعنی چه دانصاف خاوندوی
**(سليم الطبع)** يعنی طبيعت يی ګډوډ نه وی **(واياک)** داتحذيردی خکه
منصوب دی **(والمذاکرة)** يعنی دمذاکری نه خان وساته **(مع
متعنت)** يعنی چه دخصم ملامته کونکی وی **(والاخلاق)** يعنی صفتونه
**(متعدية)** يعنی نوروته تجاوزکوی **(والمجاورة)** يعنی نژديکت
اواومقارنت **(مؤثرة)** نودنژديکت دوجی نه په بل سړی کی
اثرکوی **(وفی الشعرالذی)** هغه شعرچه مخکی ذکرشوچه اول يی داسی
دی اخدم العلم خدمة المستفيد الخ **(فوائدکثيرة)** دامبتدا مؤخره ده
اوفی الشعرورته خبرمقدم دی **(قيل العلم الخ)** العلم مبتدااوله ده
اومن شرط يی خبرمقدم دی اولمن خدمه تران يجعل الناس پوری
متعلق دی خکه چه په ظروفوکی توسع ده اودامبتدامؤخره ده
اوداټوله جمله داولی مبتداپاره خبردی اوپه اوله مسره کی خدم
فعل ماضی ده اوهاپکی مفعول دی اوپه دوهمه مسره کی خدمه
جمعه دخادم ده نومعنی داشوه چه په علم کی شرط دادی چه ټول
خلک به دهغه چاخادمان جوړيږی څوک چه دعلم خدمت کوی لکه
داخبرد يه خبرمشهورکی هم راځی هغه داچه من خدم خدم يعنی څوک
چه خدمت وکړی نوددده خدمت به وشی

**وينبغی لطالب العلم ان يکون متأملافی جميع الاوقات فی دقائق العلوم
ويعتادذالك فانماترك الدقائق باالتامل ولهذاقيل تامل درك ولابدمن التامل قبل
الكلام حتی يكون صواباًفان الكلام كالسهم فلابدمن تقويمه باالتامل قبل الرمی حتی
يكون مصيباقال فی اصول الفقه هذااصل كبيروهوان يكون كلام الفقيه المناظرباالتا
مل وقيل راس العقل ان يكون الكلام باالتثبت والتامل**

## قال القائل

***اوصيك فی نظم الكلام خمسة ان كنت للموصی الشفيق مطيعا***

***لاتغفلن سبب الكلام ووقته والكيف والكم والمكان جميعا***

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

**ويکون مستفيدافي جميع الاحوال والاوقات من جميع الاشخاص قال رسول الله ﷺ الحکمة ضالة المؤمن اينماوجدهااخذها؛وقيل خذماصفاودع ماکدر؛وسمعت الشيخ الامام الاستاذفخرالدين الکاشاني رحمه الله يقول کانت جارية ابي يوسف رحمه الله امانة عند محمدفقال لهامحمدهل تحفظين في هذالوقت من ابي يوسف في الفقه شيئا؟قالت لاالاانه يکررويقول سهم الدورساقط فحفظ ذالك منها وکانت المسئلة مشکلة علی محمدفارتفع اشکاله بهذه الکلمة فعلم ان الاستفادة ممکنة من کل احدولهذاقال ابويوسف حين قيل له بم ادرکت العلم؟قال مااستنکفت من الاستفادة ومابخلت بالافادة**

**ترجمه**:اوطالب العلم لره پکاردی چه هروخت دعلومو په باريکيوکی سوچ اوفکروکړی اوداخپل عادت وګرزوی ځکه باريک شيان په سوچ اوفکرسره معلوميږی دهمدی وجی نه ويل شوی دی چه په کوم شی کی سوچ کوی نوهغه شی به حاصلوی اودخبروکولونه مخکی په خبروکی سوچ کول لازم اوضروری دی ترڅوصحيح خبره دخولی نه راوباسی ځکه خبره دغشی پشان ده نودويشتلونه مخکی يی په سوچ اوفکرسره برابرول لازمی دی ترڅوپخپل هدف باندی ولګيږی

عالمانوپه اصول فقه کی ويلی دی چه اصل اوبنياددادی چه بايددفقيه اومناظرسړی خبری په سوچ اوفکرسره وی اوچاداهم ويلی دی چه دعقل سردادی چه دسړی خبری په وقاراوسوچ سره وی ددی په باره کی يوقائل وايی چه دخبرودنظم په باره کی درته په پنځه شيانوباندی وصيت کوم کچرته ته دمشفق اومهربانه وصيت کونکی وصيت منی :اول داچه دخبرودسبب نه غافله نشی :دوهم داچه دخبرودوخت نه غافله نشی :دريم داچه دخبرودوصف نه غافله نشی:څلورم داچه دخبرودانداذی نه غافله نشی :پنځم داچه دخبرودځای نه غافله نشی

اوطالب العلم ته پکار دی چه په هرحال اوهروخت کی دهرچانه فائده واخلی لکه رسول الله ﷺ فرمايی حکمت دمؤمن سړی ورکه



شوی ده نوپه کوم ځای کی چه يی پيداکړه نوهغه دی راواخلی اوداسی هم ويل شوی دی چه هغه شی راواخله کوم چه تاته فائده درکوی اوکوم شی چه مشکوک وی نوهغه پريږده اومادشيخ الامام فخرالدين کاشانی نه اوريدلی هغه به ويل :چه دامام ابويوسف وينزه دامام محمدسره امانتی وه امام محمدوينزی ته وويل اياتادامام ابويوسف نه په دومره وخت کی دفقهی کومه مسئله زده کړی ده؟وينزی وويل نه مګرامام ابويوسف به ديوی مسئلی تکرارکولواوهميشه به يی ويل چه حصه ددورساقطه ده :نوامام محمددامسئله دوينزی نه زده کړه اوامام محمدته پدی مسئله کی اشکال پيداشوی ووُنوهغه اشکال يی پدی کلمی سره ختم شونوامام محمدته پته ولګيده چه دهرچانه فائده اخستل ممکن دی ددی وجی نه چه کله دامام ابويوسف نه تپوس وشوچه په څه طريقه تاداعلم حاصل کړی دی؟

نوهغه ورته په جواب کی وويل چه ماديل چانه په فائده اخستلوکی شرم ندی کړی اوبل چاته می به فائده ورکولوکی بخل ندی کړی نوددی وجی نه می داعلم حاصل کړی دی

**تشريح** **(ويعتادذالک)** يعنی دعلم په باريکانوکی سوچ دځان عادت وګرزوی **(تامل)** دادامرصيغه ده **(تدرک)** دادامرجواب دی ددی وجی نه مجزوم دی يعنی که په يوشی کی سوچ وکړی نوخامخابه يی حاصل کړی **(من تقويمه)** يعنی هغه برابرول **(حتی يکون)** يعنی دخبروغشی **(مصيبا)** يعنی مقصودته يعنی لکه څنګه چه دليندی غشی کله کوږوی نومقصودته نه رسيږی نوهمدارنګه کله چه دخبروغشی کوږوی يعنی غيرمقصودی خبره وی نوهدف اومقصودته نه رسيږی **(وقال)** يعنی اصول فقه والا **(باالتثبت)** يعنی په وقارسره **(قال قائل)** يعنی په خبروکی دسوچ کولوپه باره کی يی شعرويلی دی **(بخمسة)** يعنی په پنځه شيانوباندی **(ان کنت)** په صيغی دمخاطب سره **(للموصی الشفيق)** يعنی که ته دهغه چاخبره منی چه هغه تاته په خيرباندی وصيت کوی اوتاباندی شفقت کوی

**(لاتغفلن)** په نون خفيفه سره **(سبب الكلام ووقته)** يعني دخبرودسبب نه مه غافله كيږه اودهغه وخت نه مه غافله كيږه چه په هغې كې خبره كول مناسب وي **(والكيف)** يعني دخبرودوصف نه **(والكم)** يعني دخبرودانداز ي نه **(والمكان)** يعني دخبرودځاى نه هغه ځاى چه په هغې كې خبرې كول مناسب وي **(ويكون)** دامنصوب دى اوپه مخكې يكون باندې عطف دى **(من جميع الاشخاص)** يعني دى ته به نظرنه كوي چه دابې كاره سړى دى غټ دى اوكه ماشوم دى نردى اوكه ښځه ده اوددى تائيدېدى قول سره كوي **(ضالة المؤمن)** يعني دمسلمان لقيطه يعني وركه ده **(ماصفا)** يعني چه تاته فائده دركوي **( ودع )** يعني پريږده **(ماكدر)** يعني چه په ضعف اوفسادكې يې تشويش وي **(هل تحفظين)** يعني تا **(من ابى يوسف)** يعني دهغه دخبرونه **(شيئا)** يعني كومه مسئله دمسائلودفقه نه **(لا)** يعني ياده كړې مې نده **(الا انه)** يعني ابويوسف **(كان يكرر)** يعني عادت يې داؤچه هميشه به يې تكراركولو **(فحفظ)** يعني محمد رحمه الله **(منها)** يعني دوينزې نه **(وكانت)** يعني حال داچه دامسئله **(بهذاالكلمة)** كومه كلمه چه دوينزې نه يې حاصله كړه **(فعلم ان الاستفادة)** همدارنګه دامام ابوحنيفة رحمه الله نه نقل شوي دي چه امام صيب په هركال حج كولوتردې چه پنځه پنځوس حجونه يې كړي ؤاوهركال به ملګرې ورته استقبال ته راوتل اويوكال يې حج كولونوپه كوفه كې ددورمسئله راپيښه شوه چه تپوس كونكي به په ټولوخلكوور ګرزيدواوهرچابه غلطه فتواوركوله اوهرچابه جداجدافتوه وركوله نوامام ابوحنيفة رحمه الله چه كله واپس كيدونوچاورنه همداپوښتنه وكړه نوامام صيب بغيردسوچ اوفكرنه وويل چه ددورحصه ساقطه كړې نومسئله به صحيح شي

صورت دمسئلې داسې دى چه يوسړي مريض وي اودبل مريض لخوانه ورته غلام هبه شي اوده ته يې وسپاري بيامو هوب له بيرته واهب ته داغلام هبه كړي اوهغه يې تسليم كړي اوبيادواړه په



بوځاى مړه شي اودى غلام نه غيرددواړونه نورمال نوي پاتې نوپديكي دورواقع كيږي څكه كله چه واهب ته څه شي واپس كوي نودده په مال كې زيادت راځي اوكله يې چه په مال كې زيادت راشي نوپه ثلث كې يې زيادت راځي اوكله يې چه په ثلث كې زيادت راشي نوپه هغه شي چه واهب ته يې واپس كوي نوپه همدې طريقې سره دورلازميږي نوداسې حساب ته ضرورت دى چه ددې تصحيح ورنه وشي نومونږوايوددې طريقه داده چه داسې حساب به جوړوي چه درې ثلثه ولرې چه كم يې نهه حصې راځي بيامونږوايوچه هبه ددرې حصونه صحيح كيږي بيابه په دوهمه هبه كې اول واهب ته دثلث نه يو حصه واپس كوي نوداحصه ددورحصه ده نوداحصه به داصل نه ساقطه وي چه هغه نهه حصې دي نواته حصې باقي پاتې كيږي اومسئله دهمدې نه صحيح كيږي اودامام صيب ددې قول همدامطلب دى چه اسقطواالسهم الدائرتصح المسئلة نواوله هبه داته حصونه په درې حصوكې صحيح شوه اودوهمه هبه په يوسهم كې صحيح شوه اودوهمه هبه په يوسهم كې صحيح شوه نواول واهب ته شپږحصې حاصلې شوې اودوهم واهب ته دوه حصې حاصلې شوې نوددېنه معلومه شوه چه طريقه دتصحيح همداده چه دنهه حصونه حصه ددورساقطه شي **(ولهذا)** يعني ددې وجې نه چه دهرچانه فائده اخستل ممكن دى **(بم)** يعني په څه شي **(ادركت العلم)** يعني علم ته رسيدلى يې **(من الاستفادة)** يعني دهرچانه **(من الافادة)** يعني هرچاته داجمله دقال لپاره مقوله ده

**وقيل لابن عباس رضي الله عنه بم ادركت العلم قال بلسان سؤول وقلب عقول وانماسمي طالب العلم ماتقول لكثرة مايقولون في الزمان الاول ماتقول في هذه المسئلة وانماتفقه ابوحنيفة رحمه الله بكثرة المطارحة والمذاكرة في دكانه حين كان بزازافبهذايعلم ان تحصيل العلم والفقه يجتمع مع الكسب وكان ابوحفص الكبيريكتسب ويكررالعلوم فان كان لابدلطالب العلم من الكسب لنفقة عياله فاليكتسب واليكررولايكتسل وليس لصحيح البدن والعقل عذرفي ترك العلم والفقه**

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

فانه لایکون افقر من ابی یوسف ولم یمنعه ذالك من النفقة فمن کان له مال کثیر فنعم المال الصالح للرجل الصالح

وقیل لعالم بم ادرکت العلم قال باب غنی لانه کان یصطنع به اهل العلم والفضل فانه زیادة العلم لانه شکر علی نعمة العقل والعلم وانه سبب الزیادة

قیل قال ابوحنیفة رحمه الله ادررکت العلم بالحمدلله تعالی والشکر فکلما فهمت ووقفت علی فقه وحکمة فقلت الحمدلله تعالی فازداد علمی وهکذا ینبغی لطالب العلم ان یشتغل بالشکر باللسان والجنان والارکان والمال ویری الفهم والعلم والتوفیق من الله تعالی بالدعاء له والتضرع الیه فان الله تعالی هادمن استهداه فاهل الحق وهم اهل السنة والجماعة طلبوا الحق من الله تعالی الحق الهادی المبین العاصم فهداهم الله تعالی وعصمهم عن الضلالة واهل الضلالة اعجبوا برأیهم وعقلهم وطلبوا الحق من المخلوق العاجز وهو العقل لان العقل لایدرك جمیع الاشیاء فحجبوا وعجزوا وضلوا واضلوا قال علیه السلام من عرف نفسه عرف ربه فاذا عرف عجز نفسه عرف قدرة الله ولا یعتمد علی نفسه وعقله بل یتوکل علی الله ویطلب منه الحق ومن یتوکل علی الله فهو حسبه ویهدیه الی صراط مستقیم

**ترجمه** او ابن عباس رضی الله عنه ته چاوویل چه علم دی په څه شی حاصل کړی دی؟ ابن عباس رضی الله عنه ورته وویل چه داعلم می په هغه ژبه حاصل کړی دی چه هغه ډیره تپوس کونکی ده او په هغه زړه می حاصل کړی دی چه هغه ډیرعقل والادی او په محکی زمانه کی طالب العلم په ماتقول باندی مشهور ؤخکه دوی به داجمله ډیره استعمالوله چه ماتقول فی هذه المسئلة

او امام صیب پخپل دوکان کی دوجی ډیروبحثونو او مناظرو نه فقیه گرزیدلی دی کله چه دادرختونو سوداگرؤاو رختونه یی خرڅولنو د دینه معلومه شوه چه دعلم او دفقهی حاصلول لوکسب او کار سره جمعه کیږی او ابوحفص کبیر به کارهم کولو او دعلم تکرار به یی هم کولو

که چرته په طالب العلم باندی دخپلی کورنی نفقه لازم وی نو کسب او کاردی هم کوی او دعلم تکراردی هم کوی او ستی دی



نه کوی او کله چه دسړی بدن او عقل صحیح وی نو ده ته دعلم او دفقهی په پرینبودلو کی هیڅ عذرشته دی خکه داد امام ابویوسف رحمه الله نه ډیرنشی غریب کیدلی او امام ابویوسف یی دعلم او فقه نه منعه نه کړ او که دچاسره ډیرمال وی نو دابنه خبره ده چه پاک او حلال مال دصالح او نیک سړی سره وی

او یوعالم نه چاوویل چه داعلم دی په څه شی باندی حاصل کړی دی؟ عالم ورته وویل چه دامی دخپل پلار غنی او مالدارد نه حاصل کړی دی خکه چه خما پلار به په اهل علمو او غوره خلکو باندی صدقی کولی نو ماته الله تعالی علم راکړو خکه په علماو باندی احسان کول دعلم دزیادت سبب دی خکه دادعقل او دعلم شکراداء کول دی او شکر په نعمت کی زیادت راولی

او داهم ویلی دی چه امام ابوحنیفة رحمه الله به فرمایل چه ماعلم په الحمدلله او په شکرسره حاصل کړی دی کله به چه زه په یوه مسئله باندی پوه شوم او یا به په فقه او حکمت باندی موافق شوم نو مابه الحمدلله وویل نو زماعلم به زیات شو نو هم دغه شان طالب العلم ته پکاردی چه دالله تعالی شکر په زړه او په ژبه او په اندامونو او په مال سره اداکړی او ویدی باندی عقیده وساتی چه پوهه او توفیق دالله تعالی نه په غوښتنه او هغه ته په عاجزی سره حاصلیږی خکه الله تعالی هغه چاته هدایت کوی څوک چه ورنه دهدایت طلب او غوښتنه کوی

نو اهل حق چه هغه اهل السنة والجماعة دی دهغه الله تعالی نه دحق طلب کوی چه هغه حق ذات دی او هدایت کونکی دی او ښکاره دی او بچ کونکی دی نو الله تعالی دوی ته سمه لار وښوده او دگمراهی نه یی بچ کړل او گمراهان خلک خپل عقل ته خوشحاله دی او دعاجز مخلوق نه دحق طلب کوی چه هغه عقل دی خکه عقل ټول شیان نشی معلومولی نو گمراهان خلک دحق نه بند دی او دحق دپیژندلو نه عاجزدی پخپله هم گمراهان دی او نور خلک هم گمراه کوی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی چه چاخپل خان وپیژندلو نو ده خپل رب

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

ویږندلوڅکه چه کله دخپل نفس عجزوپیژنی نوداللهﷻ قدرتونه
پیژنی اوخپل حق اونفس باندی اعتمادنه کوی بلکه په اللهﷻ باندی
توکل کوی اودهغه نه دحق طلب کوی اوڅوک چه په اللهﷻ باندی
توکل وکړی نواللهﷻ ورته کافی دی اودابه سمی لاری ته برابروی

**تشریح** (**سؤول**) په وزن دفعول سره په سوال کی مبالغی
کولوته وایی (**عقول**) داهم په عقل کی مبالغه ده (**وانماسمی الخ**) یعنی
په اوله زمانه کی (**ماتتول الخ**) دادیقول لپاره مفوله ده (**وانماتفقه
ابوحنیفة**) یعنی ابوحنیفة رحمه الله فقیه ندی گرزیدلی مگر (**بکثرة
الخ**) لکه څنگه چه امام ابوحنیفة رحمه الله جمعه کړی وه (**یکتسب**) هغه
اندازه رزق چه ده ته کافی کیږی (**ویکررالعلوم**) دا بل شاهد دی
خبری لپاره ذکرکوی چه علم دکسب سره جمعه کیږی (**لعیاله**) په
کسری دعین سره جمعه دعیل ده لکه جیادچه جمعه دجید ده
(**وغیره**) دچاچه وربانذی نفقه لا زمه وی (**ولیس الخ**) څکه ترڅوچه
دانسان بدن دمرضونونه سالم وی اوعقل یی کامل وی نودعلم په
پریخودوکی ورته هیڅ عذرنه پیداکیږی داسی نشی ویلی چه زه
فقیروم نوڅکه زانه علم پاتی شو (**فانه**) یعنی داسړی (**ولم
یمنعه**) یعنی امام ابویوسف رحمه الله (**ذالک**) یعنی فقیر (**فنعم المال**) دا
مقدری مبتدالپاره خبردی نوتقدیردعبارت داسی شوفمن کان له
مال کثیرفمتول فی حقه نعم المال الصالح للرجل الصالح :یعنی
هغه مال چه فاسدنه وی اودحراموسره گډنوی نوداهغه سړی لپاره
ډیرښه دی چه هغه صالحه وی اودعلم حاصلولوکی ورنه فائده
واخلی (**بم**) یعنی په کوم شی (**لانه**) یعنی غنی پلار (**یصطنع**) یعنی
احسان یی کولو (**به**) یعنی په سبب دمالداری (**فانه**) یعنی
احسان (**وانه**) یعنی پدی باندی شکراداکول (**سبب الزیادة**) یعنی
دادنعمت دزیادت لپاره سبب دی لکه اللهﷻ فرمایی **ولان شکرتم
لازیدنکم** (**قال ابوحنیفة رحمه الله**) داجمله دقیل لپاره مقوله ده
(**انماادرکت الخ**) یعنی زه دی مرتبی ته نه یم رسیدلی مگربه الحمدلله



ویلوسره اوداللهﷻ په نعمتونوباندی دشکریه اداکولوسره رسیدلی
یم (**فکلمافهمت**) یعنی په کوم علم باندی (**ووفقت**) په مجهول صیغی
سره یعنی چه داللهﷻ دطرف نه توفیق راکړل شی (**وحکمة**) یعنی په
پوشی باندی پوه شم (**فقلت الخ**) داجمله دفهمت په جمله باندی عطف
ده (**فازدادعلمی**) داد کلما لپاره جواب دی (**والارکان**) یعنی اندامونه
(**والمال**) یعنی په مال چه په فقیرانوباندی صدقه کوی
(**ویرالفهم**) یعنی دپوهیدوعقیده ساتی (**ویطلب**) دا منصوب دی اوپه
یری باندی عطف دی (**بالدعاء**) دایطلب پوری متعلق دی
(**له**) یعنی اللهﷻ ته (**فمامن استهداه**) یعنی څوک چه داللهﷻ نه
دهدایت طلب کوی نواللهﷻ ورته هغه لاره ښایی اوداوربانذی
مطلوب ته رسیږی (**طلبوالحق**) یعنی رښتیاخبری اوصحیح کارونه
داللهﷻ نه غواړی (**من الله الحق**) دامجروردی اوداالله لپاره صفت دی
(**الهادی**) داتول مرادف صفتونه دی اودعاصم معنی داده چه دوی یی
دخطالاری نه بچ کړی دی (**فهذاهم الله تعالی الخ**) یعنی څه یی چه
غوښتل اللهﷻ ورکړل (**لان العقل**) دادعقل دعاجزوالی لپاره علت
ذکرکوی (**فعجبوا**) په صیغی دمجهول سره یعنی دحق دپیژندلونه
بندشوی دی (**وعجزوا**) یعنی دحق دپیژندلونه (**وضلوا**) یعنی پخپله
گمراه دی (**واضلوا**) او نورهم گمراه کوی (**من عرف نفسه**) یعنی
دمخلوق صفات وپیژنی لکه عجزفناکیدل ضعف فقرنودابه
داللهﷻ صفات وپیژنی لکه داللهﷻ قدرت اوبقااوقوت اوغنا (**علی
نفسه**) یعنی نفس ناطقه حکماؤپه نزدنفس هغه جوهرته وایی چه بدن
پوری داسی معلق وی لکه څنگه چه وریسی تدبیراوتصرف معلق
وی اومتکلمین وایی چه دشی ذات اوحقیقت ته نفس وایی
(**وعقله**) دا په نفس کی هغه قوت دی چه پدی سره علوم اوادراکات
حاصلیږی (**حسبه**) یعنی اللهﷻ ورته کافی دی داقول اووریسی
روسته قول دقرانکریم نه اقتباس دی (**صراط مستقیم**) چه هغه دین
حق دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

**ومن كان له مال فلايبخل وينبغي** ان يتعوذبالله تعالى من البخل قال النبي ﷺ اى داءادوأمن البخل وكان ابوالشيخ الامام الاجل شمس الائمة الحلوانى رحمه الله فقيرايبيع الحلواء وكان يعطى الفقهاء من الحلواء ويقول ادعوالابنى فببركة جوده واعتقاده وشفقته وتضرعه نأل ابنه مانال ويشترى بالمال الكتب ويستكتب فيكون عوناعلى التعلم والتفقه

ولقدكان لمحمدبن الحسن مال كثيرحتى كان له ثلاثة مائة من الوكلاء على ماله فأنفقه كله فى العلم والفقه ولم يبق له ثوب نفيس فراٰه ابويوسف رحمه الله فى ثوب خلق فارسل اليه ثيابانفيسة فلم يقبلها فقال عجل لكم واجل لنا ولعله انمالم يقبله وان كان قبول الهدية سنة لمارأى فى ذالك مذلة لنفسه قال رسول الله ﷺ ليس للمؤمن ان يذل نفسه

وحكى ان فخرالاسلام الارسابندى رحمه الله جمع قشورالبطيخ الملقاة فى مكان خال فاكلهافراٰته جارية فاخبرت بذالك مولاهافاتخذله دعوة فدعاه اليهافلم يقبل لهذا وهكذاينبغى لطالب العلم ان يكون ذاهمة عالية لايطمع فى اموال الناس قال عليه السلام اياك والطمع فانه فقرحاضرولايبخل بماعنده من المال بل ينفق على نفسه وعلى غيره وقال النبى ﷺ الناس كلهم فى الفقرمخافة الفقروكانوافى الزمان الاول يتعلمون الحرفة ثم يتعلمون العلم حتى لايطمعوافى اموال الناس وفى الحكمة من استغنى بمال الناس افتقروالعالم اذاكان طماعالايبقى له حرمة العلم ولايقول بالحق ولهذاكان يتعوذصاحب الشرع عليه السلام ويقول اعوذبالله من طمع يدنى الى طبع:

وينبغى ان لايرجوالامن الله تعالى ولايخاف الامنه ويظهرذالك بمجاوزة حدالشرع وعدمهافمن عصى الله تعالى خوفامن المخلوق فقدخاف غيرالله تعالى فاذالم يعص الله تعالى لخوف المخلوق وراقب حدودالشرع فلم يخف غيرالله تعالى بل خاف الله تعالى وكذافى جانب الرجاء

**ترجمه:** اوڅوک چه مالداره وی نوبخل دی نه کوی اوپکارده چه په الله ﷻ باندی دبخل نه پناه وغواړی اورسول الله ﷺ فرمایی چه کوم مرض دبخل نه ډیرسخت دی یعنی دبخل نه لوی مرض نشته دی اودشیخ الامام شمس الائمة حلوانی پلارډیرغریب ؤاوحلوابه یی خرڅوله اوفقهاؤته به یی حلواورکوله اوفقهاؤته به یی ویلی چه



زماځوی ته دعاوکړی نودپلاردسخااوعقیدی اوشفقت اودعاجزی دبرکت دوجی نه یی خوی لویی مرتبی ته ورسیدو

اومال داره طالب ته پکارده چه په خپل مال باندی کتابونه واخلی اودبل چانه دروپیوبه مقابل کی دلیکلوطلب وکړی ترڅودده سره دعلم اوفقهی په حاصلولوکی مدداومرسته وکړی محمدبن الحسن ډیرمالداره ؤچه دده دری سوه وکیلان وه پخپل مال باندی نوداټول مال یی دعلم اوفقه په حاصلولوکی خرچ کړاویوه ښایسته جوړه جامی هم ورسره پاتی نشوی امام ابویوسف رحمه الله یوه ورځ په زړه جامه کی ولیدونوښایسته جامه یی ورولیږله نومحمدبن حسن قبوله نکړه اوویی ویل چه تاسوته الله ﷻ په دنیاکی مال درکړی دی اوموږته یی په اخرت کی ذخیره کړی دی اودهدیی قبلول اګرچه سنت دی لکن کیدیشی محمدبن حسن رحمه الله ددی وجی نه نوی قبوله کړی چه پدیکی یی دځان ذلت راتلواورسول الله ﷺ فرمایی دمسلمان لپاره جائزندی چه ځان ذلیله کړی

اویوه واقعه رانقل شوی ده چه فخرالاسلام ارسابندی دخټکی پوستکی راجمعه کړل چه په یوخالی ځای کی راجمعه شوی وه اوهغه یی وینځل اوبیایی خوړل نوفخرالاسلام یوی وینځی ولیدلو چه دخټکوپوستکی خوری وینځی خپل مولاخبرکړوچه فخرالاسلام دخټکوپوستکی خوړل نودوینځی مولا ورته خوراک تیارکړواوهغه خوراک لپاره یی دعوت کړونوفخرالاسلام یی دهمدی وجی نه دعوت قبول نه کړوچه دده دنفس ذلت رانتی

نوهمدغه شان طالب العلم ته پکاردی چه لوړهمت ولری اودخلکومالونوته طمعه ونکړی لکه رسول الله ﷺ فرمایی دطمعی نه ځان وساته ځکه داسمدستی حاضرفقردی: اوپکارده چه مالدارطالب العلم پخپل ځان باندی اوپه ملګروباندی نفقه وکړی اوبخل ونکړی اورسول الله ﷺ فرمایی چه خلک ټول ددی وجی نه په فقرکی واقع دی چه دوی دفقرنه ډاریږی اوپه پخوازمانه کی به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

علماؤاول كسب زده كولواوبيابه يې علم زده كولودادي لپاره چه دخلكومالونوته طمعه ونكړي اوپه حكمت كې راغلي دي چه څوك دخلكودمال نه دمالدارۍ طمعه كوي نوداسړي به فقيركيږي اوعالم سړي چه كله طمعه كونكي وي نودهغه په زړه كې دعلم عزت نه پاتي كيږي اونه په حقه خبره باندي قول اوحكم كوي ددې وجې نه به رسول الله ﷺ پناه غوښتله اوويلي به يې چه پناه غواړم دهغې طمعې نه چه سړي شرمولواوعيب ته نژدې كوي

اوطالب العلم ته پكاردي چه دالله ﷻ نه غيربل چانه اميدونه ساتي اونه دبل چانه وډارشي اوداپه هغه وخت كې معلوميږي چه كله دشرعي دحدودونه تجاوزوكړي اوياتجاوزونه كړي يعني كه چادمخلوق دډارنه دالله ﷻ نافرماني وكړه نوداد غيرالله نه وډارشولو اوكله يې چه دمخلوق دډاردوجې نه دالله ﷻ نافرماني ونكړه اودشرعي دحدودوساتنه يې وكړه نودغيرالله نه ونه ډارشوبلكه دالله نه وډارشواودااميدپه جانب كې همداسې ده

**تشريح:** **(ومن كان)** داپه مخكې دې قول باندې عطف دې فمن كان له مال كثير **(فلايبخل)** په جزم سره دنهې غائب صيغه ده خكه په زكوة وركولوكې بخل كول حرام دي اوپه نفلي صدقوكې بخل كول مذموم دي **(اى داء)** يعني كوم يومرض دبخل نه ډيرسخت دي **(وشفقته)** په فتحې دفاسره **(نال ابنه)** يعني ورسيدو **(ما نال)** موصول يې دتعظيم دوجې نه راوړلو يعني اوچتې مرتبې ته ورسيدو **(ويشترى)** دامنصوب دې اوپه يتعوذباندې عطف دې يعني مالداره طالب ته پكاردي چه په پخپل مال باندي كتابونه واخلي **(واستكتب)** يعني دبل چانه دمال په مقابل كې دليكلوطلب وكړي نودعلم داسبابواوالاتوپه اخستلوسره به ورته دعلم په حاصلولوكې اسانتياراشي **(فى العلم والفقه)** يعني ددې په حاصلولوكې مثلاً كتابونه اواستاذته مزدوري وركړي وغيره وغيره **(نفيس)** يعني خايسته اوشريفي جامې **(خلق)** په كسرې دخااوفتحې دلام سره صفت



مشبه دې اوزړوجاموته وايي **(فقال)** يعني محمد ﷺ **(عجل لكم)** يعني تاسوته په دنياكې مال دركړل شوي دي **(واحل لنا)** يعني مونږته مال روسته كړې شوي دي اوپه اخرت كې ذخيره دي **(ولعله)** دادمصنف كلام دې يعني زه گومان كوم **(انمالم يقبله)** كومه هديه يې چه ورليږلې وه **(لماراى ان فى ذالك مذلة لنفسه)** اودخان ذليله كول جائزندي اوددې دليل ته پدې قول سره اشاره كوي **(قال الى قوله يذل نفسه)** يعني چه خان دذلت په ځاى كې واقع كړي اوخان ذليله وگرزوي **(قشور)** جمعه دقشرده **(الملقاة)** دامنصوب دې اودقشورلپاره صفت دې **(فرأته)** يعني وينزې وليدلو **(فاتخذ)** يعني مولا ورته تياري وكړو **(له)** يعني فخرالاسلام ته **(لهذا)** يعني دنفس دذلت دوجې نه **(لايطمع)** يعني په حال كون دطالب العلم كې چه دخلكودمالونوطمعه به نه كوي اوطمعه دهرچالپاره بدصفت دې خصوصاً دطالبانولپاره ډيربددي **(اياك)** يعني خان وساته **(فقرحاضر)** اوداهغه فقرندى چه دهغې دراتللوتوقع كيږي خكه څوك چه سره دوجوددمال نه دزيادت طمعه كوي نوداسړي مدستي في الحال فقيردى **(بل ينفق)** دالله ﷻ درضالپاره **(وقال النبى ﷺ لايطمعوا)** خكه په هغه مال باندي قناعت كوي چه ته يې گټې يه كسب سره **(وفى الحكمة)** يعني په هغه خبروكې راغلي دي چه هغه په حكمت باندې دلالت كوي **(من استغنى)** يعني دمالدارى طلب كوي **(افتقر)** يعني فقيركيږي به **(طماعا)** يعني ډيرطمعه كونكې **(لايبقى له)** دادبقانه ماخوذدى **(حرمة العلم)** يعني دذلت دوجې نه **(ولايقول)** يعني فيصله نه كوي **(ولهذا)** يعني ددې وجې نه چه طمعه دې شيانوته متعدي كيږي **(ليدنى)** يعني چه نژدې كيږي **(الى طبع)** په تحريك سره شرم اوعيب ته وايي **(ويظهرذالك)** يعني دالله ﷻ نه غيردبل چانه ډاراوطمعه نه كول **(عدمها)** يعني عدم تجاوزاوداكلام مجمل دې اوپدې قول سره يې تفسيركوي **(فمن عصى اه)** يعني من غيرالله تعالى من ورنه حذف شوي دي لكه څنگه



Scanned with CamScanner

چه بدی قول دالله ﷻ کی حذف شوی دی **واختار موسی سبعون رجلا** یعنی **من قومه** (**وراقب**) یعنی دشرعی دحدودوساتنه کوی اودشرعی دحدودونه مراداوامراونواهی دی (**فلم یخف**) داداذالپاره جواب دی (**وکذافی جانب الرجاء**) یعنی چه څوک دمخلوق نه دامیدوجی نه دالله ﷻ نافرمانی وکړی نوده دغیرالله نه امیدوساتلواوکچرنه یی دمخلوق دامیدوجی نه دالله نافرمانی ونکړه بلکه دالله ﷻ طاعت یی وکړونوداسړی دالله ﷻ نه امید کونکی دی

**وینبغی لطالب العلم ان یعدویقدرلنفسه تقدیرافی التکرارفانه لایستقرقلبه** حتی یبلغ ذالک المبلغ وینبغی ان یتکررسبق الامس خمس مرات وسبق الیوم الذی قبل الامس اربع مرات والسبق الذی قبله ثلاثاوالذی قبله اثنین والذی قبله واحدفهذا ادعی الی الحفظ وینبغی ان لایعتادالمخافتة فی التکرارلان الدرس والتکرارینبغی ان یکونابقوة ونشاة ولایجهرجهرایجهدنفسه کیلاینقطع عن التکرارفخیرالامور اوسطها

حکی ان ابایوسف رحمه الله کان یذکرالفقه مع الفقهاء بقوة ونشاة وکان صهره عنده یتعجب من امره ویقول اناأعلم انه جائع منذخمسة ایام ومع ذالک یناظربقوة ونشاط وینبغی ان لایکون لطالب العلم فترة فانهاآفة وکان استاذناالشیخ الاسلام برهان الدین یقول انمافقت شرکاءی بأنی لم تقع لی الفترة فی التحصیل

وکان یحکی عن شیخ الاسلام الاسبیجانی انه وقع له فی زمان تحصیله وتعلمه فترة اثنتی عشرة سنة بأنقلاب الملک فخرج مع شریکه فی المناظرة الی حیث یمکنهاالاستمرارفی طلب العلم وظلایدرسانه معااثنتی عشرة سنة فصارشریکه شیخ الاسلام للشأفعین وکان هوشأفعیاوکان استاذناالشیخ القاضی الامام فخرالاسلام قاضیخان یقول ینبغی للمتفقه ان یحفظ کتاباواحدامن کتب الفقه دائمالتیسرله بعدذالک حفظ مایسمع من الفقه

**ترجمه** اوطالب العم ته پکاردی چه دتکرارلپاره یوه اندازه مقررکړی څکه سبق دده په زړه اوذهن کی ترهغه نه کېنی ترڅویی چه تعدادهمدی معلومی اندازی ته نه وی رسولی اوطالب العلم ته پکاردی چه دتیری ورځی سبق پنځه څله تکرارکړی اودپرون ورځی نه دمخکی ورځ سبق څلورځل تکرارکړی اودهغی نه دمخکی ورځ



سبق دری ځل تکرارکړی اودهغی نه مخکی ورځ سبق دوه ځل تکرارکړی اودهغی نه مخکی سبقونه هره ورځ یوځل تکرارکړی څکه داطریقه یادولوته ډیره نژدی ده

اوطالب العلم ته پکاردی چه ځان په کراره تکرارکولوباندی عادت کړی څکه پکارداده چه درس په قوة اوخوشحالی سره وی اوتکرار په داسی چهراوازسره نه کوی چه خپل ځان په تکلیف کی واچوی څکه چه دتکرارکولونه ونه غورځیږی نودرمیانه روی په ټولوکارونوکی غوره ده یعنی تکراردی نه ډیرپه کراره کوی اونه دی ډیرپه تیزه کوی بلکه درمیانه حال کی دی کوی

یوه واقعه رانقل شوی ده چه امام ابویوسف رحمه الله دفقهاؤسره دفقه مذاکره په خوشحالی سره کوله نوسخریی دده په باره کی ډیرتعجب وکړواوویی ویل ماته پته ده چه دادپنځوورځونه راپدیخوا وږی دی اوددی سره سره په قوت اوخوشحالی مناظره کوی اوطالب العلم ته پکاردی چه دعلم په حاصلولوکی جداوالی رانه ولی څکه دادعلم لپاره آفت دی اوزموږاستاذشیخ الاسلام برهان الدین به هروخت ویل چه زه په خپلوملګروباندی څکه غالبه شوی یم چه ماد علم په حاصلولوکی جداوالی ندی راوستی فترت اوجداوالی دیته وایی چه یوه زمانه سبق پریږدی اوبیایی شروع کړی دشیخ الاسلام اسبیجانی رحمه الله په باره کی یوه واقعه رانقل شوی ده چه ده ته دعلم حاصلولوپه زمانه کی دبادشاهی دانقلاب دوجی نه دولس کاله وروستووالی راغلو یعنی دولس کاله ورنه علم پاتی شواوده یوملګری سره به دمناظری لپاره وتلواوددوی دواړومناظره نه پریخودده اوهره ورځ به دمناظری لپاره کیناستل اودولس کاله یی داکیناستل پری نه خودل نودده ملګری دشوافعولپاره شیخ الاسلام جوړشوځکه دده ملګری شافعی شو

اوزموږاستاذشیخ الاسلام قاضیخان به ویلی څوک چه دعلم حاصلول غواړی نوهغه ته پکاردی چه دفقهی دکتابونونه یوکتاب


Scanned with CamScanner

یاده حفظ کړی نوددینه روسته به ورته دهغی فقه یادول اسانه وی چه دایی اوری

**تشریح:** ﴿ان یعد﴾ دا دعدد نه ماخوذ دی ﴿فی التکرار﴾ یعنی دسبق اودرس په تکرارکی مطلب داچه یوه اندازه اویوعدد به مقررکوی ترڅو پوری په همغی اندازه باندی درس اوسبق تکرارکړی ﴿لایستقر﴾ یعنی دده په ذهن کی دسبق نقشه اوصورت نه کینی ﴿ذالک المبلغ﴾ یعنی هغه اندازی ته چه ده دتکرارلپاره مقررکړی ده ﴿فهذا﴾ پدی ترتیب سره دتکرارشمارل ﴿ادعی﴾ یعنی ډیرزرحفظ ته رسیږی ﴿لمخافة﴾ دا دخفانه مشتق دی اودخوف نه مشتق ندی ﴿فی التکرار﴾ یعنی ددرس په تکرارکی ﴿ونشاط﴾ یعنی په خوشحالی سره اوپه کرارتکرارکول دقوت اونشاط سره منافی دی ﴿ولایجهد نفسه﴾ یعنی ځان به په تکلیف کی نه اچوی ﴿کیلاینقطع﴾ یعنی نفس ﴿اوسطها﴾ یعنی چه دجهراواخفاپه مابین کی وی ﴿بقوة ونشاط﴾ لکه څنګه دطالب العلم سره مناسب دی ﴿صهره﴾ یعنی سخر ﴿فی امره﴾ یعنی دابویوسف رحمه الله په باره کی ﴿ومع ذالک﴾ یعنی دومره وخت لوړی سره سره ﴿فترة﴾ یعنی دعلم په زمانه کی کتوالی اوجدایی ﴿آفة﴾ چه دعلم حاصلول منعه کوی ﴿فی التحصیل﴾ یعنی دتحصیل په زمانه کی ﴿بانقلاب الملک﴾ یعنی ددی وجی نه چه یوبادشاه لری کیدواوبل یی په ځای کیناستلو ﴿فی المناظرة﴾ یعنی په محل دمناظره کی ﴿للشافعین﴾ یعنی دهغوی مفتی اومقتدا جوړشو ﴿وهو﴾ یعنی دده ملګری ﴿للمتفقه﴾ یعنی څوک چه دفقه حاصلول غواړی ﴿بعدذالک﴾ یعنی پس دیادولودیوکتاب دفقه نه

## فصل في التوکل

ثم لابد لطالب العلم من التوکل فی طلب العلم ولا یهتم لامر الرزق ولا یشتغل قلبه بذالك روی ابوحنیفة رحمه الله عن عبدالله بن حسن الزبیدی رضی الله عنه صاحب رسول الله صلی الله علیه وسلم من تفقه فی دین الله کفاه الله همه ورزقه من حیث لایحتسب فأن من اشتغل قلبه بأمر الرزق من القوت والکسوة قلمایتفرغ لتحصیل مکارم الاخلاق ومعانی الامور



## قیل

* دع المکارم لاترحل لبغیتها واقعد فانك انت الطاعم الکاسی *

قال رجل لمنصور الحلاج اوصنی، قال هی نفسك ان لم تشغلها شغلتك فینبغی لکل احدان یشتغل نفسه باعمال الخیرحتی لاتشغل بهواها ولایهتم العاقل لامر الدنیا لان الهم والحزن لایرد المصیبة ولاینفع بل یضر بالقلب والعقل والبدن ویخل باعمال الخیرویهتم لامر الاخرة لانه انفع واماقوله علیه السلام ان من الذنوب ذنوبا لایکفرها الا المعیشة فالمراد منه قدرهم لایخل باعمال الخیرولایشتغل القلب شغلا یخل باحضار القلب فی الصلوة فان ذالك القدرمن الهم والقصد من اعمال الاخرة

**ترجمه:** فصل دی په بیان دتوکل کی بیاطالب العلم ته پکاردی چه دعلم په طلب کی په الله تعالی باندی توکل وکړی اودرزق په کارکی غم ونکړی اونه خپل زړه درزق په غمونوکی مشغوله کړی امام ابوحنیفة رحمه الله درسول الله دملګری عبدالله بن حسن زبیدی رضی الله عنه نه روایت نقل کوی چه څوک دالله تعالی په دین کی پوهه حاصلول غواړی نوالله تعالی به دده مقصدپوره کوی اوداسی طرف نه به رزق ورکوی چه دده ګومان به هم نوی ځکه دچازړه چه درزق په کارونوکی مصروفه وی چه هغه ډوډی اولباسونه دی نودخایسته اخلاقوحاصلولوته اوداوچتوکارونوحاصلولوته ډیرکم اوزګاریږی

یعنی دعلم حاصلولوته نه اوزګاریږی یوشاعروایی چه بنه اخلاق پریږده اودی په طلب کی سفرمه کوه: اوپخپل ځای باندی کینه ځکه ته دطعامونواودجاموخاوندیی: یوسړی منصورالحلاج ته وویل ماته وصیت وکړه منصورالحلاج ورته وویل وصیت ستاخپل نفس دی هغه داکه ته خپل نفس په ښه کارونوکی مشغوله نه کړی نونفس به تاپه بدوکارونوکی مشغوله کړی نوهرکس ته پکاردی چه خپل نفس دخیرپه کارونوکی مشغوله کړی ترڅو یی نفس په خواهشاتوکی مشغوله نکړی: اوعاقل سړی ددنیادخواهشاتوغم نه کوی ځکه غم اوخفګان مصیبت نه واپس کوی اونه څه فائده انسان ته ورکوی بلکه زړه اوعقل اوبدن ته

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

ضرررسوی اوپه نیکوکارونوکی خلل واقع کوی اوداخرت په ٩ کارونوکی غم کول پکاردی ځکه داخرت غم کول انسان ته فائده رسوی

اوداقول درسول الله ﷺ چه په ګناهونوکی بعضی داسی دی چه دهغی لپاره کفارد نشته دی مګردهغی کفاره په ژوندکی غم کول دی نوددینه مراددومره غم دی چه په هغی سره په نیکوکارونوکی خلل واقع نشی اوزړه دومره مشغوله نکړی چه په لمانځه کی دزړه په حضورکی خلل واقع کړی ځکه دومره اندازه غم اوقصدکول داخرت داعمالونه دی

**تشریح**:(**فی التوکل**)یعنی الله ﷻ ته کارسپارل(**ولایهتم**)یعنی غم به نه کوی (**ولایشتغل**)داداشغال نه ماخوذدی (**بذالک**)یعنی درزق په حاصلولوباندی(**الزبیدی**)دازبیدته منسوب دی چه دادیوی قبیلی نوم دی (**صاحب رسول الله ﷺ**)یعنی درسول الله ﷺ دملګرونه دی (**من تفقه**)داجمله تراخره پوری دروی لپاره مفعول دی (**فی دین الله تعالی**)یعنی څوک چه په دین کی دشرعی په احکاموباندی عالم شو(**همه**)یعنی دده مقصود(**ورزقه من حیث لایحتسب**)یعنی دهغه خای نه به رزق ورکوی چه دده ورته ګومان هم نه کیږی (**قلبه**)دامرفوع دی اوشغل لپاره فاعل دی (**فلمایتفرغ**)یعنی باالکل نه فارغیږی داکیدیشی چه قلت دعدم نه عبارت وی (**ومعالی الامور**)یعنی شریفه اوغوره کارونه(**دع المکارم**)یعنی پریږده(**لاترحل لبغیتها**)یعنی دهغی دطلب لپاره سفرمه کوه(**واقعد**)یعنی دمکارنوددعوی نه(**فانک انت**)یعنی ته دطعام اودجاموخاوندیی اوداحکاموپه حاصلولوکی مشغول یی نوزه به درته مکارم حاصلول اسانه کړم (**فقال**)یعنی منصور(**هی**)یعنی وصیت اوداهم کیدی شی چه هی دهغی نه دامرصیغه وی په معنی اصلاح سره (**نفسک**) دادمبتدالپاره خبردی ای ماوصی الیک نفسک (**ان لم تشغلها**)اودمکارموپه طلب کی یی استعمال نکړی (**شغلتک**)یعنی نفس به دی په خپلوخواهشاتوکی



استعمال کړی (**نفسه**)دادیشتغل لپاره مفعول دی ددی وجی نه منصوب دی (**لاتشغل**)ځکه دنیکوکارونوکول نفس دخواهشاتونه منعه کوی ځکه دادواړه متضاددی کله چه یوموجودوی نوبل به ممتنع وی (**ولاینفع**)بلکه هغه ځه به واقع کیږی چه الله ﷻ مقررکړی وی (**ویخل**)ځکه چه زړه فارغه نه وی (**لانه**)یعنی داخرت امر(**ینفع**)په اخرت کی (**واماقوله علیه السلام**)دادیومقدرسوال جواب دی سوال داسی دی چه تاوویل چه عاقل سړی ددنیادکارونوغم نه کوی نوځنګه رسول الله ﷺ فرمایی چه (**ان من الذنوب الی قوله الاهم المعیشة**)یعنی هغه غم چه دعیال دزندګی دوجی نه وی (**فان ذالک القدر**)یعنی دالږاندازه غم(**من اعمال الاخرة**)دادان لپاره خبردی اوداغم ځکه داخرت داعملونه دی چه داخرت اعمال دی غم پوری موقوف دی ځکه اعمال بغیردژوندنه نه کیږی

**ولابدلطالب العلم من تقلیل العلائق الدنیویة بقدرالوسع ولهذا اختاروالغربة،ولابدلطالب العلم من تحمل المشقة والنصب فی سفرالتعلم کماقال موسی علیه السلام فی سفرالتعلم ولم ینقل عنه ذالك فی غیره من الاسفار لقدلقینامن سفرناهذانصبا لیعلم ان سفرالعلم لایخلواعن التعب والنصب لان طلب العلم امرعظیم وهوافضل من الغزوات عنداکثرالعلماءوالاجرعلی قدرالتعب والنصب فمن صبرعلی ذالك وجدلذة العلم تفوق سائرلذات الدنیاولهذاکان محمدابن حسن اذاسهراللیالی انحل له المشکلات یقول این ابناءالملوك من هذه اللذات**

**وینبغی لطالب العلم ان لایشتغل بشئ اخرغیرالعلم ولایعرض عن الفقه قال محمد رحمه الله ان صناعتناهذه من المهدالی اللحدفمن ارادان یترك علمناهذاساعة فالیترکه الساعة ودخل فقیه وهوابراهیم بن جراح علی ابی یوسف رحمه الله یعوده فی مرض موته وهویجودبنفسه فقال ابویوسف رحمه الله رمی الجمارراکباافضل امراجلافلم یعرف الجواب فاجاب بنفسه وهوان الرمی ماشیااحب فی الاولین**

**وهکذاینبغی للفقیه ان یشتغل به فی جمیع اوقاته فحینئذ یجدلذة عظیمة وقیل روی محمدفی المنام بعدوفاته فقیل له کیف کنت فی حال النزع فقال کنت متاملافی**

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

مسئلة من مسائل المكاتب فلم اشعر بخروج روحي، وقيل انه قال في اخر عمره شغلني مسائل المكاتب عن الاستعداد لهذا اليوم وانما قال ذالك تواضعا

**ترجمه:** اوطالب العلم ته پكاردي چه دخپل طاقت په اندازه باندي دنياوي علاقي كمي كړي دهمدي وجي نه علماء كرام غربت خوښوي اوطالب ته لازم دي چه دعلم په سفركي تكليفونه اوستړياوي برداشت كړي لكه موسى عليه السلام دعلم دسفرپه باره كي فرمايي چه مونږپدي خپل سفركي دستړياسره مخ شواوداخبره ورنه دعلم دسفرنه غيرپه نوروسفرونونده رانقل شوي اوداځكه چه دعلم سفردستړيااوتكليفونونه خالي نه وي ځكه دعلم طلب كول يولوي كاردي نوسفربيي هم لوي دي

اوداكثروعلماؤپه نزدباندي دعلم لپاره سفركول دغزادسفرنه بهتره دي اوثواب دستړيااوتكليف په اندازه باندي وي نوځوك چه په ستړياګانواوتكليفونوباندي صبروكړي نودعلم خوندبه ددنيادټولوخوندونونه ورته اوچت ښكاره شي ددي وجي نه چه كله محمدبن حسن شيبي شپګير كړي نومشكلات به بيي حل شوه بيابه يي وويل چه دبادشاهانوځامن ددي خوندونونه څه خبردي

اوطالب العلم ته پكاردي چه دعلم نه غيرپه بل شي باندي ځان مصروفه نكړي اودعلم فقه نه مخ وانړوي امام محمد رحمه الله فرمايي چه دزانګونه ترلحده پوري زمونږكارعلم فقه ده ځوك چه غواړي چه زمونږداعلم پريږدي نوپه همغه وخت كي دي پريږدي اويادا خيري دي يعني په همغه وخت كي دي ورنه پاتي شي

اويوفقيه امام ابويوسف رحمه الله ته ورغلوچه په مرض موت كي يي داامام ابويوسف تپوس كولواوابويوسف رحمه الله پداسي حال كي وچه نوريي روح وتلوته نژدي ؤنوابويوسف رحمه الله فقيه ته وايي چه دشيطانانوويشتل پيده غوره دي اوكه دسوارلي په حالت كي غوره دي فقيه ته جواب نه ؤمعلوم نوابويوسف پخپله جواب وركړوهغه داچه په اولودوه عقبوكي پيده ويشتل غوره دي اواخره عقبه



دسوارلي په حالت كي ويشتل غوره دي نوهمدغه شان فقيه ته پكاردي چه هروخت په علم فقه كي مشغول وي نوبيابه ډيرخوندمحسوسوي

اوچاويلي دي چه امام محمددوفات نه روسته چاپه خوب كي وليدلواوتپوس يي ورنه وكړوچه دزنكدن په وخت كي په كوم حالت كي وي ؟امام محمدورته وويل چه مادمكاتب دمسائلونه په يوه مسئله كي سوچ كولونودروح په وتلوپوه نشوم اوچاويلي دي چه امام محمد رحمه الله په اخروخت كي وويل چه زه داخرت دورځي دتياري نه دمكاتب مسئلووويستم اوداييي دعاجزي دوجي نه وويل

**تشريح:** (بقدرالوسع) يعني دطاقت د اندازه (ولهذا) يعني دعلاقوددكمولودوجي نه (اختارو) يعني علماؤ (الغربة) ځكه دغريب سړي علاقي كمي وي اودخلكونه جداوي (والتعب) دادمشقت لپاره عطف تفسيردي (في سفرالتعلم) يعني هغه سفرچه دتعليم لپاره وي (في غيره) يعني دتعليم دسفرنه غير (لقدلقينا) داداقال لپاره مقوله ده (ليعلم) داقال پوري متعلق دي (امرعظيم) نوسفربيي هم عظيم دي (والاجرعلى قدرالتعب) نوپه كوم سفركي چه ستړيااوتكليف زيات وي نودهغي ثوابونه هم زيات وي (على ذالك) يعني په تكليفونوباندي (تفوق) يعني اوچت دي (الليالي) دامنصوب دي اودسهرلپاره مفعول دي يعني كله چه به ويښ پاتي شواودشپي به يي خوب ونكړو (انحل له المشكلات) داداذالپاره جواب دي (اين تقول) يعني دبادشاهانوځامن ددي خوندونونه لري دي ځكه داعلمي خوندونه دي اوجاهلان وړباندي نه پوهيږي اګركه دبادشاه ځامن هم وي (علمنا هذا) يعني علم فقه اوځان ته يي اضافت دډيراشتغال دوجي نه كړي ګوياچه همده پوري خاص دي (ساعة فليتركه ساعة) يعني په همغه وخت كي دي پريږدي اودايي ورته خيري كړي دي (يعوده) يعني په حال كون دده كي چه تپوس يي كولو (يجود) دجادنه مشتق دي (بنفسه) يعني حال داچه دداامام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ابویوسف رحمۃ اللہ علیہ روح قبض ته نژدی ؤ **(رمی الجمار)** دامبتداده اوحرف استفهام ورنه حذف شوی دی وقرینه ورباندی ام دی چه روسته واقع شوی دی یعنی دشیطانانوویشتل پخپلوخایونوکی دحج په ورځوکی **(راکبا)** یعنی دسوارلی په حالت کی **(افضل ام راجلا)** یعنی پیده **(فلم یعرف)** یعنی ابراهیم الجراح ته جواب معلوم نه ؤ **(فاجاب الی قوله فی الاولین)** یعنی هغه عقبه چه مسجدخیف ته نژدی ده اوبیاوریسی دوهمه عقبه اودریمه عقبه دسوارلی په حالت کی ویشتل غوره دی **(به)** یعنی دفقهی په علم سره **(فی ذالک)** یعنی په علم فقه کی دمشغولیدونه **(کنت)** په مخاطبی صیغی سره **(فی حال النزع)** یعنی دروح دونلوپه وخت کی **(فلم اشعر)** شعورکمترعلم ته وایی یعنی بالکل نه یم پوه شوی **(بخروج روحی)** دوجی دډیرمصروفیت زمانه په فقه کی **(وقیل انه)** یعنی امام محمد رحمۃ اللہ علیہ **(شغلنی)** یعنی زه یی منعه کړم **(مسائل المکاتب)** یعنی په هغی کی دمصروفیت دوجی نه **(عن الاستعداد لهذاالیوم)** یعنی دمرګ ورځی ته دتیاری کولونه **(تواضعا)** یعنی دوجی داظهاردپوره احتیاج نه دالله تعالیٰ فضل اوکرم ته ځکه که چرته داسی نه وی نودده نه به بل چاتیاری کړی وی ځکه دادامت امام دی اولوی شخصیت دی

## فصل فی وقت التحصیل

**قیل وقت التعلم من المهدالی اللحد؛دخل حسن بن زیادفی التفقه وهوابن ثمانین سنة ولم یبسط علی الفراش اربعین سنة فافتی بعدذالك اربعین سنة وافضل الاوقات شرخ الشباب ووقت السحروبین العشائین وینبغی ان یستغرق جمیع اوقاته فاذامل عن علم یشتغل بعلم اخروکان ابن عباس رضی اللہ عنہ اذامل عن الکلام یقول هاتوادیوان الشعراء**

**وکان محمدبن الحسن لاینام اللیل وکان یضع عنده دفاتروکان اذامل من نوع ینظرفی نوع اخروکان یضع عنده الماء ویزیل نومه باالماء وکان یقول النوم من الحرارة فلابدمن دفعه باالماء البارد**



**ترجمه** فصل دی په بیان دوخت دحاصلولودعلم کی علماؤویلی دی چه دزانګونه ترلحده پوری دعلم دحاصلولووخت دی یعنی دماشومتوب نه ترپوړاتوب پوری انسان بایدعلم حاصل کړی حسن بن زیاددانیاکلوپه عمرکی ؤچه دفقهی په حاصلولوکی داخل شواوڅلویښت کاله بی په بستره باندی خوب ونکړواوددی نه روسته یی څلویښت کاله فتواوزکړه اوپه وختونوکی بهتره وخت دځوانی اول وختونه دی همدارنګه دسحروخت دی اودماسخوتن اوماښام په مابین کی وخت دی

اوطالب العلم ته پکاردی چه خپل ټول وختونه دعلم په حاصلولوکی راګیرکړی کله چه دیوعلم نه ستړی شی نوبایدپه بل علم کی شروع وکړی ابن عباس به چه کله دعلم کلام نه ستړی شونوبیابه یی ویلی چه ماته دشاعرانوکتاب راوړی اوامام محمد رحمۃ اللہ علیہ به دشپی نه اوده کیدواودده سره به ډیرکتابونه پراته وه کله به چه دیوعلم نه ستړی شونوبیابه یی بل قسم کتلواوپه څنګ کی به ورسره اوبه وی چه خوب به ورغلونواوبوسره به یی تختوواوهمیشه به یی ویل چه خوب دګرمایش دوجی نه راځی نوپه یخواوبوباندی یی دفعه کول ضروردی

**تشریح (فصل فی وقت التحصیل)** یعنی په بیان دحاصلولود علم کی **(من المهد)** یعنی دماشومتوب نه ترمرګه پوری لکه پیغمبرعلیه السلام فرمایی **اطلبواالعلم من المهدالی اللحد** **(دخل حسن بن زیاد)** داداامام صیب شاګردؤ **(فی التفقه)** یعنی دعلم فقه په حاصلولوکی **(وهوابن ثمانین سنة)** یعنی عمریی اتیاکالوته رسیدلی ؤ **(ولم یبت)** یعنی ندی اوده شوی **(علی الفراش فافتی)** نوعمریی یوسل اوشپیږکالوته ورسیدونوددی نه معلومه شوه چه دعلم طلب لازم دی اګرکه عمریی اتیاکالوته رسیدلی وی **(وافضل الاوقات)** یعنی دعلم دحاصلولووختونه **(شرخ الشباب)** یعنی اول دځوانی **(العشائین)** یعنی دماښام اوماسخوتن **(یستغرق)** یعنی طالب العلم **(مل)** یعنی چه کله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

ستړی شی اوسست شی ﴿آخر﴾خکه دهرعلم لپاره جداجداخوندونه دی﴿هاتوا﴾يعنی راوړی﴿فی نوع آخر﴾چه ستړيايی لری شی

## فصل فی الشفقة والنصيحة

وينبغی ان يکون صاحب العلم مشفقاناصحاغيرحاسدفالحسد يضرولاينفعوکان استاذناشيخ الاسلام برهان الدين رحمه الله يقول قالوان ابن المعلم يکون عالمالان المعلم يريدان يکون تلاميذه فی القران علماء فببرکة اعتقاده وشفقته يکون ابنه عالماوکان يحکی ان صدرالاجل برهان الائمة جعل وقت السبق لابنيه الصدرالشهيدحسام الدين والصدرالسعيدتاج الدين وقت الضحوة الکبری بعدجميع الاسباق فکانايقولان طبيعتناتکل وتمل فی ذالك الوقت فقال ابوهماان الغرباءواولاده الکبراءياتوننی من اقطارالارض فلابدان اقدم اسباقهم فببرکة شفقته فاق ابناه علی اکثالفقهاءاهل الارض فی ذالك العصرفی الفقه

وينبغی ان لاينازع احداولايخاصمه لانه يضيع اوقاته ؛قيل المحسن سيجزی باحسانه والمسئ سيکفيه مساويه انشدنی الشيخ الامام الاجل الزاهدالعارف رکن الدين محمدبن ابی بکرالمعروف بامام خواهرزاده رحمه الله قال انشدنی سلطان الشريعة يوسف الهمدانی هذاالشعر

| | |
|---|---|
| ※دع المرءلاتجزه علی سوءفعله | سيکفيه مافيه وماهوفاعله※ |
| قيل من ارادان يرغم انف عدوه | فاليکررهذالشعروانشدت |
| ※اذاشئت ان تلقی عدوك راغما | وتقتله غماوتحرقه هما※ |
| ※فرمی للعلی وازدادمن العلمانه | من ازدادعلمازادحاسده غما※ |

**ترجمه:** فصل دی په بيان دشفقت اونصحيت کی پکارده چه دعلم خاوندشفقت اورحم والاوی همدارنګه خيرخواه اوناصح وی اوحسدکونکی نه وی ځکه حسدانسان ته ضرررسوی اوفايده نه رسوی زمونږاستاذشيخ الاسلام برهان الدين به ويل علماء وايی چه اکثره داستاذخوی عالم وی ځکه استاذغواړی چه دده شاګردان دقرانکريم عالمان شی نودده دعقيدی اودشفقت دبرکت دوجی نه دده ځوی عالم شی؛



په يوه واقعه کی راځی چه صدرالاجل برهان الائمة به خپلودوه ځامنوته چه يوصدرالشهيدحسام الدين دی اوبل صدرالسعيدتاج الدين دی دټولوسبقونونه روسته دغرمی په وخت کی سبقونه ويل نودوی دواړوپلارته وويل چه پدی وخت کی زمونږطبيعت ډيرزروند اوستړی وی نوپلاريی ورته وويل چه ماته دلری ځای نه دغريبانواوغټوخلکوځامن راځی نوځامخابه زه هغوی ته مخکی وايم نودده دشفقت دوجی نه دده دواړه ځامن پخپل وخت کی په اکثره فقهاؤباندی په فقه کی غالب وګرځيدل

اوطالب العلم ته پکاردی چه دهيچاسره جنګ اوجګړه ونکړی ځکه دادطالب اوقات ضائع کوی ؛بومتل شوی دی چه نيک کاره سړی ته به دخپل نيک کړيدله ملاوشی ؛اوبدکاره سړی لپاره دهغه بدکارونه کافی دی

ماته شيخ الامام محمدابن ابی بکرچه په امام خواهرزاده مشهوروؤيوشعرلوستلواوده ويل چه داشعرماته سلطان الشريعة يوسف همدانی ويلوچه مفهوم يی داسی دی ؛سړی پريږده اوپه بدوکاروباندی جزامه ورکوه ؛کوم قبائح چه په ده کی موجوددی اودکوموقبائحوچه داکونکی دی نودهغه ده لپاره کافی دی ؛

اوچاويلی دی که څوک وغواړی چه خپل دشمن حقيراوسپک کړی نوداشعردی بارباروواييه چه مفهوم يی داسی دی ؛که ته غواړی چه ددشمنانوسره پداسی حال کی مخ شی چه ته هغوی ذليله کوی ؛اودغم دوجی نه يی وژنی اودخفګان دوجی نه يی سوزوی ؛نو دلويومرتبوطلب وکړه اوپه علم کی زيادت وکړه ؛ځکه دچاچه علم زيات شی نوپه کينه کونکوباندی يی غم زياتيږی

**تشريح** ﴿**مشفقا**﴾يعنی دشفقت اورحم والا﴿**ناصحا**﴾يعنی خيرغوښتونکی﴿**غيرحاسد**﴾يعنی دبل چانه دنعمت دلری کولواراده کونکی به نه وی ﴿**قالوا**﴾يعنی علماؤاودقالواجمله سره دقول نه ديقول لپاره مقوله ده﴿**فی القران**﴾داعلماءپوری متعلق دی

**(وشفقته)** يعنى خپلوشاګردانونه **(يحكى)** په مجهول صيغى سره **(وقت السبق)** يعنى دسبق يادولويه وخت كى **(لابنه صدرالشهيد)** دادابنه نه بدل دى **(حسام الدين)** دادصدرالشهيداو صدرالسعيدلپاره عطف بيان دى **(وقت الضحوة الكبرى)** دادجعل لپاره دوهم مفعول دى **(بعدجميع الاسباق)** اسباق جمعه دسبق ده يعنى دټولوشاګردانودسبقونونه روسته اوداوقت الضحوة نه بدل دى **(فكانا)** يعنى دواړه خامن **(تكل)** په كسرى دكاف سره اوپه تشديددلام سره دكلال نه ماخوذدى **(وتمل)** يعنى ستړى كيږى **(من اقطارالارض)** اقطارجمعه دقطرده اوطرق ته وايى اودلته ورنه مراداطراف دى **(فاق ابناه)** يعنى خامن يى عالمان وګرزيدل اوغالبه شول **(اهل الارض)** چه هغه موجودوه **(فى ذالك العصرفى الفقه)** دا فاق پورى متعلق دى **(لانه)** يعنى جنګ اوجګړه **(يضيع)** دتضييع نه مشتق دى **(اوقاته)** ځكه په بى فايدوكارونوكى مصرفيږى **(سيجزى)** په مجهوله صيغى سره **(باحسانه)** يعنى په دنياكى به داحسان په مقابله كى بدله وركول كيږى **(والمسئ سيكفيه مساويه)** يعنى كوم قبيح كارونه چه كوى نوهمغه ورته كافى دى ځكه داچه كله په قبيح كارونوسره بل چاته دضرررسولو اراده كوى نودهغى سزااووبال همده ته واپس كيږى لكه ډيرخبرونه ددى په باره كى واردشوى دى **(انشدنى)** يعنى ماته يى ولوستلو **(دع المرء)** يعنى پريږده **(لاتجزه)** دادجزانه مشتق دى يعنى جزامه وركوه **(على سوء فعله)** داجمله مستانفه ده ګوياچه يوسائل ووېل چه څنګه سړى پريږدوانوجواب يى وكړوچه په بدوكارونوباندى جزامه وركوه **(سيكفيه مافيه)** دقبانحونه **(وماهوفاعله)** يعنى دقبيح كاركول ورته كافى دى چه دهغى وبال ورباندى واپس كيږى **(قيل من ارادان يرغم)** داكنايه ده ددښمن دكمزورى اوذليله كولونه **(وانشدت)** په صيغى دمجهول سره **(راغما)** يعنى په حال كون ستاكى چه ته هغه ذليله كوى **(وتقتله غما)** يعنى دغم دوجى نه **(وتحرقه)** دااحراق نه



ماخوددى **(هما)** يعنى دخفګان نه **(فرم)** صيغه دامرحاضرده داوم اودطلب نه يعنى طلب كړه **(للعلى)** يعنى په علم كى اوداجمله داذالپاره جواب دى **(وازدادمن العلم انه)** اى لانه اوضميريكى ضميرشان دى **(من ازدادعلما)** داتميزدى يعنى دعلم دجهت نه

قيل عليك ان تشتغل بمصالح نفسك لابقهرعدوك فاذا اقمت مصالح نفسك تضمن ذالك قهرعدوك واياك والمعادات فانها تفضحك وتضيع اوقاتك وعليك بالتحمل لاسيامن السفهاء قال عيسى بن مريم عليه السلام احتملوامن السفيه واحدة كى تربحواعشرا شعرا

* بلوت الناس قرنابعدقرن — فلم ارغيرختال وقال *

* ولم ارفى الخطوب اشدوقعا — واصعب من معادات الرجال *

* وذقت مرارة الاشياء طرا — وماذقت امرمن السؤال *

واياك وان تظن بالمؤمن سوء فانه منشأ العداوة ولايحل ذالك لقوله عليه السلام ظنوابالمؤمنين خيراوانماينشأ ذالك من خبث النية وسوء السريرة كماقال ابوالطيب شعرا

* اذاساءفعل المرءساءت ظنونه — وصدق مايعتاده من توهم *

* تنح عن القبيح ولاترده — ومن اوليته حسنافرده *

* ستكفى من عدوك كل كيد — اذاكادالعدوفلاتكده *

وانشدت للشيخ العميدابى الفتح البستى رحمة الله عليه

* ذوالعقل لايسلم من جاهل — يسومه ظلماواعناتا *

* فاليخترالسلم على حربه — وليلزم الانصات ان صاتا *

**ترجمه** ويل شوى دى چه په تاباندى خپل نفس اصلاح كول لازم دى اودشمن كمزورى كول دزباندى لازم ندى ځكه كله چه دى دنفس اصلاح حاصله كړه نودادشمن كمزورى كولوته متضمن دى اوددشمنى نه ځان وساته ځكه دشمنى كول تارسواكوى اوستاوخت ضائع كوى اوپه تاباندى دخلكوتكليفونه اوضررونه برداش كول لازم دى خصوصادبى وقوفه خلكوضررونه لكه عيسى بن مريم عليه السلام فرمايى چه دبى وقوفه خلكويوتكليف برداشت كړى نوپه

لسوتکليفونوبه کامياب شي اوبوشاعرپه شعرکي وايي چه مفهوم يي داسي دي

دهري پيري په خلکوباندي مي امتحان وکړو؛نودغداراوکينه کونکونه مي غيربل څوک پکي ونه ليدل ؛اوپه غټوکارونوکي مي دسړيوددشمني نه غيربل شي ډيرسخت اومؤثرونه ليدلو ؛اودټولو شيانودتريخوالي خوندمي وڅخلو؛خودسوال کولونه مي ډيرتريخ شي ندي څکلي؛

اوپه مسلمان باندي دبدګوماني نه ځان وساته ځکه دادشمني اصل اوبنياددي اوبدګوماني جائزنده ځکه رسول الله ﷺ فرمايي چه په مؤمنانوباندي دخيرګومان کوي اوبدګومان دبدنيت اودبدورازونونه پيداکيږي لکه ابوالطيب په يوشعرکي ويلي دي چه مفهوم يي داسي دي :کله چه دسړي کارونه بدشي ؛نوګومانونه يي هم بدکيږي ؛اوکوم سوچونه اووهمونه چه ورته ذهن کي راځي نود هغي تصديق کوي ؛اوددشمنانوپه خبروباندي دخپلودوستانوسره عداوت اودشمني کوي ؛اوپه دوستانوباندي يي شک دتوري شپې پشان سختيږي ؛اومابعضودوستانوته داشعرولوستلوچه مفهوم يي داسي دي

دقبيح شي نه لري شه اومه ورته واپس کيږه؛اوچاسره دچه نيکي کړي وي نونوره يي هم زياته کړه؛ستادشمن ته به هرچل اوکيدکافي شي؛اوکله چه دشمن کيداوهيله کوي نوته ورسره چل مه کوه ؛مادااشعرشيخ ابوالفتح ته ولوستلوچه مفهوم يي داسي دي:عاقل سړي دجاهل سړي دضررونونه په امن کي نه وي ؛په ظلم سره ورباندي داسي کارون په غاړه اچوي چه هغه ډيرسخت وي اوبياورنه نشي وتلي نوعاقل سړي دي دجاهل سره په جنګ کي صلحه اختيارکړي اوکه جاهل سړي چغي وهي اوحملي کوي نوعاقل سړي دي په ځان سکوت لازم کړي



**تشريح** **(عليک)**يعني لازم کړه**(اقمت)**يعني چه تاادا اوحاصل کړي وي **(تهرعدوک)**ځکه دشمن چه کله ستامصالح ويني اوستا دکارونونظم ويني نوډيرزيات غم اواضطراب ورباندي راځي نودادده مغلوبيت دي **(واياک)**يعني ځان وساته**(والمعادات)** يعني دبل چاسره دشمني کول **(فانها)**يعني دشمني کول**(تضيع اوقاتک)**ځکه نه چه کله په دشمني اودهغي په اسبابومشغوله شي نوعبادت درنه پاتي کيږي اوپه زړه کي دفرق راولي نودعلم په حصول نه قادريږي نوخت دي ضائع کيږي **(وعليک باالتحمل)** يعني دضررونواودظلم برداش کول **(احتملوا)**يعني دکم عقل نه يو ضرربرداشت کړي چه دلسوضررونونه خلاص شي**(بلوت)**يعني امتحان مي وکړو**(الناس قرنابعدقرن)**يعني يوه زمانه پس دبلي زماني نه **(فلم ار)**دادرويت نه دي**(غيرختال وقال)**يعني غداراو کينه ګر**(ولم ارفي الخطوب)**خطوب جمعه دخطب ده په فتحي دخااوسکون دطاسره اولوي کارته وايي يعني ماپه لويوکارونوکي ندي ليدلي **(اشدوقفا)**يعني داسي شي چه ډيرتاثيرکونکي وي **(اواصعب)**منصوب دي اوپه اشدباندي عطف دي **(من معادات الرجال)**يعني ديوبل سره دشمني**(وذقت)**دذوق نه صيغه دمتکلم ده **(طرأ)**يعني ټول**(وماذقت)**يعني هيڅ شي**(امرمن السوال)**يعني دسوال کولونه هيڅ شي هم تريخ نشته دي**(فانه)**يعني بدګومان کول **(منشاعداوة)**يعني داددشمني محل دي**(ولايحل)** يعني بدګوماني کول**(السريرة)**يعني پټ رازونه**(اذاسائت ذالک)**يعني کله چه دانسان کارونه بدشي نوبدګومانونه کوي **(الخ)**يعني کله چه دانسان کارونه بدشي نوبدګومانونه کوي **(وصدق ما)**يعني کوم نوبخپلوملګروباندي بنه ګومان کول پکاردي وهم يي چه ذهن ته راځي اوبايي په زړه کي ځه تيريږي نودهغي تصديق کوي **(وعادى محبيه)**يعني دوشمني په دوستانوباندي بنکاره کوي**(بقول عداته)** يعني ددوستانوپه حق کي ورته فاسدي خبري کوي **(واصبح)**يعني ددوستانوپه حق دتوري شپې پشان په


Scanned with CamScanner

..ک کی ګرزیږی **(ولا ترده)** یعنی باالکل یی پریږده **(ومن اولیته)** یعنی چه تا ورکړی وی **(حسنا)** یعنی یو ښه شی دی ورکړی وی مثلا انعام **(فزده)** یعنی کوم شی چه دی ورکړی وی **(ستکفی)** دمجهول مخاطب صیغه ده یعنی تاته به یی الله ﷻ کافی کړی **(من عدوک کل کید)** یعنی ټولی حیلی اوضررونه به یی همغه ته واپس کیږی **(اذاکاد)** دادکیدنه دی **(العدوفلاتکده)** یعنی ته ورسره چل مه کوه بلکه الله ﷻ ته یی سپاره اوهغه به بدله درکړی **(لایسلم)** یعنی عاقل سړی دجاهل سړی دضررونونه نه خلاصیږی خکه چه ددوی په مابین کی عداوت دی لکه فرمایی المرء عدولماجهل **(یسومه)** یعنی سخت کارورنه په غاړه کی اچوی **(ظلما)** دامفعول له دی یعنی دظلم دوجی نه **(واعناتا)** یعنی داسی کارورباندی اچوی چه هغه ورنه دتلوطاقت نه لری **(فلیختر السلم)** په کسری دسین سره صلحی ته وایی **(علی حربه)** یعنی عاقل سړی دی دجاهل سړی سره په جنګ کی صلحه اختیارکړی **(ولیلزم الانصات)** یعنی سکوت **(ان صاتا)** الف پکی داشباع لپاره دی یعنی که جاهل سړی چغی وهی نوعاقل سړی دی پخان سکوت لازم کړی اومقابله دی نه کوی ځکه داحمق سړی جواب سکوت دی

## فصل فی الاستفادة

وينبغی ان يكون طالب العلم مستفيدافی كل وقت حتی يحصل له الفضل وطريق الاستفادة ان يكون معه فی كل وقت محبرة حتی يكتب مايسمع من الفوائد فقد قيل من حفظ فرومن كتب شيئاقروقيل العلم مايؤخذمن افواه الرجال لانهم يحفظون احسن مايسمعون ويقولون احسن مايحفظون

وسمعت الشيخ الامام الاد . الاستاذزين الاسلام المعروف باالاديب المختاريقول قال هلال بن يساررأيت النبی ﷺ يقول لاصحابه شيئامن العلم والحكمة؛فقلت يارسول الله ﷺ اعدلی ماقلت لهم فقال لی هل معك محبرة؟ فقلت مامعی محبرةفقال ياهلال لاتفارق المحبرةفان الخيرفيهاوفی اهلهاالی يوم القيمة



ووصی الصدرالشهيدحسام الدين ابنه شمس الدين ان يحفظ كل يوم شيئايسيرامن العلم والحكمة فانه غريب يكون كثيراواشتری عصام بن يوسف قلمابدينارليكتب ماسمعه فی الحال فاالعمرقصيروالعلم كثيرفينبغی ان لايضيع الاوقات والساعات ويغتنم الليالی والخلوات

**ترجمه**:فصل دی په بیان په بیان دفائدی اخستلوکی .پکارده چه طالب العلم په هروخت کی دعلم نه فائده اخستونکی وی ترڅوده ته په علم کی کمال اوزیادت حاصل شی اوطریقه داستفادی داده چه بایده سره په هروخت کی دسیاهی بوتل یعنی درنګ بوتل موجودوی ترڅوهغه علمی فائدی ولیکی کومی چه داوایی اوعلماؤویلی دی چه چایوشی حفظ کړونودایی دحفظ نه تختی اوچاچه یوشی ولیکونوداخپل ځای باندی قرارپاتی کیږی اوچاویلی دی چه ښه اوکامل علم هغه دی چه دماهرانوخلکودخولی نه واخستل شی ځکه دوی چه څه واوری نوډیرښه یی حفظ کوی اوکوم شی یی چه حفظ کړی وی نوهغه نوروخلکوته ډیرښه وایی

ماداستاذشیخ زین الاسلام چه په ادیب المختارباندی مشهوروده نه می اوریدلی دی ده به ویل چه هلال بن یسار رضی الله عنه فرمایی چه مارسول الله ﷺ په داسی حال کی ولیدوچه خپلوملګروته یی دعلم اوحکمت څه خبری کولی نوماورته وویل چه ای دالله رسوله تاچه کومی خبری دوی ته وکړی نوداماته بیاواپس کړه نوماته رسول الله ﷺ وویل چه ایاتاسره دسیاهی لوښی شته ؟ ماورته وویل چه نه ماسره نشته دی نورسول الله ﷺ وویل چه ای هلاله دسیاهی لوښی دځان نه مه جداکوه ځکه ترقیامته پوری دسیاهی په لوښی کی اوددی په اهل کی خیردی

اوحسام الدین خپل ځوی شمس الدین ته داوصیت وکړوچه هره ورځ لږلږعلم اوحکمت زده کوه ځکه دالمری ... خولندوخت کی ورنه ډیرشی جوړیږی اوعصام بن یوسف رحمه ... په یودینارباندی ددی لپاره واخستلوچه سمدستی وزباله ...


Scanned with CamScanner

سی ولیکی کوم چه دا اوری نو عمر کم دی او علم زیات دی نو پکار دہ چه وختونه او ساعتونه ضائع نشی او شپی او خالی وختونه غنیمت وګڼل شی

**تشریح:** **(مستفیدا)** یعنی د علم د فائدو طلب کونکی به وی **(فی کل وقت حتی یحصل له الفضل)** یعنی په علم کی زیادت او کمال **(معه)** یعنی د طالب العلم سره **(محبرة)** یعنی د رنګ لوښی **(من حفظ فر)** یعنی چاچه یوشی حفظ کړونو داشی دده د حافظی نه تختی **(قر)** یعنی داشی قرار نیسی **(وقیل العلم)** یعنی ښه او کامل علم **(الرجال)** یعنی پوره ماهران سړی **(یقول)** دا جمله د سمعت لپاره مفعول دی **(یقول الی قوله والحکمة)** یعنی ددی نه یی څه شی ورته بیانول **(اعد)** دا داعادی نه امر دی یعنی ماته یی تکرار کړه **(لی ماقلت)** په صیغی د مخاطب سره **(مامعی محبرة)** یعنی ما سره محبره نشته **(فانه)** یعنی داشی **(یسیر)** یعنی لږ دی **(وعن قریب)** یعنی لنډ وخت نه روسته **(یکون کثیرا)** یعنی د هری ورځی په تیر دلو سره هغه سبق زیاتیږی چه دده حفظ کړی وی **(بدینار)** یعنی دیو دینار په مقابل کی **(فی الحال)** دا دیکتب لپاره ظرف دی یعنی سمدستی هغه شی ولیکی کوم چه دا اوری **(ان لایضیع)** یعنی چه په مناسبو کارونو کی یی مصرف نکړی **(ویغتنم اللیالی والخلوات)** یعنی هغه وختونه چه په هغ کی کوم مانع نه وی

**عن یحی بن معاد الرازی اللیل** طویل ولا تقصره بمنامك والنهار مضئ فلا تکدره بأثامك وینبغی ان یغتنم الشیوخ ویستفید منهم ولیس کل مافات یدرك کما قال استاذ الشیخ الاسلام فی مشیخته کم من شیخ کبیر فی العلم والفضل ادرکته وما استخرته واقول علی هذا الفوات منشأ هذا البیت شعرا

* لهفا علی فوت التلاقی لهفا ماکل مافات ویغنی یلفی *

قال علی رضی الله عنه اذا کنت فی امر فکن فیه وکفی بالاعراض عن علم الله تعالی خزیا وخسارا واستعذ بالله منه لیلا ونهارا ولابد لطالب العلم من تحمل المشقة



والمذلة فی طلب العلم التملق مذموم الافی طلب العلم لانه لابدله من التملق للاستاذ والشرکاء وغیرهم للاستفادة منهم

قیل العلم عز لاذل فیه لایدرك الابذل لاعز فیه، قال القائل

* ادی لك نفسا تشتهی ان تعزها فلست تنال العز حتی تذلها *

**ترجمه:** د یحی بن معاد رازی رحمه الله نه نقل دی داوایی چه شپه اوږده ده په خوبونو باندی یی مه لنډوه او ورځ رڼاده نو په ګوناهونو باندی یی ی مه تیاره کوه: او طالب العلم ته پکار دی چه خپل مشران شیخان غنیمت وګڼی او ددوی نه فائدی حاصلی کړی ځکه کوم شی چه د رنه فوت شی نو هغه په لاس نه دررزی لکه زمونږ استاذ شیخ الاسلام برهان الدین رحمه الله به ویل چه مابه علم او مرتبه کی ډیر مشران شیخان موندلی دی کله به مرچه ورنه دخیر طلب ونکړونو مابه ددی فوت کیدو په باره کی داشعر ویلو چه مفهوم یی داسی دی

افســـوس او پخیما تتیـــاده مونږتـــه د خپلو مشرانو ســـره د ملاویدلو په فوت کیدو کی ځکه کوم شی چه فوت او بناد شی نو هغه نه موجود یږی او نه حاصلیږی: علی رضی الله عنه فرمایی چه کله دی دیوشی د حاصلولو طلب شروع کړونو د هغی د حاصلولو لپاره خان فارغه کړه او دوام ورباندی وکړه او د الله د علم نه په مخ اړولو کی دانسان لپاره شرم او تاوان کافی دی او د الله جل جلاله د علم نه په اعراض کولو کی د الله جل جلاله نه د شپی او ورځی پناه وغواړه

او طالب العلم ته پکار دی چه د علم په حاصلولو کی ذلت او تکلیف برداشت کړی او چاپلوسی کول په هرشی کی قبیح او بد وی لکن د علم په طلب کی جائز دی ځکه طالب العلم به استاذ ته او ملګروته تیت او پاس کوی ترڅو ورنه فائده حاصله کړی لکه یو چاویلی دی چه علم عزت دی او ذلت پکی نشته او دا په ذلت باندی حاصلیږی او په عزت باندی نه حاصلیږی لکه یو شاعر وایی زه تا وینم

چه په ډیرخوندسره دنفس لپاره عزت غواړی :نوته عزت ته ترهغه وخت پوری نشی رسیدلی ترڅوچه نفس ذلیله نکړی

**تشریح** **(ولا تقصره)** دادتقصیرنه دی **(بمنامک)** یعنی په خوب باندی مصروفه کیدلوکی **(والنهارمضی)** یعنی درځاوالاده **(فلاتکن رباثامک)** یعنی دګناهونوبه وجه یی مه تتود اومه یی تباره کوه **(وینبغی ان یغتنم الشیوخ)** ځکه رسول الله ﷺ فرمایی چه برکت دمشرانوسره دی یعنی دهغه چاپه صحبت کی برکت دی چه هغه مشران وی اوتانه په عمرکی زیات وی ځکه هغوی ته ډیری تجربی حاصل شوی وی اوبه فائده ناک کاراوخیره باندی پوهیږی **(وان یستفیدمنهم)** که دقول نه وی اوکه دفعل نه وی **(ولیس کل مافات)** یعنی دعلومونه **(یدرک)** په مجهول صیغی سره یعنی دهغی په حاصلولوباندی نه قادریږی **(وما استخرته)** یعنی چاورنه دخیرطلب نه وی کړی **(لهفاالخ)** لهف دارمان اوپښیمانتیا کلمه ده په هغه وخت کی یی خلک استعمالوی چه کله ورنه څه شی فوت شی اوالف پکی دیامتکلم نه رابدل شوی دی نومعنی داشوه چه ای زماافسوس اوپښیمانتیاچه دخپلومشرانوسره دمیلاویدودفوت کیدونه راغلی یی اودوهم لهف داول لپاره تاکیددی **(ماکل ما)** اوله مانافیه ده اودوهمه ماموصوله ده **(یلفی)** صیغه دمجهول ده یعنی موجودیږی مطلب داچه کوم شی فوت شی اوفناشی نودهغی حاصلول ممکن نه دیلکه دامحض افسوس اوپښیمانتیاده چه دموقع دتیریدونه روسته هیڅ فائده نه کوی **(قال علی رضی الله عنه اذاکنت فی امر)** یعنی دیوشی حاصلول دی شروع کړل **(فکن فیه)** یعنی دهغی په حاصلولوباندی همیشه والی وکړه اومهمل یی مه پریږده **(وکفی بالاعراض)** بازائده ده لکه څنګه چه پدی قول دالله ﷻ کی زائده ده **وکفی بالله شهیدا** نومعنی داشوه چه وکفی بالاعراض **(عن علم الله تعالی خزیاوخسارا)** داتمیزونه دی ځکه منصوب دی یعنی دالله ﷻ دعلم نه اعراض کول په دنیااواخرت کی رسوایی اوشرم دی نوځان ساتل ورنه



پکاردی **(واستعذبالله منه)** یعنی دالله ﷻ دعلم نه په اعراض کولو **(لیلاونهارا)** دادظرفیت دوجی نه منصوب دی یعنی فی اللیل والنهار **(من تحمل الی قوله والتملق)** عرب وایی تملقة وتملق له یعنی مینه یی ورسره وکړه اونرمی یی وسره وکړه **(وغیرهم)** لکه دنوروعلماؤلپاره **(قیل)** یعنی دهمدی مطلب په تاییدکی **(العلم عز)** یعنی عزت دی **(لاذل)** په ضمی دذال سره یعنی ذلت اوحقارت **(فیه لایدرک)** یعنی دیته رسیدل نه کیږی **(الابذل لاعزفیه)** ددینه مراددادی چه طالب العلم به استاذته ملګرونه تیټ اوپاس کوی اوهغوی ته دعلم په حاصلولوکی نحتاجه کیږی **(وقال القائل)** دشاعرنوم یی دعدم نه ندی ذکرکړی **(اری لک نفساتشتهی)** یعنی په خوندسره یی غواړی **(ان تعزها)** یعنی چه عزتمندیی وګرزوی **(فلست)** په صیغی دمخاطب سره تنال العزحتی تذلها

## فصل فی الورع فی حالة التعلم

رروی بعضهم حديثافی هذالباب عن رسول الله ﷺ انه قال من لم يتورع فی تعلمه ابتلاه الله تعالی بأحدثلاثة اشياء اما ان يميته فی شبابه اويوقعه فی الرساتيق اويبتليه بخدمة السلطان فمهماكان طالب العلم اورع كان علمه انفع والتعلم له ايسروفوائده اكثرومن الورع الكامل ان يحترزعن الشبع وكثرة النوم وكثرة الكلام فيمالاينفع وان يحترزعن اكل طعام السوق ان امكن لان طعام السوق اقرب للنجاسة والخيانة وابعدعن ذكرالله واقرب الی الغفلة ولان ابصارالفقراء تقع عليه ولايقدرون علی الشراءمنه فيتاذون بذلك فتذهب بركته

حكی ان الشيخ الامام الجليل محمدبن الفضل رحمه الله كان فی حال تعلمه لاياكل من طعام السوق وكان ابوه يسكن فی الرساتيق ويهئ له طعامه ويدخل اليه يوم الجمعة فرای فی بيت ابنه خبزالسوق يومافلم يكلمه ساخطاعليه فاعتذرابنه وقال مااشتريته ولم ارض به ولكن احضره شريكی فقال له ابوه لوكنت تحتاط وتتورع عن مثله لم يتجرء شريكك علی ذالك وهكذاكانو يتورعون فلذلك وفقواللعلم والنشرحتی بقی اسمهم الی يوم القيمة ووصی فقيه من زهادالفقهاء طالب العلم فقال له عليك ان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

تحترز عن الغيبة وعن مجالسة المكثار وقال ان من يكثر الكلام يسرق عمرك ويضيع اوقاتك ومن الورع ان يجتنب اهل الفساد والمعاصي والتعطيل ويجاور الصلحاء فان المجاورة مؤثرة لا محالة وان يجلس مستقبلة القبلة ويكون مستنا بسنة النبي ﷺ ويغتنم دعاء اهل الخير ويحترز دعاء المظلومين

**ترجمه** فصل دی په بيان دپرهيزګارۍ کی دتعليم په وخت کی بعضو علماؤ ددی په باره کی درسول الله ﷺ نه روايت نقل کوی چه رسول الله ﷺ فرمايی څوک چه دتعليم په وخت کی پرهيزګاری ونکړی نوالله ﷻ به یی يوددی دری شيانونه په يوشی باندی اخته کوی يابه یی الله ﷻ په ځوانی کی مړکوی يابه یی په کلوبانډوکی دجاهلانو په منځ کی واقع کوی اويابه یی دبادشاه په خدمت کی مبتلا کوی :نوترڅوپوری چه طالب العلم پرهيزګاره وی نوپه علم کی به یی فائده ډيره وی اوتعليم به ورته اسانه وی اودعلم فائدی به یی ډيری وی اوداهم تقواده چه طالب العلم دډيرخوراک نه اودډيرخوب نه اودډيروبی فائدوخبرونه ځان وساتی اوبل داکچرته ممکنه وی نودبازاری خوراک نه دی ځان وساتی خکه دبازارخوراک نجاست اوخيانت ته ډيرنژدی وی اودالله ﷻ دذکرنه ډيرلری کونکی دی اوغفلت ته نژدی کونکی دی اوبل داچه دغريبانوسترګی وربانډی پريوزی اوداخستلوطاقت یی نه لری نودوی ته تکليف رسيږی نوددوی دخوراک برکت لمنځه ځی

اويوواقعه رانقل شوی ده چه شيخ امام محمدبن فضل به دتعليم په وخت کی بازاری ډوډی نه خوړله اوپلاربه یی په باډوکی اوسيدلواوده ته به یی خوراک تيارولواوجمعی په ورځ به ورته راتللونويوه ورځ یی دځوی په کوټه کی بازاری ډوډی وليدله نودغصی دوجی نه یی ورسره خبری ونکړی نوځوی یی ورته عذرپيش کړواوورته ویی ويل چه دامانه ده اخستی اونه ورته خوشحاله يم بلکه داځاملګری راوړی ده پلاریی ورته وويل کچرته تااحتياط کولی اوددی نه دی ځان ساتلی نوستاملګری به داجرات



نوی کړی نومخکنی علماء دغسی پرهيزګاران وه ددی وجی نه الله ﷻ ورته دعلم اودعلم دخورولوتوفيق ورکړی وترددی چه نومونه به یی ترقيامته پوری ژوندی پاتی وی

يوپرهيزګاره فقيه يوطالب العلم ته وصيت کولواوورته یی وويل چه تاباندی لازم دی چه دغيبت کولونه ځان وساتی اوهمدارنګه دهغه چادناستی نه ځان وساته چه ډيری خبری کوی خکه څوک چه ډيری خبری کوی نوهغه ستاعمرغلا کوی اوستاوخت ضائع کوی :اوداهم تقوی اوپرهيزګاری ده چه طالب العلم دفسادیانواودګنهګارانواودبی کاره خلکونه ځان وساتی خکه ددوی سره ملګرتياکول خامخااثرکوی اوبل داچه بايدطالب العلم قبلی ته مخامخ کينی اومکمل درسول الله ﷺ دسنتوتابعداروی اويکارده چه طالب العلم دنيکانوخلکودعاغنيمت وګنی اودمظلوموخلکودخيراګانونه ځان وساتی

**تشریح** **(فصل فی الورع)** يعنی دحرامونه ځان ساتل **(فی هذا الباب)** يعنی دپرهيزګاری په باره کی **(امان يميته فی شبابه)** يعنی اول دتعليم طاقت ورکړی خوچه پهيزګاری پکی ونکړی نوبيايی په ځوانی کی مړکوی اودیته معلقه قضاوايی **(اويوقعه)** دامنصوب دی اوپه يميته باندی عطف دی **(فی الرساتيق)** يعنی په باډوکی دجاهلانوپه منځ کی **(اويبتليه)** نوکوم علم یی چه حاصل کړی وی هغه به ضائع شی **(له)** يعنی ددی طالب العلم پشان کی **(اکثر)** يعنی دتقوی په برکت باندی **(عن الشبع)** په کسری دشين اوپه فتحی دباسره دلوږی ضدته وايی **(وکثرة الکلام فيما لاينفع)** يعنی په بی فائدوعلوموکی بحث کول خکه دامحض عبث دی اودعمرضائع کول دی **(ان امکن)** يعنی دهغی نه ځان ساتل **(اقرب اه)** يعنی دبی پروايی دوجی نه پکی نجاست غورزيږی **(الی الغفلة)** خکه دغفلت واله په خای باندی واقع کيږی **(عليه)** يعنی پدی طعام باندی **(بذالک)** يعنی نظرونه یی وربانډی غورزيږی اوداخستلو طاقت یی نه لری **(لاياکل من طعام**

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

(السوق) داجمله په محل دنصب کی واقع ده خکه چه خبردکان دی (فی الرستاق) یعنی په کلی کی (فرای) داپه مقدرکلام باندی عطف دی یعنی فدخل فرأی (ساخطا علیه) یعنی خوی ته یه غصه ؤ (فاعتزرابنه) یعنی عذریی ورته بیان کړو (به) یعنی ددی طعام په بازارکی اخستلوباندی (شریکک) دامرفوع دی اودیجتری لپاره فاعل دی (بذالک) یعنی تاته په بازار طعام راوړلوکی (وهکذا) یعنی ددی پرهیزکاری پشان (کانوا) یعنی مخکنی علماء (وفقوا) په صیغی دمجهول سره یعنی دوی موافق وګرزیدل (للعلم والنشر) یعنی طالبانوته دعلم په نشرکولوکی (حتی بقی اه) په بنه یادولواوصفتونوسره (طالب العلم) دامنصوب دی اودوصی لپاره فاعل دی (علیک) یعنی دغیبت نه خان ساتل په خن باندی لازم کړه (وعن مجالسة المکثار) یعنی چه ډیری خبری کوی (وقال) یعنی دغه فقیه (یکثر) داکثارنه دی (یسرق) دضرب یضرب دباب نه (عمرک ویضیع اه) خکه دډیرو خبرواوریدلوکی فائده نشته بلکه عمراووخت ضائع کوی (ومن الورع ان یجتنب) یعنی طالب العلم (من اهل الفساداه) یعنی دهغه کسانونه چه فسادیان دی اوګنهګاران دی اوباطل فرست دی اوخپل عمرونه ضائع کوی (فان المجاورة) یعنی ملګرتیاکول (مؤثرة لامحالة) محالة دتحول نه مصدردی یعنی تحول اوانقلاب پکی نشته بلکه دملګرتیادوجی نه تاثیربغیردشک نه ثابت دی نوددوی دملګرتیانه خان ساتل ضروری دی ترڅودهغوی داخلاقوپشان دده اخلاق نشی (ویکون) دامنصوب دی اوپه ان یجلس باندی عطف دی (مستنا) یعنی عمل کونی وی (اهل الخیر) لکه علماء اوصالحین (ویتحرز) خکه په صحیح حدیث کی راغلی دی چه ددوی دعامستجابه ده

وحکی ان رجلین خرجافی طلب العلم للغربة وکاناشریکین فی العلم فرجعابعدسنین الی بلدهاوقدفقه احدهماولم یفقه الاخرفتامل فقهاء البلدة وسئلواعن حالهماوتکرارهماوجلوسهمافاخبروان جلوس الذی تفقه فی حال



التکرارکان مستقبل القبلة والمصرالذی حصل العلم فیه والاخرکان مستدبرالقبلة ووجهه الی غیرالمصرفاتفق العلماء والفقهاء ان الفقیه فقه ببرکة استقبال القبلة اذهوسنة فی الجلوس الاعندالضرورة وببرکة دعاء المسلمین فان المصرلایخلوعن العبادواهل الخیرفالظاهران عابدامن العباددعاله فی اللیل فینبغی لطالب العلم ان لایتهاون باالاداب والسنن فان من تهاون باالادب حرم السنن ومن تهاون باالسنن حرم الفرائض ومن تهاون باالفرائض حرم الاخرة

وبعضهم قال ان هذاحدیث من رسول الله ﷺ وینبغی ان یکثرالصلوة ویصلی صلوة الخاشعین فان ذالک عون له علی التحصیل والتعلیم، وانشدت للشیخ الجلیل الزاهدالحجاج نجم الدین عمربن محمدالنسفی رحمه الله

*کن للاوامروالنواهی حافظا — وعلی الصلوة مواظباومحافظا*
*واطلب علوم الشرع واجهدواستعن — باالطیبات تصرفقیهاحافظا*
*واسال الهک حفظ حفظک راغبا — فی فضله فالله خیرحافظا*

## وقال ایضا

*اطیعواوجدواولاتکسلوا — وانتم الی ربکم ترجعون*
*ولاتصحبواالخیارالوری — قلیلامن اللیل مایهجعون*

وینبغی ان یستصحب دفتراعلی کل حال لیطالعه، وقیل من لم یکن الدفترفی کمه لم تثبت الحکمة فی قلبه، وینبغی ان یکون فی الدفتربیاض لیکتب فیه مایسمعه من افواه الرجال ویستصحب المحبرة لیکتب مایسمع وقدذکرناحدیث هلال بن یسار رضی الله عنه

**ترجمه**: یوه قیصه رانقل شوی ده چه دوه کسان دعلم په طلب کی دغربت اودفقیری دوجی نه دکورنه ووتل اودواړه په علم کی شریک او یوځای وه ځوکلونه روسته دواړه خپل کلی ته پداسی حال کی راغلل چه یوفقیه اوعالم شوی ؤاوبل نه ؤعالم شوی نودکلی فقهاؤسوچ وکړواوددوی دحال اوتکراراوناستی تپوس یی وکړونودوی ته خبرملاشوچه کوم کس عالم شوی دی نوهغه به دتکرارپه وخت کی قبلی طرف ته مخ کولواوهمدارنګه دهغه کلی طرف ته مخ کولوچه ده پکی علم حاصل کړی ؤاوکوم کس چه ندی عالم شوی نوهغه به دقبلی په طرف، شاکوله اومخ به یی دښاریه


Scanned with CamScanner

طرف نه ؤنوعلماؤاوفقهاؤيدی خبره باندی اتفاق وکړوچه فقيه ته دقبلی طرف ته مخ کولوله برکته فقاهت ملاوشوی دی ځکه دناستی په وخت قبلی ته مخ کول سنت دی مګرکه ضرورت وی نوبياخيردی اوهمدارنګه ده ته دمسلمانانو ددعاله برکته فقاهت ورکړل شوی دی ځکه ښارکی به خامخادالله ﷻ بندګان اونيکان خلک موجودوی نوښکاره خبره ده چه ده ته به دالله ﷻ دبندګانويوه بنده دښی دعاکړی وی

نوطالب العلم ته پکاردی چه په ادابواوسنتوکی سستی ونکړی ځکه څوک چه په ادبوکی سستی وکړی نودسنتونه محرومه کيږی اوڅوک چه په سنتوکی سستی کوی نوهغه دفرايضونه محرومه کيږی اوڅوک چه دفرائضونه محرومه شول نوداخرت نه محرومه کيږی اوبعضوويلی دی چه داحديث دی اودرسول الله ﷺ نه رانقل شوی دی ؛

اوطالب العلم ته پکاردی چه ډيرنفلونه کوی اوپه تواضع اوعاجزی سره لمونځونه وکړی ځکه داورسره په علم حاصلولوکی کومک کوی ؛ماشيخ نجم الدين عمربن محمدالنسفی رحمه الله عليه ته داشعرولوستلوچه مفهوم يی داسی دی

دالله ﷻ داوامرواونواهيوحفاظت وکړه يعنی په عمل کی يی راوله ؛اودلمونځ په اداکولوباندی هميشه والی وکړه اودنيکوکارونوه کولوسره کومک وغواړه نوحافظ اوفقيه به وګرزيږی اودالله ﷻ نه دخپلی حافظی حفاظت وغواړه اودالله ﷻ په فضل کی رغبت وکړه ځکه الله ﷻ غوره حافظ اوساتونکی دی

اوهمدارنګه په بل شعرکی فرمايی چه مفهوم يی داسی دی چه دالله ﷻ اورسول ﷺ تابعداری وکړی اوکوشش وکړی اوسستوب مه کوی ځکه تاسوالله ﷻ ته واپس کيدونکی ياست اوخوبونه مه کوی ځکه غوره خلک دشپی لږخوبونه کوی



اوطالب العلم ته پکاردی چه هميشه اوورسره په هروخت کی کتابچه موجوده وی ترڅوهغه مطالعه کړی علماؤويلي دی چه چاسره په لستونی يعنی په جب کی کتابچه نوی نوحکمت دده په زړه کی نشی کيناستلی اوبايدچه په کتابچه کی ورسره تشی پانی موجودی وی اودسياهی بوتل ورسره وی ترڅوهغه شيان وليکی چه دايی اوری لکه مخکی مونږدهلال بن يسارحديث ذکرکړو

**تشريح** **(للغربة)** يعنی دغريبی دوجی نه **(فرجعا)** يعنی خپل کلی ته **(وقدنفقه احدهما)** يعنی حال داچه يوفقيه ګرزيدلی ؤ **(فاخبروا)** يعنی هغه خلکوخبرورکړوچه دوی سره دتحصيل په وخت کی نژدی وه **(مستقبلة القبلة)** دايه کان کی دضميرمستترنه حال دی **(والاخر)** دامجروردی يعنی دبل ناسته **(ووجهه)** داجمله اسميه ده اودحال په ځای کی واقع شوی ده **(ان الفقيه)** معهودفقيه **(اذ فقه)** دادحسن يحسن دباب نه دی يعنی چه فقيه ګرځيدلی دی **(اذ هوالسنة)** په ټولوحالونوکی **(الاعندالضرورة)** چه هغه قبلی نه غيربل طرف ته دناستی تقاضاکوی **(عز العباد)** دادعابدجمعه ده **(فی اليل)** په دعاکی يی دليل قيدځکه راوړلوداځکه چه اکثره دعاپه شپه کی قبليږی **(ان لايتهاون)** يعنی تکاسل اوسستی ونکړی **(السنن)** يعنی دسنتونه **(الفرائض)** يعنی دفرضوداداکولونه **(ان يکثر)** داداکثارنه دی **(الصلوة)** يعنی نفلی لمونځونه **(فان ذالک)** يعنی لمونځ دخشوع په طريقه باندی اداکول **(عون له)** يعنی طالب العلم ته **(وانشدت)** په مجهول صيغی سره **(شعرکن الخ)** يعنی داوامرواداکول اودنواهيونه خان ساتل داوامرواونواهيوحفاظت دی اوداهم کيدی شی چه مرادورنه ماموارت اومنهيات وی نوبيايی معنی ښکاره ده **(وعلی الصلوة)** يعنی په لمانځه باندی دوام کوه دااګرچه په اوامروکی داخل دی لکن دعظمت شان دوجی نه يی مستقل ذکرکړواويديکی خبرداری دی چه لمونځ دعباداتواصل دی اوددی په وجه باندی سړی دفحشااوبدوکارونونه منعه کيږی لکه الله ﷻ فرمايی **ان الصلوة تنهی**

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

**عن الفحشاء والمنكر** (**واستغن**) يعنى كومک وغواړه (**باالطيبات**) يعنى په نيکوکارونوباندى اوپه ښواخلاقوباندى (**تصر**) دادامرلپاره جواب دى نوځکه مجزوم دى (**الهک**) يعنى الله ﷻ نه (**حفظ حفظک**) يعنى دالله ﷻ نه دهغى حافظى حفاظت اوساتنه وغواړه چه تاته يې درکړى ده ترڅودرته الله ﷻ حافظه دهغه افتونونه وساتى چه هغه په حافظه کى خلل راولى (**راغبا**) يعنى رغبت اومينه ښکاره کوه (**وقال**) يعنى عمرالنسفى رحمة الله عليه (**اطيعوا**) يعنى دالله ﷻ اودرسول الله اطاعت وکړى (**وجدوا**) په کسرى دجيم سره يعنى کوشش وکړى (**ولاتکسلوا**) يعنى په طاعاتو کى (**وانتم الخ**) يعنى حال داچه تاسو (**الى ربکم**) يعنى حکم درب ته (**ترجعون**) نوهغه درجى به ووينى چه الله ﷻ تابعداروته تيارى کړى دى اوهغه خايونه به هم ووينى چه الله ﷻ گنهگاروته تيارکړى دى (**ولاتهجعوا**) دادهجوع نه دى يعنى خوب مه کوه (**فخيارالورى**) فا دتفصيل لپاره دد اوخيار دخير نه په تشديد سره جمعه ده اوورى مخلوق ته وايى يعنى غوره اوبهتره مخلوق (**قليلاالخ**) قليلاد ظرفيت دوجى نه منصوب دى اومادقليلاد معنى تاکيد کوى يعنى دشپى لږاوده کيږى (**وينبغى ان يستصحب دفترا**) يعنى دځان سره يى ملګرى وګرزوى (**ليطالعه**) يعنى چه مطالعه يى کړى (**وقيل**) يعنى ددى قول په تاييد کى (**من لم يکن الدفترفى کمه**) په ضمى دکاف اوپه تشديددميم سره لستونى ته وايى اوپه فارسى کى ورته استين وايى (**وينبغى**) ترڅوهغه شى وليکى چه دخلکودخولى نه يى اورى (**المحبرة**) يعنى درنګ لوښى (**ليکتب**) يعنى دماهرانوعلماؤ نه (**حديث هلال بن يسار** رضى الله عنه) چه هغه داحديث دى **رايت النبى** ﷺ **يقول لاصحابه شيئامن العلم والحکمة الحديث**: نومعلومه شوه چه دسباهى ګرزول غوره دى

## فصل فيمايورث الحفظ وفيمايورث النسيان

**اقوى اسباب الحفظ الجدوالمواظبة وتقليل الغذاء وصلوة الليل وقرائت القران من اسباب الحفظ قيل ليس ازيد للحفظ من قرائت القرآن نظراًوقرائت القرآن نظراً**



**افضل لقوله عليه السلام افضل اعمال امتى قرائت القران نظراً،راى شدادبن حکيم بعض اخوانه بعدوفاته فى المنام فقال لاخيه اى شئ وجدته انفع قال قرائت القران نظراًويقول عندرفع الکتاب بسم الله وسبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اکبرولاحول ولاقوة الاباالله العلى العظيم العليم عددکل حرف کتب ويکتب ابدالابدين ودهرالدهرين ويقول بعدکل مکتوبة آمنت باالله الواحدالاحدوحده لاشريک له وکفرت بماسواه ويکثرالصلوة على النبى ﷺ فانه ذکرللعال**

## قيل شعر

* شکوت الى وکيع سوءحفظى فاوصانى الى ترک المعاصى *

* فان الحفظ فضل من الهى وفضل الله لايعطى لعاصى *

**والسواک وشرب العسل واکل احدى وعشرين زبيبة حمراء کل يوم على الريق يورث الحفظ ويشفى من کثيرمن الامراض والاسقام واکل مايقلل البلغم والرطوبات يزيدفى لحفظ**

**ترجمه**: فصل دى په بيان دهغه شى کى چه حافظه راولى اوپه بيان دهغه شى کى چه هيره راولى :دحافظى دقوى کيدلولپاره قوى سببونه په سبق کى کوشش کول دى اوهميشه والى په سبق باندى اولږخوراک کول دى اودشپى لمونځ کول دى اودقرانکريم تلاوت کول دى نوداتول دحافظى دقوى کيدولپاره سببونه دى

اوعلماء وايى چه په ناظره باندى دقرانکريم دلوستلوپشان بل شى حافظه نشى قوى کولى اوپه ناظره باندى قرانکريم لوستل غوره دى ځکه رسول الله ﷺ فرمايى چه ځمادامتيانوپه عملونوکى غوره عمل دادى چه قرانکريم په ناظره باندى لولى: دشدادبن حکيم رحمة الله عليه يوورور وفات شونوده په خوب کى وليدواوورته يى وويل کوم عمل درته ډيره فائده وکړه ؟نوهغه ورته وفرمايل چه په ناظره باندى قرانکريم لوستلوراته ډيره فائده وکړه

اوطالب العلم به دکتاب دپورته کولوپه وخت کى دادعاوايى چه **بسم الله وسبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اکبرولاحول ولاقوة الاباالله العلى عظيم العليم عددکل حرف کتب ويکتب ابدالابدين ودهرالدهرين**



Scanned with CamScanner

اودهرلمانځه نه روسته به دادعاوايی آمنت بالله الواحدالاحدوحده
لاشريك له وكفرت بماسواه: اوپه رسول الله ﷺ باندې به زيات درودوايی
ځکه رسول الله ﷺ دټولوكائناتو لپاره رحمت دی ؛ يوشعرويل شوی
دی چه مفهوم يی داسی دی

ماوكيع ته دځپلی حافظی دکمزوری كيدوشكايت وکړو؛ نوهغه راته دګناهونوپه پريخودلولاره وښوده؛ځکه حافظه دالله ﷻ فضل دی ؛اود الله ﷻ فضل ګنهګارسړی ته نه وركول كيږی ؛اومسواک وهل اوشهد سكل اوپه نهره باندې يووېشت دانی سره مميزخوړل حافظه قوی کوی اود ډيرومرضونونه شفاوركوی اوهرشی چه رطوبات كموی نو هغه په حافظه كی زيادت راولی

**تشريح:**(يورث)يعنی پيداكوی(الجد)يعنی كوشش كول(الغذا) په غين اوپه ذال سره هغه شی ته وايی چه غذاورباندی حاصليږی (وصلوة الليل)يعنی په شپه كی نفل لمونځ كول مثلاتهجد (وتلاوة القران)دامبتداده(من اسباب العلم)دايی خبردی(ازيد)دامنصوب دی اودليس لپاره خبردی(نظرا)يعنی قرانكريم ته په كتلوسره تلاوت كول(فقال)يعنی شدادبن حكيم خپل ورورته وويل(ای شئ) دامبتداده اووجده په مخاطب صيغی سره دايی خبردی يعنی كوم عمل درته په اخرت كی فائده ورسوله (رفع الكتاب)يعنی هغه كتاب چه دايی لولی اومطالعه كوی يی (عددكل حرف)داپه نزع الخافض سره منصوب دی يعنی بعدكل حرف(كتب)په تيره شوی زمانه كی (ويكتب)فی الحال اوپه راتلونكی زمانه كی(ابدالخ) داديكتب لپاره ظرف دی نوددی وجی نه منصوب دی(ويقول بعدكل مكتوبة)يعنی پس دفرضی لمانځه نه(فانه)يعنی نبی ﷺ (ذكرللعالمين)يعنی رحمت دی نوپه ده باندی درود دبركت دوجی نه اميدساتوچه الله ﷻ به په مونږباندی رحمت راليږی اوزمونږحافظه به ساتی(وكيع)داديوعالم نوم دی چه دامام شافعی اوامام بخاری استاذتيرشوی(سوء حفظی)يعنی دحافظی



دکمزوری كيدونه (فارشدنی الخ)يعنی ماته يی دګناه دپريخولولاره وښودله(وفضل الله)يعنی حال داچه دالله ﷻ فضل ګنهګارانوته نه وركول كيږی نوځکه چه دالله ﷻ فضل ساتنه غواړی چه هغه حافظه ده نوګناهونه دی نه كوی(والسواک)يعنی دمسواک استعمالول(على الريق) يعنی په لوږه باندی(يورث الحفظ)داقول دوالسواک مبتداده اومابعدورباندی عطف دی اويورث الحفظ ورته خبردی(وكل ما يقلل الخ)مثلاوچ شيان خوړل

**واماماًيورث النسيان فالمعاصي وكثرة الذنوب والهموم والاحزان في امور الدنيا لانه يضرولاينفع وهموم الدنيا لاتخلوعن الظلمة في القلب وهموم الاخرة لاتخلوعن النورفي القلب ويظهراثره في الصلوة فهم الدنيا يمنعه عن الخيروهم الاخرة يحمله عليه والاشتغال بالصلوة على الخشوع وتحصيل العلوم ينفي الهم والحزن كماقال الشيخ الامام نصربن حسن المرغيناني في قصيدة له**

*استعن نصربن الحسن في كل علم يختزن*
*ذاك الذي ينفي الحزن وغيره لايؤتمن*

والشيخ الامام الاجل نجم الدين عمربن محمدالنسفی رحمه الله في امولدله شعر

*سلام على من تيمتنى بظرفها — ولمعة خديها ولمعة طرفها*
*سبتنى واصبتنى فتاة مليحة — تحيرت الاوهام في كنه وصفها*
*فقلت ذرينى واعذرينى فانني — شغفت بتحصيل العلوم وكشفها*
*ولى في طلاب الفضل والعلم والتقى — غنى عن غناء الغانيات وعرفها*

واما اسباب نسيان العلم فاكل التفاح الحامض والنظر الى المطلوب وقرائت لوح القبوروالمروربين قطار الجمال والقاء القمل الحی على الارض والحجامة على نقرة القفاء كلها تورث النسيان

**ترجمه:**اوهغه شيان چه هيره راولی اوحافظه كمزوری كوی نوهغه ډيرګناهونه كول دی اوددنياپه كارونوكی وهمونه اوغمونه كول دی همدارنګه ډيرمصروفيت اوډيری علاقی هم نسيان راولی اومخكی مونږذكركړل چه عاقل سړی سره ددنياپه كارونوكی غم كول مناسب ندی ځکه داضرررسوی اوفائده نه رسوی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

اودنیاغمونه خامخاپه زړه باندی تیاره راولی اوداخرت غمونه خامخاپه زړه باندی رڼاراولی اوددی اثریه لمانځه کی ښکاره کیږی نوددنیاغمونه سړی دخیرکارونونه منعه کوی اوداخرت غم سړی دخیریه کارونوباندی باعث کوی اوپه خشوع سره لمونځ کول اودعلم حاصلول دغم اودخفگان سره منافی دی لکه شیخ الامام نصربن حسن په یوه قصیده کی وایی چه مفهوم یی داسی دی :

ای نصربن حسنه په هغه علم کی مددوغواړه چه ته یی حفظ کوی داهغه شی دی چه دخفگان سره منافی دی اوددی نه غیریه نوروشیانوباندی اعتمادنه کیږی اوامام شیخ نجم الدین عمربن محمدنسفی رحمه الله دخپلی ام ولدی په باره کی یوشعرویلی دی چه مفهوم یی داسی دی :په هغه چاباندی دی زماسلام وی :چه دهغی پاکوالی اودهغی دانتگیږکوالی اودهغی کتلوزمازړه په محبت کی پټ کړی دی چه دهغی ښایسته خوانی زه بندی کړی یم اوزه یی مانله کړی یم :داسی خوانی ده چه دهغی دصفتونوپه حقیقت کی نظروشی نوعقلونه حیرانوی:نوماورته وویل چه ماپریږده زه ستاتابعداری نه کوم،اوزماعذرومنه خکه زمازړه نه دعلم دحاصلولواودعلم دکشف کولومحبت پریوتی دی:ماته دعلم اودبهتروالی اودتقوی په طلب کولوکی مالداری حاصله ده چه زه دخایسته ښځواودهغوی دخوشبوییانوهیڅ پروانه کوم

اوهرچه دهیریدلواسباب دی هغه شیان چه حافظه کمزوری کوی ،نوهغه دنیم پوسته مڼی خوړل دی اوپه سولی شوی انسان ته کتل دی اوپه قبرونوباندی دلوحولوستل دی اوداونښانودقطاریه مابین کی مزل کول دی اوپه خمکه باندی دژوندیوسپږوغورزول دی اودښځ په مابین کی ښکرلګول دی :داټول شیان نسیان راولی

**تشریح (وقدذکرنا)** یعنی حال داچه مخکی موږذکرکړی دی **(یهتم)** یعنی خپه کیږی **(لانه)** یعنی ددنیاکار **(یضرولاینفع)** یعنی مصنف رحمه الله دتوکل په فصل کی ویلی وه چه عاقل سړی ددنیادکارو



نوغم نه کوی خکه غم اوخفگان مصیبت نه واپس کوی اونه څه فائده کوی بلکه زړه اوعقل اوبدن ته ضرررسوی اودخیریه کارونوکی خلل واقع کوی **(اثره)** یعنی دنوراثریه لمانځه کی معلومیږی لکه سړی لمونځ وکړی نوزړه یی خوشحالیږی اودهغی خوندمحسوسوی **(یمنعه)** یعنی عاقل سړی **(عن الخیر)** خکه دتیاری اودرڼاسببونه سره نه جمعه کیږی بلکه دادواړه سره منافی دی **(وتحصیل العلوم)** دامجروردی اوپه بالصلوة باندی عطف دی **(ینفی الهم والحزن)** داخبردی والاشتغال ورنه مبتداده **(له)** یعنی داسی قصیده ده چه پخپله یی جوړه کړی ده **(استعن نصربن الحسن)** یعنی ای نصربن حسنه مددوغواړه اودلته حرف نداء حذف شوی **(فی کل علم یختزن)** یعنی دهغه علم په حاصلولوکی کومک وغواړه چه دهغی یادول داستاداودملګروپه کیږی **(ذاک الذی الخ)** یعنی کوم علم یی چه زده کړی دی نوداغم اوخفگان سره منافی دی خکه علم دوړه دلذت دوجی نه نوری خاطری نفی کوی اوسړی بواځی په علم کی مصروفه کوی **(وغیره)** یعنی باطل دی **(لایوتمن)** یعنی پدی باندی اعتمادنه کیږی **(والشیخ الامام)** دامرفوع دی اوپه الشیخ نصربن حسن باندی عطف دی **(فی ام ولدله)** یعنی دام ولدی صفت کوی **(سلام)** داپه اصل کی سلمت سلاما دی فعل ورنه حذف شوی دی بیادنصب نه رفعی ته ددوام او استمرارلپاره معدول شوی دی گویاچه داسی یی وویل سلامی یعنی زماله طرف نه دی سلام وی **(علی من تیمتنی)** په تشدیدداسره یعنی زړه یی دلیل اوعلاج کړولی نه اوفعل یی په اعتبارد معنی سره مونث راوړی دی **(بطرفها)** یعنی دهغی دپاک والی دوجی نه **(وللمحة خدیها)** یعنی دانګوپه ریښیدوسره **(وللمحة طرفها)** لمحة په معنی دلمعة سره دی اوطرف سترګوته وایی یعنی په خمارخمارکتلوسره **(سبتنی)** یعنی زړه ددی دعشق دوجی نه اسیر اولیونی ګرځیدلی یم **(واصبتنی)** یعنی هغی ته می میلان کړی دی **(فتاتة ملیحة)** دامرفوع

دی اودسبتنی اواصبتنی لپاره په طريقی دتنازع سره فاعل دی اوفتاتة دفتی تأنيث دی يعنی ښايسته خوان **(تحيرت الاوهام)**وهم دفتاتة لپاره صفت دی **(فی کنه وصفها)** يعنی دوصف په حقيقت کی مطلب داچه پدی ښځه کی کوم دکمال صفتونه دی نودهغی دادراک نه عقل عاجزه کيږی **(ذرينی)**يعنی ماپه خپل حال باندی پرېږده **(واعذرينی)**يعنی زه ستاتابعداری نه کوم اونه ستاپه مينه کی ځان مصروفه کوم اوزماداعذرومنه **(فانني)**دادمخکی لپاره علت ذکرکوی **(شغفت)**عرب وايی شغف به لکه فرح به يعنی ماخان تړلی دی **(بتحصيل العلوم وکشفها)**نو ځوک چه دعلم په حاصلولوکی مصروفه شی نودخپلی محبوبی سره دمينی کولوزمينه ورته نه برابريږی **(ولی)**يعنی ماليپاره ثابت دی داخبرمقدم دی **(فی طلاب الفضل الخ)**يعنی ددی دحاصلولوپه طلب کی **(غنی)**په کسری دغين سره دفقرضدته وايی اودامبتدا مؤخره ده **(عن غناء الغانيات)**غناء په کسری اوپه مدسره په معنی دتغنی سره ده اوغانيات نه مرادښايسته ښځی دی**(وعرفها)**په فتحی دعين اوپه سکون دراء سره بوی ته وايی برابره خبره ده که ښځه بوی وی اوکه بدبوی وی لکن اکثره دخوشبوی لپاره استعماليږی اودلته ورنه هم دامراددی يعنی ماته دعلم اوفضل اوتقوی دوجی نه دخواهشاتو د استعمالو لو نه غناء اوبی پروايی حاصله ده ؛نودشيخ دکلام نه داخبره ثابته شوه چه دعلم په حاصلولوکی مصروفه کيدل دغم اودخفگان سره منافی دی**(والتفاح الخامض)**يعنی چه دترشوالی اوخوږوالی په مابين کی وی **(وقرائت لوح القبور)**يعنی هغه خط ليکل چه دقبرونوپه کانوليکل شوی وی**(الجمال)**په کسری سره**(والقاء القمل)**په فتحی دقاف اوسکون دميم سره **(علی نقرة القفاء)**يعنی دځټ په کنده کی نوپه حديث کی راغلی دی چه دسرپه کنده کی ښکرلگول نسيان پيداکوی **(فتجنبوها کلها)**داتاکيددی**(تورث النسيان)**لکه پدی ټولوکی اثارراغلی دی



**فصل: فيما يجلب الرزق وما يمنع الرزق وما يزيد في العمر وما ينقص**:

لابد لطالب العلم من القوت ومعرفة ما يزيد فيه ومايزيد فی العمر والصحة ليتفرغ طالب للسعی الی غرضه،وفی کل ذالك صنفوا کتباً فاوردت ههنا بعضها علی سبيل الاختصار؛قال رسول الله ﷺ لايرد القدر الاالدعا ءولايزيد فی العمر الاالبر فان الرجل ليحرم الرزق بالذنب يصيبه - ثبت بهذا الحديث ان ارتکاب الذنب سبب حرمان الرزق خصوصاً الکذب فانه يورث الفقر وقدورد فيه الحديث خاص وکذا نوم الصبحة يمنع الرزق وکثرة النوم يورث الفقر وفقد العلم ايضا؛قال القائل

سرور الناس فی لبس اللباس ٭ وجمع العلم فی ترك النعاس

**وقال بعضهم**

اليس من الخسران ان لياليا ٭ تمر بلانفع وتحسب من عمری

**وقال اخر**

اقم الليل يا هذا العلك ترشد ٭ الی کم تنام الليل والعمر ينفد

والنوم عرياناً والبول عرياناً والاکل جنباً والاکل متکئاً علی جنب والتهاون بسقاط المائدة وحرق قشر البصل والثوم وکنس البيت بالمنديل وکنس البيت فی الليل وترك القمامة فی البيت والمشی قدام المشايخ ونداء الابوين باسمهما والخلال بکل خشبة وغسل اليدين بالطين والتراب والجلوس علی العتبة والاتکاء علی احدمصراعی الباب والتوضؤ فی المبرز وخياطة الثوب علی بدنه وتجفيف الوجه بالثوب والتهاون بالصلوة واسراع الخروج من المسجد بعد صلوة الفجر والابکار بالذهاب الی السوق والابطاء بالرجوع منه وشراء کسيرات الخبز من الفقراء والسوال ودعاء الشر علی الولد وترك تخمير الاوانی واطفاء السراج بالنفس کل ذالك يورث الفقر عرف ذالك بالاثار

**ترجمه**: فصل دی په بيان دهغه اسبابوکی چه انسان ته رزق راکاږی اوهغه اسباب چه رزق منعه کوی اوپه بيان دهغه شی کی چه عمرزياتوی اوعمرکموی: دطالب العلم لپاره ځان قوی کول اودهغه شی پيژندل ضروری دی چه په عمراوصحت کی زيادت راولی ترڅودعلم طلب کولولپاره مکمل فارغ شی اوپدی هره موضوع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

باندی علماؤ کتابونه ليکلی دی چه دلته زه دهغی نه بعضی په مختصره طريقه باندی ذکرکوم

رسول الله ﷺ فرمايی چه تقديرهيڅ شی نه واپس کوی مگردعايی واپس کوی اونيکی کول په عمرکی زيادت راولی ځکه سړی دگناه په سبب باندی دهغه رزق نه چه ده ته رسيږی محرومه کيږی :نوپدی حديث سره ثابته شوه چه گناه کول درزق نه دمحرومه کيدلولپاره سبب دی خصوصادروغ ويل فقراوغريبی راولی ددی په باره کی يوحديث هم راغلی دی اوهمدارنگه په سحرکی خوب کول رزق منعه کوی اوډيرخوب کول فقراوغريبی اوجهل پيداکوی لکه يوشاعروايی چه مفهوم يی داسی دی

خلکوته دلباس په اغوستلوخوشحالی ملاويږی :اودخوب په پريخودلوسره علم جمعه کيږی :اويوبل شاعروايی :چه ايادا تاوان ندی چه شپی اوورځی بی فاندی تيريږی اودعمرنه حسابيږی

اويوبل شاعروايی :چه دشپی پاځيږه ای طالبه ترڅوکامياب شی :ترڅويه دشپی خوبونه کوی اوحالانکه عمرتيريږی

په برېنډحالت کی خوب کول اومتيازی کول اودجنابت اوتکيه په حالت کی خوراک کول اوددسترخوان نه دغورځيدلوبخرکوبی عزتی کول اودبيازاواوږی پوستکی سوزول اوپه ځادرباندی کورجاروکول اودشپی کورجاروکول اوپه کورکی ليتړين جوړول اودمشرانونه په لاره کی مخکی مزل کول اوموريلارته پخپل نوم باندی اوازکول اوپه غاښونوکی لرگی وهل اوپه ختهاوخاوروباندی لاسونه مينځل اوددروازی په چوکاټ کی کيناستل اوددروازی پټ ته تکيه کول اوپه بدن باندی جامی گنډل اوپه کپړه باندی مخ وچول اوپه کوټه کی دغنی جال پريخودل اوپه لمانځه کی سستی کول اودسحرلمانځه نه روسته جومات نه په تلوارسره وتل اوسحروخته بازارته تلل اوبازارنه ناوخته راتلل اودسوال کونکی فقيرانونه دډوډی دبخرکواخستل اوبچی ته خيری کول اولوښی خيرن



پريخودل اوډيوه په پوکی باندی مړه کول نوداټول شيان فقراوغريبی راولی چه داپه اثاروسره معلومه شوی ده

**تشريح:** **(فصل فيمايجلب الرزق)** يعنی په هغه اسبابوکی چه رزق انسان ته راجلبوی **(من القوت)** ترڅوورباندی دعلم حاصلولوکی قوت حاصل کړی **(ومعرفة مايزيدفيه)** يعنی دهغه شی پيژندل چه قوت زياتوی **(ومايزيد)** يعنی ددی پيژندل ضروری دی **(وفی کل ذالک)** يعنی په مذکوره شيانوباندی **(صنفواکتبا)** چه دټولودلائل پکی بيان شوی دی **(فاوردت بعضها)** يعنی بعضی تصنيف شوی کتابونه مطلب داچه دهغی بعضی مسائل **(هنا)** يعنی پدی مختصرکتاب کی **(علی سبيل الاختصار)** هرکله چه دمصنف دهغی دبيانولواراده وه نوپه طريقی داستيناف سره يی ووبل چه **(قال رسول الله ﷺ لايردالقدرالخ)** قدرديته وايی چه دهرمخلوق لپاره خپله اندازه مقررشوی وی مثلانفعه ضررقبحه زمانه اوځای ثواب اوعذاب وغيره وغيره **(الاالبر)** يعنی احسان اونيکی کول که څوک اعتراض وکړی چه صريحی نصوص پدی باندی دلالت کوی چه نيتيه اواجل دانسان لپاره مقررشوی ده اوددينه نه کميږی اونه زياتيږی نودحديث څه مطلب شو؟

ددينه علماؤداسی جواب ورکی دی چه کله کله په لوح محفوظ کی ليکل دشرط موافق کيږی مثلاداسی ليکل کيږی که فلانی سړی نيکی وکړه نوديرش کاله عمربه يی وی اوکه نيکی يی ونه کړه نوپنځوس کاله عمربه يی وی دالله ﷻ ددی قول همدامطلب دی **يمحوالله مايشاء ويثبت** لکن داپه نسبت سره ملائکوته اوپه نسبت سره علم دالله ﷻ ته داسی ندی ځکه دالله ﷻ علم ازلی اوابدی دی په هغی کی محوه اوزيادت نه راځی **(فان الرجل)** دادحديث تتمه ده **(ليحرم الرزق)** يعنی درزق نه **(بالذنب)** يعنی په سبب دگناه کولواوليصيبه جمله په محل دنصب کی ده اويا په محل دجرکی ده اوالذنب لپاره صفت دی خوپدی اعتبارسره چه الف لام پکی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

دجنس لپاره شي نوپه عموم کي به دنکري پښان شي لکه داقول دالله تعالیٰ **كمثل الحمار يحمل اسفارا** ﴿**خصوصا**﴾ دامنصوب دی اودفعل محذوفه لپاره مفعول مطلق دی يعنی اخص خصوصا ﴿الكذب﴾ دامرفوع دی اومبتداده ﴿**يورث الفقر**﴾ دايی خبردی ﴿**وقدوردالخ**﴾ يعنی حال داچه يوخاص حديث راغلی دی هغه پدی دلالت کوی چه دروغ ويل فقرپيداکوی ﴿**وكذانوم الصبح**﴾ په ضمی دصاداوپه سکون دباسره يعنی دسحرپه وخت کی خوب کول ﴿**يمنع الرزق**﴾ ددی په باره کی حديث هم راغلی دی ﴿**تورث الفقر**﴾ يعنی دمال په اعتبارسره سړی محتاجه کوی ﴿**وفقرالعلم**﴾ يعنی جهل راولی ﴿**ايضا**﴾ يعنی دفقربالمال پشان ﴿**النعاس**﴾ يعنی خوب اودشعرمعنی ظاهره ده ﴿**وقال**﴾ يعنی يوقائل ﴿**اليس**﴾ استفهام دتقريرلپاره دی ﴿**لياليا**﴾ دليلة جمعه ده ﴿**وتحسب**﴾ دمجهول صيغه ده دحساب نه ﴿**قم الليل**﴾ يعنی دعبادت لپاره دشپی پاځيږه ﴿**ياهذا**﴾ يعنی اي طالب العلمه ﴿**لعلك ترشد**﴾ يعنی ستاد کاميابی اميدکيږی ﴿**الی كم**﴾ يعنی ترڅه وخته پوری ﴿**ينفذ**﴾ يعنی نافذيږی ﴿**علی جنب**﴾ په فتحی دجيم اوسکون دنون سره ﴿**والتهاون**﴾ يعنی په هغی کی بی پروايی کول اوهغه ضايع کول ﴿**سقاط**﴾ په ضمی دسين سره غورزيدلوته وايی ﴿**المائدة**﴾ يعنی ډوډی وغيره ورنه غورزيږی ﴿**وحرق قشرالبصل والثوم**﴾ دامعلوم شيان دی ﴿**وترك القمامة**﴾ يعنی ليتمرين ﴿**المشايخ**﴾ جمعه دشيخ ده مشرانوته وايی ﴿**ونداء الابوين**﴾ يعنی موراوپلارته ﴿**باسمهما**﴾ خکه دادتعظيم سره منافی دی ﴿**الخلال**﴾ يعنی دغاښونوخلال کول ﴿**زوجی الباب**﴾ ددروازی يوپټ ﴿**وتجفيف الوجه**﴾ يعنی دمخ لوندوالی لری کول ﴿**والتهاون بالصلوة**﴾ يعنی باالکل لمونځ نه کوی ﴿**والابتكار الی السوق**﴾ دوخته بازارته تلل ﴿**والابطآء**﴾ يعنی دبازارنه روسته راتلل ﴿**وشراء كسيرات الخبز**﴾ په ضمی دکاف اوفتحی دسين سره دډوډی تکړوته وايی ﴿**من الفقراء السوال**﴾ په ضمی دسين اوتشديدد همزی سره دسائل جمعه ده ﴿**ودعاء الشر**﴾ يعنی خيری کول ﴿**وترك تخميرالاواني**﴾ يعنی لوښی خيرن پريخودل



اويادلوښوسرنه پټول ﴿**بالنفس**﴾ په فتحوسره ﴿**كل ذالك**﴾ يعنی فقرپيداکول ﴿**بالاثار**﴾ داد اثرجمعه ده دصحابی خبرته اثروايی

**وكذالكتابة بقلم معقودوالامتشاط بمشط منكسروترك الدعاء بالخيرللوالدين والتعمم قاعدا والتسرول قائما والتقتيرو الاسراف والكسل والتوانی والتهاون فيالاموركل ذالك يورث الفقر، قال رسول الله ﷺ استنزلواالرزق بالصدقة والبكورمبارك يزيدفی جميع النعم خصوصافی الرزق وحسن الخط من مفاتيح الرزق وبسط الوجه وطيب الكلام يزيدفی الرزق**

**وعن الحسن بن علی رضی الله عنه كنس الفناء وغسل الاناء مجلبة للغناء واقوی الاسباب الجالبة المحصلة للرزق اقامة الصلوة بالتعظيم والخشوع وتعديل الاركان وسائرواجباتها وسننها واداتها وصلوة الضحی فی ذالك معروفة مشهورة وقرائت سورة الواقعة خصوصا بالليل وقت النوم وقرائت سورة الملك والمزمل والليل اذايغشی والم نشرح لك وحضورالمسجدقبل الاذان والمداومة علی الطهارة واداء سنة الفجروالوترفی البيت وان لايتكلم بكلام الدنيابعدالوترولايكثرمجالسة النساء الاعندالحاجة وان لايتكلم بكلام لغوغيرمفيدلدينه ودنياه ، وقيل من اشتغل بمالايعنيه يفوت مايعنيه قال بزرجمهر اذارايت الرجل يكثرالكلام فاستيقن بجنونه ، قال علی رضی الله عنه اذاتم العقل نقص الكلام ، قال المصنف اتفق لی فی هذاالمعنی شعرا**

*** اذاعقل المرء قل كلامه وايقن بحمق المرءان كان مكثرا ***

## وقال الاخر

*** النطق زين والسكوت سلامة فاذانطقت فلاتكن مكثارا ***

*** ماان ندمت علی سكوتی مرة ولقدندمت علی الكلام مرار ***

**ترجمه** اوهمدارنګه په مات قلم باندی ليکل کول اوپه ماته ګومنځ باندی سرږومنځول اوموراوپلارته دخيردعانه کول اوپه ناسته باندی لونګی وهل اوپه ولاړه باندی پرتوګ اغوستل اوبخل کول اوپه خرڅه کی کمی کول اوپه خرڅه کی زياتی کول اوسستی کول اوکمزوری کيدل اوپه کارونوکی سستی کول داټول شيان فقراوغريبی پيداکوی — رسول الله ﷺ فرمايی تاسودرزق دراتلوطلب په صدقه سره وکړی اوسحروخته پاڅيدل دبرکت نه ډک


Scanned with CamScanner

دی اوپه ټولونعمتونو کی زیادت راولی خصوصاپه رزق کی ډیرزیادت راولی اوښایسته خط لیکل درزق دکونجی ګانوسبب دی اوپراخه تندی اوپه خوشحالی باندی خبری کول په رزق کی زیادت راولی :دحسن بن علی رضی الله عنه نه روایت شوی دی چه دکورداویلی جاروکول اودلوښومینځل مالداری راولی :

اوقوی سبب درزق حاصلولولپاره دلمونځ اداکول دی چه په خشوع اوخضوع سره وی اوتعدیل دارکانوپکی وشی اودواجباتواوسننواوادابوسره اداء شی اوپدی باره کی دثابت لمونځ مشهوردی اودسورة واقعی لوستل خصوصادشپی دخوب په وخت کی اودسورة ملک اولیل اومزمل اوانشراح لوستل اوداذان نه مخکی مسجدته تلل اوهمیشه په اودس کی اوسیدل اودسحرسنت اووترپه کورکی کول اودوترونه روسته دنیاوی خبری نه کول اودضرورت نه غیردښخوسره ډیرکیناستل اوداسی لغوه خبری نه کول چه په دنیااواخرت کی یی فائده نه وی نوداټول درزق سببونه دی

اوعلماؤویلی دی چه څوک په بی مقصده کارکی مشغوله شی نومقصدی کارونه ورنه پاتی شی دنوشیروان وزیربزرجمهروایی چه کله دی داسی سړی ولیدوچه ډیری خبری یی کولی نودده په لیونتوب باندی یقین وکړه علی رضی الله عنه فرمایی چه کله عقل پوره شی نوخبری کمیږی مصنف رحمه الله وایی پدی باره کی ماته یوشعرذهن ته راغی چه مفهوم یی داسی دی :کله چه دسړی عقل پوره شی نوخبری یی کمیږی :اودهغه چاپه کم عقلتیاباندی یقین وکړه چه ډیری خبری کوی :اویوبل شاعروایی چه خبری کول دسړی لپاره ښایست دی اوچپ کیناستل سلامتیاده :کله چه خبری کوی نوډیری خبری مه کوه په سکوت باندی زه یوځل هم نه یم پښیمانه شوی :اوپه خبروباندی ډیرځل پښیمانه شوی یم

**تشریح:** (وکذا) یعنی دتیروشوشیانوپشان په فقرپیداکولوکی (بمشط) په ضمی دمیم سره (منکم) داپه روایت شوی حدیث باندی



ثابت دی (والتعمم) یعنی پټکی وهل (والتسرول) یعنی پرتوګ اغوستل (والبخل) یعنی دفقیرانومال منعه کول (والتقتیر) یعنی په خرچه کی کمی کول (والاسراف) دادتقتیرضددی (والتوانی) یعنی ضعف اوکمزوری کیدل :هرکله چه مصنف رحمه الله دهغه اسبابونه فارغه شوچه هغه فقرپیداکوی نواوس هغه اسباب ذکرکوی چه مالداری پیداکوی نووایی (قال استنزلوا الرزق) یعنی درزق دنزول طلب وکړی (بالصدقة والبکور) یعنی سحروخته پاڅیدل (من مفاتیح الرزق) یعنی درزق دراخلاصیدواسباب دی لکه په اثرکی راغلی چه علیکم بحسن الخط فانه مفاتیح الرزق (وبسط الوجه) یعنی دمخ اوتندی کولاووالی (وطیب الکلام) یعنی په خوشحالی اوپه نرمی سره خبری کول (کنس الفناء) یعنی دکورمخه جاروکول (وغسل الاناء) یعنی هغه لوښی چه دخوراک لپاره استعمالیږی یانورلوښی وی (مجلبة للغنی) په کسری دغین اوپه قصرسره دفقرضدته وایی اومجلبة په فتحی دمیم اوسکون دجیم سره دجلب نه مصدردی یعنی درزق دراښکلوسبب (والخشوع) خشوع احتیاج تواضع خضوع اونرمی اوانقیادته وایی ددی وجی نه علماء وایی چه خشوع په اندامونوباندی کیږی اوخضوع په زړه باندی کیږی (وتعدیل الارکان) یعنی په رکوع اوپه سجده کی داندامونوارامولی اوددوی په مابین کی ودریدل اودسجدوپه منځ کی ناسته کول (وسائرواجباتها) یعنی ټول واجبات اوتعدیل یی داهتمام دوجی نه مستقل ذکرکړوسره ددی نه چه په واجباتوکی داخل دی ځکه ډیرخلک پدیکی توجه نه کوی اوابراهیم نخعی وایی چه کله موداسی سړی ولیدوچه په رکوع اوپه سجده کی یی تلوارکولونودده په بچوباندی رحم وکړی ځکه دوی فقیران دی :ذکره فی الروضة (فی ذالک) یعنی مالداری په راوستلوکی (معروفة مشهورة) لکه دابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دی انه قال ان الله تعالی یقول یاابن ادم اکفنی اول النهار باربع اکفك بهن امریومك داربع نه مراددڅاښت لمونځ دی اوددی په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

فضیلت کی ډیر حدیثونه اغلی دی ﴿على الطهارة﴾ یعنی په اودس باندی ﴿واداء سنته﴾ لکه رسول الله ﷺ فرمایی من صلی سنة الفجر فی بیته یوسع له الرزق ویقل المنازعة بینه وبین اهله ویختم له بالایمان. ﴿الاعند الحاجة﴾ یعنی د ښخو سره کیناستل ﴿لمالایعنیه﴾ یعنی بی مقصده ﴿یفوته﴾ یعنی د دغه سړی نه ﴿مایعنیه﴾ یعنی مهم اومقصدی کار ﴿﴿قال بزرجهر﴾ دا د نوشیروان وزیرؤ او ډیر عاقل اوهوښیار سړی ؤ ﴿فاستیقن بجنونه﴾ یعنی دده په لیونتوب باندی یقینی فیصله وکړه ځکه عاقل سړی خپل وخت نه ضائع کوی ﴿نقص الخ﴾ یعنی خبری یی کمیږی ﴿وایقن﴾ دا د ایقان نه دی یعنی د سړی په حماقت باندی یقین وکړه ﴿ان کان مکثرا﴾ یعنی که ډیری خبری کوی اوپه بی فائدو شیانو کی خبری کوی ځکه دا قیمتی عمر په خرابو باندی ضائع کوی ﴿النطق زین﴾ یعنی د سړی لپاره خائست دی ځکه په خبرو سره دانسان امتیاز د نورو ښکارونه راځی اوهوښیار سړی د جاهل نه په خبرو کولو سره جدا کیږی ﴿والسکون سلامة﴾ ځکه په خبرو کولو کی خطری دی اوپه سکوت کی سلامتیا ده ﴿فاذا نطقت﴾ په تا خطاب سره ﴿فلاتکن مکثارا﴾ ځکه ډیری خبری کول په عقل کی سترپارا ولی ﴿ما ان ندمت﴾ ما نافیه ده او ندمت صیغه د مخاطب ده یعنی ته په سکوت سره یوځل هم نه یی پښیمانه شوی ﴿ولقد ندمت﴾ یعنی په خبرو کولو سره ډیر ځل پښیمانه شوی یی مثلاً داسی وایی چه ما دا خرابه خبره نده نو معلومه شوه چه سلامتیا په سکوت کی ده

وممایزید فی الرزق ان یقول کل یوم بعد انشقاق الفجر الی وقت الصلوة سبحان الله العظیم سبحان الله وبحمده استغفر الله واتوب الیه مأة مرة وان یقول لا اله الا الله الملك الحق المبین کل یوم صباحا ومساء مأة مرة وان یقول بعد الفجر کل یوم الحمد لله وسبحان الله ولا اله الا الله ثلاثا وثلاثین مرة وبعد صلوة المغرب ایضا ویستغفر الله سبعین مرة بعد صلوة الفجر ویکثر من قول لا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم والصلوة علی النبی ﷺ



ویقول یوم الجمعة سبعین مرة اللهم اغننی بحلالك عن حرامك واکفنی بفضلك عمن سواك ویقول هذا الثناء کل یوم ولیلة انت الله العزیز انت الله الملك القدوس انت الله الحلیم الکریم انت الله الخالق الخیر والشر انت الله خالق الجنة والنار عالم الغیب والشهادة عالم السر واخفی انت الله خالق کل شئ والیه یعود کل شئ انت الله دیان یوم الدین لم تزل ولا تزال انت الله لا اله الا انت الله الاحد الصمد لم یلد ولم یولد ولم یکن له کفوا احد انت الله لا اله الا انت الرحمن الرحیم انت الله لا اله الا انت الملك القدوس السلام المؤمن المتکبر لا اله الا انت الله الخالق البارء المصور له الاسماء الحسنی له ما فی السموت والارض وهو العزیز الحکیم

**ترجمه**: اوهغه شی چه په رزق کی زیادت راولی نو هره ورځ د سبا راختونه د لمانځه وخت پوری دا دعا سل ځله ویل دی سبحان الله الخ پاکی ده هغه الله لره چه لوی دی او پاکی ده الله لره سره د حمدونو نه زه الله نه بښنه غواړم او الله ته رجوع کوم او هره ورځ سحر او ماښام دا دعا سل ځله ویل دی لا اله الا الله الخ نشته دی بل اله مګر یو الله دی چه مالک دی او حق دی او ښکاره دی او هره ورځ به د سحر لمانځه نه روسته دا دعا دری دیرش ځله وایی الحمدلله وسبحان الله الخ ټول د الوهیت صفتونه الله لره دی او الله د هر قسم غیب نه پاک دی او د الله نه غیر بل حاجت روا او مشکل کشاد نشته دی او د ماښام لمانځه نه روسته به هم همدا دری دیرش ځلی وایی او د سحر لمانځه نه روسته به اویا ځله د الله نه بښنه غواړی او دا دعا به ډیره وایی چه لاحول ولا قوة الا بالله الخ یعنی د ګناه نه بچ کیدل او نیکی کول د الله د توفیق نه غیر نه کیږی چه هغه اوچت او لوی ذات دی او په رسول الله باندی به درود ډیر زیات وایی او د جمعی په ورځ به اویا ځلی دا دعا وایی اللهم اغننی الخ یا الله د حلال رزق په وجه باندی ما د حرامونه بی پرواکړه او ستا فضل ما ته د نورو شیانو نه کافی وګرزوه او هره ورځ به د الله دا ثنا وایی انت الله العزیز الخ ته هغه ذات یی چه زورور یی او د حکمت والا او ته هغه الله یی چه بادشاه یی او پاک یی او ته هغه الله یی چه صبرناک او عزتمند ذات یی او ته هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

الله يې چه دخيراوشرپيداكونكى يې اوته هغه الله يې چه دجنت
اوداورپيداكونكى يې په غيب اوښكاره شيانوباندى پوه يې په
رازونوباندى اوپه پټوشيانوباندى عالم يې اوته هغه الله يې چه
دهرشى پيداكونكى يې اوتاته به هرڅه واپس كيږى اوته هغه الله يې
چه دقيامت په ورځ به قاضى اوفيصله كونكى يې هميشه يې
اوهميشه به وې اوته هغه الله يې چه تانه غيربل اله نشته ته هغه الله
يې چه يوېې اوخلك تاته محتاجه دى نه چانه پيدادى اونه دده نه
څوك پيدادى اوهيڅوك ورسره هم مثل نشته ته هغه الله يې چه تاته
غيربل اله نشته اوته خاص اوعام مهربانه يې اوته هغه الله يې چه
تانه غيربل معبودنشته دى بادشاه يې اوپاك يې دسلامتياخاوندېې
اوربښتياويونكى يې اولويى كونكى يې اوتانه بل اله نشته دى ته
پيداكونكى يې اوشكل وركونكى يې اوالله لره ښايسته ښايسته
نومونه دى اودځمكى اواسمان مخلوقات يې پاكى بيانوى اوالله
زورور اودحكمت والاذا ت دى

**تشريح:** (وما الخ) يعنى دهغه اسبابونه چه رزق زياتوى (ان
يقول الخ) ځكه پدى كلام كى تسبيح هم شته حمداواستغفاراوتوبه هم
پكى شته اوپه قرانكريم كى استغفارويونكوسره دمال دزيادت
وعده شوى ده لكه الله ﷻ فرمايى **استغفروا ربكم انه كان غفارا يرسل السماء
عليكم مدرارا ويمددكم باموال وبنين** الايه (صباحا ومساء) يعنى
دسحراوماښام په وخت كى (ايضا) يعنى درى ديرش
كرته (ويستغفر) دامنصوب دى اوپه ان يقول باندى عطف دى
(ويكثر) په نصب سره داكثارنه دى (من قول لا حول الخ) يعنى دالله
دنافرمانى نه راګرزيدل اودالله په تابعدارى باندى قوت دالله په
توفيق باندى حاصليږى (والصلوة على النبى ﷺ) دامجروردى اوپه لا



حول باندى عطف دى يعنى په نبى ﷺ دى ډيردرورودوايى
(اغننى) په فتحى دهمزى سره داغنانه دى (عن حرامك) يعنى دهغه
شيانونه چه تاحرام ګرزولى دى (واكفنى) دكفايت نه دى (بفضلك عمن
سواك) يعنى په خپل فضل سره ځماكافى شه داحتياج نه (العزيز) يعنى
غالبه ذات دى لكه عرب وايى عزداپه هغه وخت كى وايى چه كله
غالبه شى نورجعه يې قدرت ته كيږى اوچاداهم ويلى دى چه
عزيزعديم المثل ته وايى يعنى هغه ذات چه مثل يې نشته دى
نوبيابه عزيزدالله دتنزيهى نومونه شى (الحكيم) يعنى دحكمت
خاونددى اوحكمت دشى په حقيقت باندى پوهيدلواومناسب
كاركولوته وايى اوچاداهم ويلى دى چه حكيم دمحكم په معنى سره
دى اومحكم دتقديراوتدبيركلكولوته وايى نوداول قول مطابق
حكيم ددوه وصفونونه مركب دى چه يوذاتى صفت دى اوبل فعلى
دى اوددوهم مطابق يې رجعه قدرت ته كيږى اوچاويلى دى چه داپه
حاكم كى مبالغه ده يعنى هغه حاكم دى چه فيصله يې نه واپس
كيږى اونه يې حكم وروسته كيږى نورجعه يې قوت ته كيږى
(الملك) يعنى دبادشاهى خاوند دى مرادورنه قدرت دى لكه عرب
وايى فلان يملك الايقاع بكذا: داهغه وخت كى وايى چه كله
ورباندى قادرشى نوبيادى نوم رجعه قدرت ته كيږى
(القدوس) يعنى دعيبونونه پاك دى اوچاداهم ويلى دى چه قدوس
هغه ذات ته وايى چه خيالونه اوسترګى دهغى ادراك نشى كولى
نودادواړووجونه صفتونه سلبى شوه (الحليم) يعنى هغه ذات دى چه
دغصى ددوجى نه په زرعذاب وركولوباندى نه باعث كيږى اودچانه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

زرانتقام نه اخلی بلکه دهرېوشی لپاره يی اندازه مقررکړی ده اوهغی ته به رسيږی نوددی صفت رجعه تنزيه ته کيږی (الکريم) يعنی هغه بهتره ذات دی چه بغيردغوستلونه ورکړه کوی اوچاداهم ويلی دی چه کريم عفوه کونکی ته وايی يعنی په عذاب ورکولوسره بدله نه اخلی اوچاداهم ويلی دی چه کريم هغه ذات ته وايی چه دنقائصواوعيبونونه پاک وی لکه خلک وايی کريم الاموال نفائسهااوانګوروته هم خکه کرم وايی چه داپه ټولوميوکی غوره ميوه ده اوپه اسانه شکول کيږی اوازغی ورکی نشته په خلاف دکجوری (عالم الغيب) يعنی چه دحواسونه غايب وی (والشهادة) يعنی کوم شی چه ورسره حاضروی (عالم السرواخفی) يعنی چه درازنه هم پټ وی لکه په زړه کی څه شی تيريدل (انت الله الکبير) کبيردصغرضددی اوداوړه داندازی په اعتبارسره جسمونوکی استعماليږی لکن داوچتی مرتبی لپاره هم استعماليږی لکه الله ﷻ فرعون نه حکاية نقل کوی اووايی انه لکبيرکم الذی علمکم السحر اوالله ددوهمی معنی په اعتبارسره کبيردی اوپدی اعتبارسره چه الله په ټولوموجوداتوکی کامل اواشرف دی نودادی حيثت نه دی چه الله باالذات دټولوجهتونونه واجب الوجوددی اودالله نه ماسواټول مخلوق حادث دی اودحاجت اوافتقارپه محل کی پراته دی اوپدی اعتبارسره چه الله دحواسواودعقل دادراک نه کبيردی نودالله دتنزيهی صفتونونه دی (المتعال) داپه علی کی مبالغه ده يعنی دعيبونونه ډيراوچت دی (واليه) يعنی دالله ﷻ حکم ته (ديان) دديان معنی قهاراوقاضی دی اوهغه جزاورکونکی ته وايی چه هيڅ عمل



نه ضائع کوی بلکه دښه اوبدعمل دواړوبدله ورکوی (لم تزل) په ماضی کی (ولاتزال) په راتلونکی کی (انت الله الاحد) يعنی په صفاتوکی واحدیی چه هيڅوک درسره پکی شريک نشته دی (الصمد) يعنی ته سيديی اوصمدورته خکه وايی چه خلک په حاجتونوکی اوتکليفونوکی الله ته رجوع کوی اوچاداهم ويلی دی چه صمدهغه ذات ته وايی چه په درجه کی اوچت وی (انت الرحمن الرحيم) دادواړه اسمونه درحم نه دمبالغی لپاره دی لکه غضبان دغضب نه اورحمت په لغت کی دزړه نرموالی ته وايی چه داتقاضاداحسان اومهربانی کوی اودالله داسمونواوصفتونوغانی معنی مرادوی چه فعل دی اومبادی يعنی انفعال ورنه مرادنه وی نودالله درحمت نه مرادياداانعام اراده کول دی په مخلوق باندی نوياذاتی صفت شواوياورنه نفس انعام مرادوی نوبيايی رجعه فعلی صفتونونه کيږی اوپه رحمن کی درحيم نه مبالغه زياته ده خکه په رحمن کی حروف زيات دی اوددينه کله کله کميت مرادوی لکه يارحمان الدنياخکه رحمت په دنياکی مؤمنانواو کافرانو دواړوته عام دی ورحيم الاخرة اوداخکه چه داخرت رحمت يواخی مؤمنانوپوری خاص دی

اوکله کله ورنه کيفيت مرادوی لکه وايی يارحمن الدنياوالاخرة ورحيم الدنيااوداخکه چه داخرت نعمتونه ټول پوره دی اودد نيانعمتونه ټول حقيراوکم دی نورحمن معنی حقيقی نعمت ورکونکی اوپوره رحم کونکی اوعام احسان کونکی دی ددی وجی نه درحمن اطلاق دالله نه غيرپه بل چاباندی نه کيږی (السلام) يعنی

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

مطلقادعیبونونه پاک دی برابره خبره ده که په ذات کی وی اوکه په صفاتو کی وی اوچاداهم ویلی دی چه سلام هغه ذات ته وایی چه په دنیااواخرت کی سلامتیاورکوی نوداول قول په بناالسلام صفت سلبی شواودوهم قول په بناالسلام صفت فعلی شو (المؤمن) یعنی دد کوم شی نه چه خبرورکوی په هغه شی کی رښتونی دی مثلا پدی ایت کی وحدانیت شهد الله انه لا اله الا هو اویالکه پدی قول سره دخپل پیغمبرتصدیق کوی محمد رسول الله نوداکلامی صفت دی اوچاداهم ویلی دی چه مؤمن هغه ذات ته وایی چه دقیامت په ورځ خپلو بندګانوته امن ورکوی لکه الله ﷻ فرمایی ان لا تخافوا ولا تحزنوا اویاداچه امن اواطمنان یی پیداکړی دی نورجعه یی یاصفت فعلی ته کیږی اویاکلامی ته کیږی (المهیمن) یعنی پوره ساتونکی دی لکه عرب وایی هیمن الطیرداپه هغه وخت کی وایی چه کله دخپل بچی دحفاظت لپاره ورباندی مورخپلی وزری خوری کړی (الجبار) داجبرنه دمبالغی صیغه ده اوپه اصطلاح کی په وهلوباندی دیوشی اصلاح کولوته وایی اوجبرالعظم هم ددینه ماخوذدی لکه علی ؓ فرمایی یاجابرکل کسیرومسهل کل عصیر اوچاداهم ویلی دی چه جبرپه معنی داکراه سره دی لکه عرب وایی اجبره السلطان علی کذاداپه هغه وخت کی وایی چه کله ورباندی اکراه وکړی نودداړومعناګانورجعه صفت فعلی ته کیږی (المتکبر) یعنی لوی دی اودکبرخاوند دی اودمخلوق دصفتونونه پچت دی (البارء) باری هغه ذات ته وایی چه مخلوق په مختلفوشکلونوباندی پیداکوی چه یودبل نه یی تمیزراځی (المصور) امام غزالی وایی چه خماپه ګومان دادریواړه صفتونه مرادف دی اورجعه یی خلقت اواختراع ته کیږی غوره خبره داده چه کوم شی دعدم نه وجودته راځی نورجعه یی اول ته کیږی اودهمدی تقدیرموافق ایجادکیدلورجعه دوهم ته کیږی اوپه اعتباردشکل سره یی رجعه دریم صفت ته کیږی لکه ابادی چه جوړیږی نواول یی انجنراندازه کوی بیایی جوړونکی جوړوی اوبیایی نقشه کونکی ښایسته کوی نوالله ﷻ ددی حیثت نه خالق دی چه په اندازه پیداکول کوی اوددی حیثت نه باری دی چه داایجادکونکی دی اوددی حیثت نه مصوردی چه مخلوق ته یی مختلف شکلونه ورکړی دی (له الا سماء الحسنی) اوددامعناګانوپه حسن باندی دلالت کوی (یسبح) یعنی دعیبونونه یی پاکی بیانوی (وهوالعزیزالحکیم) یعنی ټول دکمال صفتونه پکی راجمعه شوی دی

هرکله چه مصنف دهغه اسبابونه فارغ شوچه په رزق کی زیادت راولی نواوس هغه اسباب ذکرکوی چه په عمرکی زیادت راولی نووایی

**ومما یزید فی العمر ترک الاذی وتوقیر الشیوخ وصلة الرحم وان یقول حین یصبح ویمسی کل یوم ثلاثة مرات سبحان الله ملء المیزان ومنتهی العلم ومبلغ الرضاء وزنة العرش ولا اله الا الله ملء المیزان ومنتهی العلم ومبلغ الرضا وزنة العرش والله اکبر ملء المیزان ومنتهی العلم ومبلغ الرضاء وزنة العرش**

**وان یحترز عن قطع الا شجار الرطبة الا عند الضرورة واسباغ الوضوء والصلوة بالتعظیم والقران بین الحج والعمرة وحفظ الصحة ولابد ان یتعلم شیئا من الطب یتبرک بالا ثار الواردة فی الطب الذی جمعه الشیخ الا مام ابوالعباس المستغفری فی کتابه المسمی بطب النبی ﷺ یجده من یطلبه**

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

والحمدلله على التمام والصلوة والسلام على سيدنا محمد افضل الرسل الكرام

**ترجمه**: اوهغه اسباب چه په عمرکی زيادت راولی نوهغه نيکی کول دی اوخلکوته ضررنه رسول دی اودمشرانوعزت کول دی اوخپلولی ساتل دی اوهره ورځ سبااوبيګادادعاويل دی سبحان الله الخ: پاکی ده الله لره په اندازه دډکوالی داعمالودتلی اودالله دعلم په اندازه اودالله درضاپه اندازه باندی اودعرش دوزن په اندازه باندی اودالله نه غيربل اله نشته دی دميزان اودعلم اورضااودعرش دوزن په اندازه باندی اوالله لوی دی دميزان اودعلم اودرضااودعرش دوزن په اندازه باندی

اوبل داچه بغيردضرورت نه دشنوونوکټ کولونه ځان وساتی اواودس په پوره توګه باندی کول دی اوپه تعظيم اواحترام سره لمونځ اداکول دی اوحج اوعمری يوځای اداکول دی اودصحت ساتل دی اولږقدرعلم طب زده کول هم ضروری دی اودهغه اثارونه تبرک حاصلول ضروری دی کوم چه شيخ الا مام ابوالعباس مستغفری پخپل کتاب کی راوړی دی چه دهغی کتاب نوم طب نبی ﷺ دی ځوک يی چه طلب کوی نوداکتاب ورته ملاويږی اوبيداکولی يی شی

**تشريح**: (البر) احسان کول (وترك الا ذى) يعنی مسلمانانوته ضررنه رسول (وتوقيرالشيوخ) يعنی دهغوی تعظيم کول لکه په حديث کی دهغه چاسره وعده شوی ده چه ځوک دمشرانوتعظيم کوی نودهغوی دعمرپه اندازه عمربه ورکول کيږی (وصلة الرحم) لکه په حديث کی راځی چه ديوسړی عمردری ورځی پاتی شی اوداصله



رحمی وکړی نوالله ﷻ ده عمرديرش کاله زياتوی اوديوسړی عمربه ديرش کاله باقی پاتی وی لکن دابه صله رحمی نه کوی نونيته به يی دری ورځوته رالنډه شی (يصبح) يعنی چه په سباکی داخليږی (ويمسی) يعنی په شپه کی (ملءالميزان) مل په کسری دميم سره اوپه سکون دلام سره ډک لوښی ته وايی اودميزان نه مراددعمالوتله ده چه دهغی لوی والی په حديثوکی بيان شوی دی (ومنتهى العلم) په طريقی دمبالغی سره ورنه کثرت دعلم مراددی نومعنی داشوه لکه څنګه چه دالله ﷻ علم غيرمتناهی دی نوهمدارنګه تسبيح هم غيرمتناهی ده يعنی زه دالله ﷻ داسی تسبيح وايم چه هغه غيرمحدودده لکه دالله علم (ومبلغ الرضأ) يعنی دالله درضاپه اندازه (وزنة العرش) زنة مصدردی په معنی دوزن سره دی لکه عدة په معنی دوعدسره وی نوددی الفاظونه کثرت مراددی اوحداواندازه ورنه مرادنه ده (ولا اله الا الله ملء الخ) دلته هم زيادت دتسبيح اودتهليل مراددی (وان يحترزالخ) ځکه هريوشی دالله تسبيح وايی اوکله چه شنه ونه کټ شی نودتسبيح نه بنديږی ځکه داپه هغه وخت کی تسبيح وايی چه کله پخپل ډنډرباندی ولاړه وی لکه پدی باندی يواثرهم رانقل شوی دی (الا عندالضرورة) مثلا هغه پخوی وغيره وغيره (واسباغ الوضوء) يعنی داودس سنت اوادب پوره کول (والقران) په کسری دقاف سره مصدردی په معنی دمقارنت سره (وحفظ الصحة) يعنی چه خپل صحت په هلا کت کی واقع نکړی اوديخ والی اوګرموالی نه ځان وساتی خلاصه داچه اسباب دصحت په عمرکی زيادت راولی (من الطب) يعنی هغه علم طب چه دانسان دبدن احوال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

(او کتابه) گویا چه یکی بیانیږی د صحت او بیمارۍ په اعتبار سره (او کتابه) گویا چه یو سائل وویل چه داکتاب په موضوع کوم ځای نه پیدا کړو نو جواب یې ورکړو او ویې ویل (یعده من جملته) او دا مشهور کتاب دی او د علماؤ په نزد معتبر کتاب دی نو طالب العلم له یکاردی چه داکتاب راپیدا کړی او د هغه اثار او احادیثو نه فائده واخلی کوم چه هغی کتاب کی ذکر دی

**الحمد لله علی اتمامه والصلوة والسلام علی سیدنا محمد افضل الرسل الکرام**

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner




Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner